# د شلمي پېړۍ
# افغان رژيمونه او واکمنان



ای وطنه!

هره پښتنه دي ملاله هر زلمی دي خوشحال خان دي
هر بچی دي ځيره توره هم غيرت هم دي ايمــان دي

همیش خلیل

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شلمي پيړۍ افغان رژيمونه او واکمنان

ای وطنه

هره پيغله دي ملاله هر زلمي دي خوشحال خان دي
هر بچی دي ځيره توره هم غيرت هم دي ايمان دي

( هميش خليل)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړ لیک

**سرلیک** **مخ**

پیلامه
**لومړی فصل** عمومیات........................................... ۱
جهان کشائي ................................................. ۴
افغانستان کي ادیان.............................................. ۸
زرتشت ........................................................ ۹
یهودیت........................................................ ۱۲
افغان او اسلام................................................... ۱۶
مرئیتوب ....................................................... ۱۸
استعمار امپریالیزم................................................. ۲۱
**دوهم فصل** غازیان او انګریز........................................ ۲۴
د افغان او انګریز لومړي جګړه....................................... ۲۵
دوهمه جګړه..................................................... ۲۹
ډیورند......................................................... ۳۰
د ډیورند حقوقي ارزښت............................................. ۳۲
عجب خان افریدي.................................................. ۳۵
د انګریز او افغان دریمه جګړه ....................................... ۳۶
**دریم فصل** نوي ایدیولوژی مارکسیزم.................................. ۳۹
فاشیزم.......................................................... ۴۶
تروریزم......................................................... ۴۹
اسلامیزم........................................................ ۵۱
د دیني علماو نقش................................................. ۵۵
۱۹ـ ۲۰ پیړي او د ملا نقش.......................................... ۵۸
د حقانیه مدرسه................................................... ۶۱
**څلوم فصل** اسلامي نړي............................................ ۶۲
ترکیه جمهوریت................................................... ۶۵
ایران جمهوریت................................................... ۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

هند جمهوريت ........................................................ ۷۱
پاکستان جمهوريت ................................................... ۷۴
سيد اکبر............................................................. ۷۸
**پنځم فصل** افغان مهاجر او مجاهد.............................. ۷۹
افغان مجاهد.......................................................... ۸۳
پاکستان ترهګريز سياست ........................................... ۸۵
**شپږم فصل** پاچهي نظامونه.................................... ۸۹
د هيواد اساسي قوانين.............................................. ۹۰
مشروطه خواهان..................................................... ۹۱
لومړی اساسي قانون................................................ ۹۴
بي قانونه واکمني (سقاوي)........................................ ۹۶
اصولنامه اساسي..................................................... ۹۹
سياسي خوځښتونه .................................................. ۱۰۱
**اوم فصل** انقلابي نظامونه د افغانستان اساسي قوانين............... ۱۰۳
د چنګاښ ۲۶ مه .................................................... ۱۰۵
د افغانستان د جمهوريت اساسي قوانين............................. ۱۰۶
د غوائي د انقلاب انګيزه........................................... ۱۰۹
د غوائي اومه........................................................ ۱۱۱
امين.................................................................. ۱۱۲
مرغومی شپږمه...................................................... ۱۱۳
د افغانستا ديموکراتيک جمهوريت اساسي اصول.................... ۱۱۶
دشوريانو وتل........................................................ ۱۱۹
د افغانستان دجمهوريت اساسي قانون.............................. ۱۲۰
د پروليتاريا اصلي ځيره.............................................. ۱۲۲
**اتم فصل** اسلامی نظامونه .... ................................. ۱۲۵
استاد رباني........................................................... ۱۲۶
د طالب پيدايښت..................................................... ۱۳۲
اسلامی امارت....................................................... ۱۳۶
ديني عالمان........................................................... ۱۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا او ښځه........................................................۱۴۵
د سپټامبر یولسمه..................................................۱۵۵
د لوي ملا وروستي شيبي........................................۱۵۹
بن لادن..............................................................۱۶۲
**نهم فصل** قانونی نظامونه د بن کنفرانس ..............................۱۶۶
د کرزی اداره......................................................۱۶۹
د افغانستان اسلامی جمهوریت اساسی قانون...............۱۷۳
په نظام کي چالشونه.............................................۱۷۵
داکتر محمد اشرف غني.........................................۱۷۷
د غني اداره........................................................۱۸۰
د ولسمشر او ملی شورا اړیکي.................................۱۸۳
یوه کیلی ایی وزیران.............................................۱۸۵
غنی او قضا.........................................................۱۸۶
پټ تړون.............................................................۱۸۷
د بمونو مور ......................................................۱۸۸
داکتر غني او ډیورند ..........................................۱۸۹
د غنی سیاسي تگ لاره .........................................۱۹۰
مالی فساد .........................................................۱۹۱
د لبناني شرکت خطیب عالمي ...............................۱۹۲
۱۸ ډوله غوښي.......................................................۱۹۵
اخلاقی فساد.......................................................۱۹۹
**لسم فصل** د دوحي کنفرانس......................................۲۰۲
د دوحي تړون.....................................................۲۰۳
د اگست ۱۵ مه....................................................۲۰۸
اسلامي امارت.....................................................۲۰۹
طالباني شریعیت...................................................۲۱۴
د پاک ستراتیژي .................................................۲۱۵
نیابتي جگړه........................................................۲۱۶
د فساد لست.......................................................۲۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شـــلــــمی پېړی افغان رژیمونه او واکمنان


لیکوال: خادم حسین کم اندیش

دیزاین: مهدی حقبین کم اندیش

جلد: لومړی چاپ

مطبعه: مشهد/ خیابان فرش فروشی

کال: ۱۴۰۰/۲۰۲۱ هه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مناجات

الـهی ! بنده عـاجـرم پناهـم ده در تحت سایه کرمت جاهم ده

قوت ایمانم بخش شرمنده ام مساز

**سیما الکو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# پيـــلامه

شلمه پيړی د بدلونونو، انقلابونو، جګړو پرمختياو او د اختراعو دوران ؤ، اتم بمب او هايدروجن اختراع شو روسی پيلوټ ګاګارين سپوږمی ته پورته شو امريکائي هوا نوردي اداره ناسا (امريکا) نورهم په فضا کی پرمختګ وکړ.
د دي تاثيراتو څپی تر افغانستانه هم را ورسيدي، اتم پر يوريشيما و غورځول شو مورئي د شينوارو پر اچين وغورځول شوه، دوه نړيوالي جګړي منځ ته راغلي، ځيني هيوادونه خپلواکي ته ورسيدل.

د نولسمي پيړي او شلمه پيړيو کي د اپرياليزم په څنګ کي فاشيزم وزيږدي، کمونيزم، اسلاميزم، نړی د جګړو سره مخ کړه.
نړی دوه قطبي شوه پوځی پکتونه رامنځ شوه سړه جګړه توده شوه، د ملګرو ملتونو موسسه تشکيل شوه ICC (نړيواله جنائي محکمه) جوړه شوه په افغانستان کي د مشروطه خواهانو غورځنګ راپورته شو، وروسته بيا په ويښ ځلميانو بدل شو. خلقيان او اخوانيان پيدا شول، خپلواکي لاس ته راغله، کودتاګانی او انقلابونه راغلل،
پاچهي په جمهوری ووابښتل، دري پاچايان او پنځه مشران د کور د ننه ووژل شول. او کودتاګان وشوي ، لکه په مصر ، عراق ،سوريه ، يمن کي د ايران ناکامه شول، دوکتور مصدق بندي شو.
د هيواد ځيني مشران او پاچاهان لکه شاه شهيد، شاه شجاع، امير شهيد (حبيب الله سقاو) اعليحضرت شهيد نادرخان، سردار شهيد (داوودخان) ، د سولي شهيد ( استاد ربانی) او نور محمد ترکي هم ارګ کی ووژل شو خو څوک ورته شهيد نه وائي او حبيب الله سقاو هم په ارګ کي ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ولسمشران:** سردار محمد داوود خان، نورمحمد ترکي، حفیظ الله امین، داکتر نجیب، استاد برهان الدین ربانی ووژل شول او ملا محمد عمر او داکتر محمد اشرف غنی احمدزی په تیښتي بریالي شول.

ژر ژر پاچا ګردشی شوه اوه ځلي اساسي قانون بدل شو. دا کتاب چي مخ پر ختمیدو دي دري اوني وړاندي طالب بیا واکمن شو هغه به بل قانون راباسي. دا کتاب د نظر د خاوندانو له نظره نیمګړتیا به لري مګر لوستونکی به نوري مطالعی ته د بشپړ معلومات د پاره وهڅوي، د هیواد د تاریخ یوه څنډه ده. کوم هیوادونه چي افغانستان سره لړ او ډیر اړیکي درلودلي دي، هم ورته لنډه اشاره شویده په ځینو ځایونوکي د مطلب سره مناسب شعرونه چی په مجموع کي شاعران د ټولني د ذهنیت ترجمانان دی ور زیات کړیدي.

**په درناوي**

**مهدی کم اندیش**
**کابل/ افغانستان ۱۴۰۰/۶/۱۵**

## اقبال لاهوری وایی

آسیا یک پیکر آب و گل است
ملت افغان در آن پیکر دل است
از حیات او حیات آسیا است
از ممات او ممات آسیا است

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی فصل
# عموميات

انسانان د لومړنيو نه د خالق او څښتن تعالی په لټه کي ؤ، چی د نړي او د ژوند مالک څوک دي. پر وحدانيت معتقد، انسان خلقت د بابا آدم او حوا نه بولي.
داروين بل نظر لري، داروين ملايکي او شيطان نه منی مګر مسلمانان سربيره پر دي چه ملايکي منی د شـــيطان پر موجوديت هم باور لري. او د هر کار په شروع کی اعوذ باالله من الشيطان الرجيم وائي.
دا به منو چی کاينات ډير ستر او پراخه دي نور ستوري، سياري او مځکی هم شته.
انســانان دا منی چي نفس، شـيطان، حرص او غريزه شــته کله چي ملکيت نه ؤ هرڅه د ټولو وو، نه قباله وه نه حجت.
انګلس او کـارل مـارکس هم پدی نظر دي چی بـايد هر څـه اشــــتراکيه وي چی ملکيت نه ؤ دعوا هم نه ؤ. د هيوادونو تر منځ سـرحد نه ؤ، سـرحد چی نه ؤ نو تذکره نه وه، پاسپورت هم نه ؤ. ټوله ځمکه د خدای وه او موږ ئي مخلوق ؤ.

په پيښـــوکي د انســـانانو نقش نه ؤ، نو خدايان ډير ؤ. هري ټولني ځان ته خداي ټاکلی ؤ، او ورنه ئي يو تعبير درلود.
هغه ته د خداي نوم ورکړی ؤ.
لکه د باران خداي، د دريابونه خداي د مرګ خداي، دوي به ستونزو او خواريو ورځوکي خپل خدای ته زاري کولي، مصـــران د رود نيل عبادت کاوه. د رود د طغيان وخت کي صدقه ورکول، فرعون او نمرود هم د خدايي دعوا وکړه.
حضـرت ابراهيم ع پلار آذر په خپل لاس جوړه شـو مجسـموته عبادت کاوه. تر څو د بشــر د فلاح د پاره اســماني کتابونه او انبيا مبعوث شــول. چی بشــرته د خرافات نه نجات ورکړي چي شمير يو لک او څلويشت زره ته رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي ټول همدا فلسطيني او کنعان سيمه کي پيدا شوي دي، د خدای په هر کار کي حکمت دي، چي موږ ته د دي ډېرو رهبرانو پرځای يو په وړدګ يا دايکندی کی يو يا دو پيغمبران راليږلی واي، موږ به نور هم مشکوره واي.

لومړيوکي ژوند د ښــــکار او د ځنګلونه د ميوو او دانو په راټولولو مخ ته تللی، تر ځو کرنه ئي زده کړه او ځيني حيوانات يي اهلي کړل.
د طبعيت په حکم د تودوخي او سړو سره سم يو ځاي اوبل ځاي کوچيدل. د سړو او تودخی نه سمڅو او غاروته پنا وړل، جامي يی د حيوانانو د پوستکو وي.

د ژوند د اړتياونه تجربه او زده کړی، په لاس راغلي تجربو شعور او عقل ورو ورو مخ ته تلي.
کله چه به کوچيدو ته اړه نه ليدل پاته به شــول، پدي ډول به وطني شــول، هغه ځنګل او مځکه چی د دوی او کورني معيشت ترلاسه راتلی تصرف به يی کړه.
پر وحدانيت معتقدان د آدم او حوا نه تر ميلاد (۴ نيم) زره کاله وړاندی ايمان لري چی آدم (۹۳۵) کاله ئي ژوند وکړ.
چارل داروين په بل نظر دي. چارل داروين د ځمکی پيدايښــت څلورميلياده کاله بولی او انسان پيدايښت (۷۰۰) زره کالو بولي. او عسيويت د (۲۲) پيړيو دي او اسلام د څورلسو پيړيو يهوديت (۱۳) پيړي تر ميلاد وړاندي بولي. Google
د ژوند مخ ته وړولو د پاره ئي پر بشري انرژي تکيه وه. کورني شمير بايد ډير شی د غره په لمنو کي به بيټ نيکه پاک خداي ته به دا دعا کوله:

دلته دي د غرو لمنی
زموږ کيږدي پکي پلني
دا وکړي ډير کړي خدايه
لويه خدايه! لويه خدايه
(پټه خزانه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅو کورني په قبيله قوم او بالاخره هيواد تر جوړ شو.
احتياج د ايجاد سـبب وو د نفوس د ډير والي له کبله پراخه ورشـوته اړه وه نو کمزوري کورني او قبيلی تر يرغل لاندي وی، د زور قانون وه.

د طبعي آفاتو سره مقابله اسانه نه وه، وچ کالي، سيلابونه، زلزلو او جګړو وکو چيدوته اړ ايستل چی بلي سيمي کی ژوند غوره کړي. دا کوچيدل به کله کله له جګړو سـره مل وه د يوبل سـيمه چی سـره وپيژندل شـي، نومونه ورکړه. لکه آريانا ويجه، د آريايانو ټاټوبی وه.

د سـيمي ليريوالی او لږ تماس، د اقليم توپيرونه په لهجه، رنګ او پوسـت کي تغير راوست.

د کورني، قبيلي او قومونو نه ملت جوړ شو، د سيمی نه هيوادونه سرحدونه او کرښـی کش شـوي. انسـانی حرص فعاليت ته انګيزه ورکول چی په ايديولوژی بدل شول او يرغلونه تري پيدا شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جهان کشائي

اړتیا، حرص، خودخواهی، شــهرت تـه، لوي قومونو یـا زورواکو تـه انګیزه ورکول بـاید کمزوري قومونه وځپل شــی، دا کار لږ او ډیر، ډیرو هیوادونه او قومونه کړي په تاریخ کي دا شـان (۳۳۰) کاله له میلاد وړاندی سلطان سـکندر مقدوني (یونان) د پراختیا په نیت د هند په لور وخوځیدی د افغانســتان تر پولو ورسید.

تر ډیرو سـیمو راتیراو ډیري مځکی ئي لاندي کړي، په کاپیسـا کي مخ ډب شـو دلته پاته شـو. یونان باختري تمدن بنسـټ یی کیښـود که څه هم هر څه سـاده ؤ دواړو خواو تلفات درلودل.
پـه (۱۳) پیړی یو محلی ځوان د تموچین پـه نـامه چی په چین کي مرئي په توګه خرڅ شوي ؤ او خپل وروریی د ماهي نه ورکو په ګناه ووژي.
د منګولیاد صــحرا نه راپورته چین یی وینوی، تر اروپا ورســیدی د شــاهنشــاه (چنګیز) لقب یی یوړل.

(جابه اسرار Youtube 1.1.2021)
په (۱۲۱۲) م کي پر بلخ راپورته شـو، تخار او هرات ئي قبضـه کړ ډیر کسـان ئي ووژل مغلی لښــکري هرات، بلخ، غزنی، پروان، تخار، بامیان، سـیسـتان، غور، تالقان و نیول، خو پیښور کي د ملک اختیارالدین د مقاومت سره مخ شو.

چنګیز هر مقاومت خاموشـه کړ. (افغانسـتان در مسیر تاریخ د غلام محمد غبار ۲۲۵مخ).

ډیری ضــــرر یي ورســــول او هرڅـه کي د ځان او کورني د پاره غوښــــتل .
(افغانستان در مسیر تاریخ د غلام محمد غبار تالیف ۱۸۸ مخ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چنگيز څو ميلون کســـان او گوډ تيمور دوران کی (۱۷) ميلونه انســـانان وژل شويدي . چنگيز د فتوحاتو په وخت چين کی مړ شو چی قبريی چاته معلوم ندی. هغه کسانو چی دی ئي خښ کړ، هغه هم ووژل شول.

همدا جابه اسرار (Youtube 1.1.2021)

چنگيز ډيري ښـځي او ډيري مينځياني او مرئيان ئي درلودل، وائی که مبالغه نه وي د ده د نسل تقريباً (۲۴) ميلونه کسان پاته دي.
د چنگيز د نبيري نـه گوډ تيمور ؤ چی مزدوري او په غلاو شـــهرت درلود. په ماوارالنحر کي زيږيدلی او په کال (۱۴۰۵) کي مړ شو. دی هم د تاريخ يو جابر دي چي (۱۷) ميلونه کســـان ئي د فتوحاتو په دوران کي وژلی دي. په قتل عام يی شـهرت درلود، ښارونه يی د خاورو سره برابر کړل، خو سيستان، کندهار، کابل او پيشاور کي د خلکو د مقاومت سره مخ شو صدقه ئي ورکول، شراب ئي خوړل سرونه يی وهل. (افغانستان در مسير تاريخ ۲۵۱ مخ)

تاريخ نور جابران هم ياد لري، ناپليون، ادولف هيتلر، يوسف، ستالين او نور.
دا هره لښـکرکشـی، جهان کشـائي  او فتوحات به ضـرر او تلفات او د انسـانانو وژني درلودي. د اسـلام د ظهور سـره امويان بيا عباسـيان هم پر افغانسـتان او سـيمي تـه د اســلام د ترويج پـه خطر هجوم راوړی، چی غلام محمد غبـار (افغانستان در مسير تارخ ) کتاب کي د (استيلا عرب) په نامه (۷۰ مخ) عنوان ورکړه شـويدي افغانانو اسـلام و مني، خپله خپلواکي او خپل دودونه او خپله ژبه ئي وساتل.

عبدالرحمن ابومسلم خراسانی تاريخونو په تفصيل د ده مقاومت لکه نور افغان د هر پردي مقابل ته دريدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کسان به اعياران بلل کيدل چي په ميړانه او شجاعت پيژندنل شوی، په کابل کی کاکه، کندهار کي (ځوان او پايلوچ) بلل کيده د کابل لنګر زمين يا يعقوب ليث صفاري همدي ډلي نه وو. (افغانستان در مسير تاريخ ۹۵ مخ).

ميرويس خان هوتکی د صـــفويانو ګرګين د يو بريد په ترخ کي تارومار کړ، د پردو حاکميت ئي ختم کړ.
خوشـــحال ختـک نه د مغلو اورنګزيب هم ارام نه درلود او خپلواکی ئي اعلان کړي ؤ. (همدا کتاب ۳۱۵ مخ)

نادر افشـار يا هم تر يوڅه وخته پر افغانانو حاکم ؤ چی بالاخره د خپلو افسـرانو لخوا ووژل شو. مګر ځوان افغان افسر د احمدخان په نامه د ده په رسـاله کي د نادر افشـار حرمسـراي د ده د خلکو د تيري نه وژغوري، چی کورني په مقابل کي (کوه نور الماس) ورتـه هديـه کړ. پـدي ډول د افشـــاريـانو تغر ټول شـــو. (افغانستان در مسير تاريخ ۳۵۳)

(کوه نور ) چي لاس پر لاس شو وروسته انګلستان د ملکي د سرتاج شو.
خو د افغانانو دعوا په پسی ده دا خپل ملکيت بولي.

دا جهان کشـائي افغانانو هم کړی د احمدشـاه درانی او سلطان محمود غزنوي هم د (۹۹۸-۱۰۳۰) کلونو تر منځ څوځلی پر هند بريدونه کړي ... افغانســـتان در مسير تاريخ (۱۰۵) او مشهوره بريد کی د سومنات بتان مات کړل، په نړي کي په بت شکن شهرت درلود. احمدشا دراني مرهټيان و ځپل.

د افغانسـتان نورو واکمنانو لکه غوريان، سـوريان، لوديان هم پر هند حکمراني کړيده. لوديان زر کاله د هند حکمرانان وو. لودي بهلول د همدی کورني لومړي پاچا ؤ چی په (۲۶) کلني کي خطبه پر وويل شوه. د ده د تره کونډه مستو بی بی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جګړوکي د ده څنګ ته ولاړه وه . يوتيوب په ۲۰۲۰/۱۲/۲۳ ليکی چي فريد د حسن خان زوي چی په شيرشاه سوری شهرت درلود.
په هوتکيانو نه يوازي د صـــفويانو ټغر ټول کړ. بلکه په پارس ور ننوتل، په اصفهان کي خپله شاه حسين صفوي د شاه محمود هوتکي پر سر خپل تاج کيښود او تسليم شو، هوتکی ځوان پاچا به شاه حسين ته د ادب له مخي (پلار) خطاب کاوه.

د پاچا عزت ئي خوندي وســاتي، شــاهي کورني ته مياشــتنی معاش حواله کړ. (افغانستان در مسير تاريخ ۳۴۲ مخ)
دي واکمنی د شاه اشرف په وخت کي هم دوام وکړ. (بشير احمد ريان د جون ۱۳ کال ۲۰۲۱)

چی وروسته د درانو دوران رارسيږي چي لوي افغانستان جوړ وی.
چي استاد اکادمسين صدراعظم سيستانی د احمد شاه بابا امپراطوري په (۱۷۴۷) کال په درنه ګوري او د (۲۰۲۱) کال په جوزا په تانند کي پدي هکله يو مســتند مضـون خپور کړي چی بايد د احمد خان د فرمانو ممنون اوشو او اعلحضرت ؤ چي د هوتکيانو وروسته يو افغاني مستقل دولت جوړ کړ، دي د اوسنی افغانستان معمار بولي، که نه داســـی کامونه اوس هم شـــته قوم لری او خاوره لري مګر دولت نلری، لکه فلسطينيان او کردان ئي مثال راوړيدي.

احمد شــاه درانی د دهلي پر تخت د يو ســتر امپراتور په ډول در دهلي پر تخت کښيناست او بيا هم د هيواد د ميني لمبه ورسره ؤ، دا به ئي ويل.

د دهلي تخت هيروم
چی را ياد د پښتونخوا د غرو سرونه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان اديان

افغانســتان کي طريقي، اديان، مذهبونه او ايديولوژي د زردشــت نه په غير چي زموږ دي، نور د بهر نه وارد شويدي، لکه د قادريه طريقت، چشتيه، اسماعليه، وهابيه، بوديزم، مارکسيزم، ان اسلام پاک دين هم د مکی شريفي نه را ورسيد. چی بالاخره افغاني رنګ پيدا کړی سياسی رهبران لکه کارمل او شاه شجاع هم د بل ځايه نه وارد شول.
انسان د خلقت د لومړيو نه چا به لمر پرستش کاوه، چا د غوايي او ځينو به رود او دريا، چا تـه بـه غوا د خداي حيثيت درلود، چا بـه په خپل لاس جوړشـــوي بوتانونه د مرســتی هيله کوله. کله کله به عاجزه بندګان چی به د واک او غرور لوړ مرحلی ته ورسيد لکه فرعون او نمرود د خدايی دعوا درلوده.
مســلمانان د انســان خلقت د بابا آدم او بی بی حوا نه بولي، خو انګليســی طبعی علوم پوهانو داروين (Charlen Darwin) په بل نظر دي.

تر څو پاک خداي د بشريت د ژغورني د پاره خپل پيغمبران او آسمانی کتابونو سره د لارښوني د پاره راوليږل، چي د دين او دنيا خير پکی دی.
د مځکی ګردش چا نـه مانه، د عوامو د پاره لنډ ځواب دا ؤ چي مځکه د غوائي پر ښـــکر ولاړه او غوائي د ماهی پر شـــا او ماهي په درياب کي دي، کله چی غوائي يو ښکر نه مځکه بل ښکر ته کړي زلزله تري پيدا شي.
راوړي چي مځکه (۴،۵) ميليارده کاله عمر لری. Google
او د انســان د پيداينـت (۳۰۰۰۰۰) کاله کيږي. آدم لومړي پيغمبر د حوا ســره جوړه انسانان ؤ، چی د انسانانو نسل تري دوام پيدا کړ، کلام الله شريف کي هم راغلی، چی د شيطان د فريب نه د جنت نه راويستل شوه، د آدم (ع) د مرګ نه ۹ ورځی وروسـته حوا هم وفات شـوه د دي په خواهش دري ملايکي راغلي دا ئي د آدم (ع) څنګ ته ښخه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آدم (ع) کوم چی په انجیل کي راغلي (۹۳۰) کاله ژوند وکړ. Google راوړي چی بابا آدم (ع) (۴ نیم) زره کاله تر میلاد وړاندي ژوند کاوه.

## زردشت

افغانان بی دینه نه ؤ، د نړي د لوي لوي ادیانو لکه زردشت او بودا پیروي وو، زردشت د بلخ د (آریانا ویجه) په سیمه کي (۱۸۰۰) کاله تر میلاد وړاندي ظهور وکړ. مقدس کتاب (اویستا) نومیدي (افغانستان در مسیر تاریخ ۹۷ مخ)

ځینی یی د پیغمبر په توګه منی، چی پیروان ئي تر سیستان او هلمنده راورسیدي رښائي خوښه ؤ Google .
پر وحدانیت او بعث بعد الموت معتقد ؤ، دا به ئي ویل: (د بیداد ګري مقابل کي برده باري، ناتواني ده. ناتواني د نابودي مقدمه. )
ګفتار نیک، کردار نیک او پندار نیک توصیه کول، دروغ ئي بد ګڼل.

ان ځینی د نوروز د بلخ جنډه بالا هم د ده دورته اړه ورکوي.
(ویجه) یو پښتو لغت دي، زرتشت په ایران کي لا اوس هم پیروان لري، زرتشت زموږ ؤ، مګر متاسفانه د ده په نامه کوم ښونځی یا پوهنتون ندي نومول شوي.

د هلمند په زمینداروکي لاتر ډیره وخته یوه لویه آتشکده ولاړ ؤ. نور ادیان چی راغلل دا دین کمرنګه شو.
په Youtube کي د Deep pod cast په (۸,۱۰,۲۰۲۱) راوړي چی زرتشت په (۷۷) کلني عمر په کال (۱۶۹۱) م وړاندي د کورني جګړو په ترڅ په عبادت بوخت په آتشکده کي ووژل شو. چی هلته په اریانا ویجه ښخ دي. دا مطلب په Youtube کي EMZ او جاوید افتاب همدا مطلب د تانند ویب سایت کي په (۲۵,۹,۲۰۲۱) هم راوړیدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بودائي او هندوايزم يو بل لوی دين ؤ چی افغانستان کي ان تراوسه پيروان لري.
او د زرتشت نه وروسته په کال (۴۸۶) کي ظهور وکړ. په نړي کي تر عيسويت او اسلام دريم لوي دين دي.
بودا يو نيپال شهزاده ؤ چی اصلی نوم ئي (ماهاتا) ؤ د حقيقت به لټه کي شو. دا ئي وويل چی ((حقيقت لکه لمر او سپوږمي نه پټيږی. خلک ئي صبر او زغم ته رابلل او هوس ئي د درد او غم سبب باله.))

بودا نه د خدائي د دعوا کړي او نه د پيغمبري. د بودا دين په هند کي يو لوي شمير پيروان لري. د هغه ځايه هري خواته وړانګی تيت شوي.
چين او جاپان کي هم ډيرو دا دين منلی دي، افغانانو هم دا دين ومني په باميان کي د بودا د بوتانو مجسمي جوړي شوي چی تراوسه شته.

ځيني افغانان د (سکانو او هندوانو) پر خپله عقيده ټينګ پاته دي.
د باميان بتان او مغاري د مذهبي او عقيدي تر څنګ پر کلتوری او تاريخي ارزښت لري.
امير المؤمنين ملا عمر په (۱۱,۳,۲۰۰۱) نيتي د بتانو په توپ کي د الوزولو فرمان ورکړ کوم چی ده پدي هکله پر خپل خوب ليدلو باور دا حکم ورکړ.

چی دا کار نړيوال مشهوره بت شکن سلطان محمود غزنوي و نه کړي.
بت پرستی زما د پلار او نيکه ګانو عقيده ؤ زه د هغو د عقيده سپکاوی نه غواړم. که څه هم زه اوس په بل دين يم.

دلته ځای دی، فرشته جلالزي دا تانند په (۲۵,۱۱,۲۰۲۱) هغه بيان راوړم :
چی سناتوري داکتر انار کلی هنرياري سره په هغه بحث کي چي د هند پوښتنه تري کړي وه چی د هنرياري د کلک ځواب سره مخ شوه ورته وويل:
کله چی عربي ځپي راغلي موږ افغانانو مقاومت وکړ خپل دين مو وساتي، تاسی تسليم او د دين مو بدل کړ اوس لا بيا د غيرت ناري وهي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انارکلی یوه بله کیسه رایاد شول چی د طالبانو کومندان موسی هوتک پر انارکلی زړه بایلاوه، دائي اړه کړه چی واده ورسره وکړي. دي د مجبوریت له مخی ومنل د هوتک شرط دا ؤ چی دا باید مسلمانه شي . مګر دي ته د دین نه ګرځیدل سخت ؤ . د کورني سره پلخمري ته کډه شوه.
که د هوتک مینه ریښتیا واي باید سندر وهلي واي لکه چي وائي :

زه مسلمان یار مي هندو دي
د یار د پار درمسال جاروکومه

که دی ریشتیا مین وی ده پخپله باید سندرو خط وهلي واي.
کله چی کانادا، افغاني هندوانو پناهندګی ومنلی، د هیواد د ترک په وخت کي انارکلی ډیر وژړل، هغه حدیث دي چی وائي:
حب وطن، حب ایمان دي.
مسلمانان هندوان تشویقول چی ایمان راوړي، کوم وخت یو ځوان هندو مسلمان شوي ؤ نورو ملګرویی وویل چی موږ هم په پوهیدولو ولی چي هم ئي دروغ ویل او هم ئي غلا کول.

بامیان چی د زایرینو د پاره په زړه پوري ؤ، د بودائي علم د پاره د پوهنتون په توګه ؤ. چی د هند او چین او لیري سیمو نه د زیارت د پاره راتلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يهوديت

د اسرائيل قوم دين يهوديت دي. نړي كي يوازنی هيواد دي، اسلام د افغانانو بل لوي دين دي، چی په سلو کي (۹۹) مسلمانان دي. د شلمي پيړي نه راپيدی خوا هره اساسی قانون په بيله ماده كي اسلام ته احترام راغلي، د اسلام لړي حضرت ابراهيم ته رسي، د (اذر) بت تراش زوی دي.

سارا د ده نا سكه خور چی د ده ميرمن هم ؤ تر (۹۵) كلنی او ابراهيم تر (۹۹) كلنو پوری اولاد او ماشــوم نه درلود، ارمان ئي ؤ چی نســل او نبيره ئي زياته شي. چی بالاخره د كورني مينځی (هاجري) سره واده وکړ.
چی حضرت اسماعيل ع تري پيدا شو. او د سارا هم زوی پيدا شو چی اسحق ع ونومول شو. سارا د خاوند د ده كړونه تري خپه شوه. خو د دي سره ابراهيم ع ورسره بيا هم مينه وه.

ابراهيم د هغو پيغمبرانو نـه دي چی پـه قران كي يي نوم پـه متعدد ډول په تكرار راغلي او ده ته درو آسمانی اديانو لړي رسي.
د اسماعيل نه عرب چی محمد ص هم د همدی لړي دي او اسرائيل د اسحاق ع زوي يعقوب ع چی بنی اســـرائيل هم بلل كيدو نســـل دي . يعقوب (۱۲) زامن درلوده چی حضرت يوسف ئي مشهوره ؤ او په مصر كي مريي، بيا پاچا شو. بنی اسرائيل د كنعان نه مصر ته وكوچيدل. موسی ع يی پيغمبر او اسماني كتاب يي تورات دي. اسماعيل ع (۱۳۷) كاله ژوند وکړ.

فرعون د مصر پاچا چی د خدايی دعوا كوله د موسی ع ورسره مخالفت كاوه. تر څو بنی اسرائيل د مصر پريښوده ته اړ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابراهيم ع د وخت زورواکي نمرود چی پاچا او د خدايی ادعاوی هم درلوده، د مخالفت سره مخ شوه چی در ترکيي د شيلی او فرا په سيمه کي اورته واچاوه چی پاک خداي روغ رمټ وساته (google) .
د انجيل نه را اخستی او قران کريم هم همدا راغلي او نمرود هم په يو شانداره قبر کي په همدي منطقه چي در ترکيی په جنوب شرق کي پرته ده ښخ دي. او داهم زياتوي چی د ابراهيم ع مرګ (۱۶۳۸) کاله تر ميلاد وړاندي اټکلوي، حضرت هم په همدي سيمه کي قبر دي.
اسرائليانو يهيوديت منلی او يهوديت هم پر وحدانيت معتقد دي.
پيغمبرانو د خپل رسالت په لار کي کړاونه ليدلی، لکه عيسي ع پر صليب ځوړند شو، موسی و محمد ص هجرت ته اړ شول، يوسف ع څا کي واچول شو.
او يهودان په تاريخ کی ډير ټکيدلي دي.
په مصر کي تر هغه وخت پوري چی حضرت موسی راپورته کيدی او فرعون په رود نيل کی ډوب کړل شو، د همدي قوم سره ظالمانه چلند کيده.
کله چی اسلام راغي يهوديان د فلسطين نه وشړل او نړی کي آواره شول چی څو کورني ئي کابل او هرات کي هم ژوند کاوه چی په اخر کي د طالبانو په راتګ وطن پريښود په نړی کي (۱۴) ميلونه يهودان دي چی (۶) ميلونه په اسرائيل کي او (۵) ميلونه امريکا او کانادا او نورو هيوادونو کي اوسيږي.
مارکس او فرويد هم يهيودان وو.
په (۱۹۴۰) کي ادولف هيتلر ورته پام شو، په آلمان کي دوي قتل عام کړه او ورپسی هالند، پولند او نورو هيوادو ته ورپسی ورغلل.

په وروستي شپه او ځان وژني وخت کی وويل، نړی ته مي ورزده کړه چی نړی څنګه د يهودانونه پاک کړي. که څه هيتلر يو معتقد عيسوي نه ؤ. يهود خوارکش او متحد قوم دي د دي قوم ډيرو کسانو د نوبل جايزي ترلاسه کړي.
په هغه اندازه چی يهودان د تاريخ په اوږدوکي ټکيدلي دي دوي بيا عين ظالمانه رويه د فلسطينيانو سره لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلام

په اومه ميلادي کي د اســماعيل ع د نبيري او د قريشــو په قبيله کي محمد ص د عبدالله او بی بی امنی زوي باندي وحي راغلي او په رسالت مبعوث شو، جهالت هم اوج ته رسيدلي، لوښی ژوندی تر خاورو لاندي کيدي اسلام ظهور وکړي.

لکه تورات پر موسی ع، انجيل پر عيسی ع، زبور پر داود ع او قرآن کريم پر محمد ص نازل شوي، آسمانی اديان په اصولو کي يو، خو د شرعيت لاري يي بيلي دي.

محمد ص لومړي د خپل قوم او ابو جهل د مخالفت سره مخ شو، اړ شو چی په کال (۶۲۲) ميلادي کي مکه معظـــمه پريږدي او د څو محدودو يارانو ســـره مديني منوري ته هجرت وکړي.
(افغانستان در مسير تاريخ ۱۶۲ مخ) چي همدا نيټه په افغانستان او ځينو اسلامی هيوادونه د جنتری نيټه ده. گرچه غزاو په ترڅ کي مکه فتح شــول. خو بيا هم د حضرت رسول د رحلت نه وروسته د ده په وصيت مدينه کي زيارت جوړ او هلته ښخ شو.
اســلام د نورو اديانو د مخالفت ســره مخ شــو. او تر ټولو د يهوديزم ســره جدي مخالفت ؤ چی تر اوسه دوام لري.

که څه هم اسلام او د يهوديت پيغمبران د يو پلار (ابراهيم) ته سلسله رسي خو د مندي (سارا، هاجره) سره بيل او بونی دي، چی د مخالفت يوه انگيزه هم ممکن دا وي او يهوديت د شـــرعيت تر منځ نژديوالی شـــته، د دواړو اديانو کي ږيره پريښودل سنت دي د خنځيرغوښی حرامي بولي.
ختنه سوري يکي حکم دي . شراب ناروا او د حيوان د ذبح وخت کی بايد وينه توئي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حضـرت رسـول ص د رحلت سره سم خلفاى راشـدين يو د بل پسـى خليفه د اسلام شو، حضرت عمر، حضرت عثمان او حضرت على په مرموز ډول يو بل پسى ترور شول. نوبت حضرت امويه ته ورسيد.

په اســـلام کي نيک مرغي ده، پر حق، عدالت ولاړ د ژوند اړيني چارو د پاره لکه اقتصـاد، تجارت،کار، سياسـت او اداره، اجتماعي اړيکي، نکاح واده، د نر او ښـــځو حقوقو او نورو لاربنـــونه پکى راغلي ده. د اســـلام رڼا هري خواته وځليدل، په نړي کهي د مسلمانانو شمير (۱,۹) ميليارد ته رسي.

د عبـادت پـه لار کي وحدانيت تـه رابلـل پـه لار کي هم پيغمبرانو هم ډير برونـه ليدلي زردشت ووژل شو. ابراهيم ع د نمرود د خوا اورته واچول شو، يوسف ع د ورونو لخوا څاکي واچول شو، عيسي ع د صليب باندى ځوړنده شو، د موسى ع سره د فرعون جګړه تر مرګه او غرقيدو دوام درلود.

حضرت محمد ص هجرت ته اړ شو.

د يزيد لخوا د پيغمبر د لمسي امام حسين شهادت د اسلام په منځ کي يو لوي درځ راوړ، پر سنى او شعيه وويشل شول. که څه دواړه مذهبونه پر وحدانيت معتقد، کعبـه او قران منى پـه خولـه اقرار لري او پـه زړه تصـــديق، او خداي پـه هيله عبادت کوي، مذهبي تکيداران په خپله ګټه تري ګټه پورته کوي لکه په عيسويت کي کاتوليک او پروتســتان وويشــل شــول، اســلام پر ســنى او شــيعه باندى، دا انشعاب ډير جاني تاوانونه درلوده، چى په عيسويت کي دا معضله حل شول خو په مسلمانانو کى لا دوام لري، هره خوا ځان پر حق بولي او د اسلام دښمنان هم دي اورته لمن وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانان او اسلام

د امویانو په خلافت کي کال (۶۴۲) م په لومړی ځل د عربو لښــکرکشــی افغان ته د اســلامی د ترویج د پاره راورســیدل په څو کتابونو کي تاریخ پوهانو دي ته اشاره کړي چی قیس عبدالرشید د حضرت رسول صحابي ؤ. د مکي په فتح کي د یو افغـاني غـازي پـه توګـه د خـالـد بن ولید پـه څنګ کي جنګیدلي دي. خالد بیا خپله لور ورته نکاح کړه قیس ته حضــرت محمد ص (بتان) وایه چی همدا پټهان نه مطلب دي.

(youtube Nazbah Ahmad 16.4.2022)

افغانان ژر دا نوی دین ونه مانه، ترویج ئي شـل کاله دوام وموند (افغانســتان در مسیر تاریخ ۶۷ مخ).

علي قلی پـه خپل کتاب (تاریخ وقایع وســـوانح افغانســـتان په ۱۲ مخ ) کي را وړیدي چی دری پیړي په دوام، چی اسلام د افغانستان تر جنوبه ورسیږي.

تر څو په کال (۷۲۰) د سرپل نه (۱۹) کلن یو جذاب ځوان او ښه ویاند ابو مسلم عبدالرحمن خراساني د امویانو په مقابل کي ودرید ولس ورپسی ودرید د پاچهی اعلان وکړ.

پس له ډیر مقاومت نه افغانانو اسلام ومني خو خپل دود او دستوریي وساتي دین او کلتور یوبل سره ګډ شول چی نه پوهیږي چی کوم ئي اسلامي دي او کوم ئي افغاني دود.

د شـلمی پیړي په هر لیکل شـوي اسـاسـی قانون کي مشـخصـه ماده ده چی هر قانون د اسلام په چوکاټ حکم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لومړي ليکل شــوي قانون ســنه (۱۳۰۱) پوري ټول مســايل جزايی، مدني، حقوقي، يوازې د شرعيت اسلامی په چوکاټ کي بررسي کيدل او اسلام د افغان رسمی دين دي.

دين پوهانو، په ټوله کي خاص مقام درلود. په سلو کي ۹۹ افغانان مسلمانان دي.

د شلمي پيړي په قوانينوکي د پاچا يا ولسمشر مسلمان حکم دي.

هر بالغ مســـلمان افغان اقلاً د ورځی ۵ ځلی د مکي ته مخ اړوي، او پنځه ځلی اذان اورو.

افغاني واکمنـانو هم د اســـلام د ترويج د پـاره دا فرض پرځـاي کړي، احمدخان ابدالي او محمود غزنوي تر سومناته او پاني پټ پوري ورسيدل.

ټوله شخصـي، دولتی او حکومتی هر بيانيه په (بسم الله) پيليږي، په نکاح کی د دين د رعايت حکم په نظر کي نيول کيږي. په لومړيوکي د ماشـوم په غوږ کي آذان او د ژوند په ختم کي يی جنازی لومنځ ادا کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مرئيتوب (Sklave)

دا يو شومه ټولنيزه دود ؤ، يو صاحب يا بادار او بل غلام، يو انسان د بل او يا ځو نورو انسانانو پر ژوند او مقتدراتو تصميم نيسی.
ډير مرييان او مينځی د عزت او واک ښکارندويی ؤ.
تراوسه د بادار او صاحب کلمه په موږ کي شته، چی والي صاحب، او وزير صاحب، رئيس صاحب ورته وايوو، نه ويل يی د بي احترامي په مانا ده.

د غلام کلمه ډيره اوريدل کيږي، لکه غلام محمد، غلام رسول، غلام علی، غلام نبي، غلام قادر او نور چی د تواضع او اخلاص مانا لري.
په محکمو کي دا بالغ او حر کلمه ځنګ پر ځنګ راځی. که نه وي نو تصميم او قناعت يي تر سوال لاندي دي.
په قصص الانبيا تفسير کي د حضرت يوسف ع خوږه کيسه راغلي، چی د غلام په توګه بازارته عرضه شو.
ملک عبدالعزيز د مصر پاچا ميرمن زليخا د غلام په نيت دی رانيولي، چی وروسته پر مينه شوه.
مريتوب په ټولنه کي ورته په ټيټه کتل کيږي په اسلامی دين تر ځلور و نکاحو اجازه شته، په مساوات مکلفه دي مګر د مينځيانو شمير محدود ندي او د مساوات مکلفيت ضرور ندي.

مرئيان خرڅيدل او اخيستل کيدي. چنګيز ډير مرييان او مينځياني درلودي په جګړوکي مغلوب نر او ښځی چی به جنګی اسيران شول د ځان سره د مرئی په ډول وساتل.
افغاني فاتحانو نه محمود غزنوي دا کار کړي او نه احمد خان درانی، چی هندوان د ځان سره راولي او نه هوتکيانو په ايران کي دا کار کړيدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریتوب د ژوند تر اخره وي، د ختم معیاد يي نه درلود. د سلطان محمود غزنوی او د ایاز غلام کیسی تر اوسه په هیواد کي ژوندي پاته دي.
مینځی او مرییان د مورثی په شـــان د وارثانو تر منځ ویشـــل کیدل رانیول او خرڅول يي هم دود وو.
د اتلسـمی او نولسـمی پیړي وړاندي چی ماشـین نه ؤ په کرهنی او مالداري کی یوازي د بشري انرژی په توګه تري کار اخیستل کیدو.
د کروندو د خرڅلاو ســره به مرییان هم ورکول کیدو. مرئیانو د متاع په شـــان وو. (افغانستان در مسیر تاریخ ۶۰ مخ)
ځکه چی فیودالیزم پراختیا وموندل، مرئیانوته اړتیا ډیره شـوه او خرید و فروش يي رونق وموند امریکا چی هغه وخت کی فیوډالی نظام درلود. غلامان رانیول یا به د ښـــکار په ډول ونیول کښـــتی کي به يي بار کړل. ځینی به يي په لارکی مړه شول.
چنګیز خــان، ګوډ تیمور او نورو فـاتحـانو ډیر مرئیـان درلودل. چنګیز خـان (۵۰۰) تني مینځیاني درلودي.
(افغانستان در مسیر تاریخ ۱۸۵ مخ)
پرتګال د لومړي ځل د پاره د اروپا او امریکا د پاره د مریتوب بزنس پیل کړ. Youtube 2021 مریتوب خرید و فروش د تبعیض په ضد نه، بلکه د بزنس په هدف ؤ.

تاجرانو بـه نوي پـه لاس راغلي مرییا چاق اوتر ترینګ لاندي ونیول، اروپایی او امریکایی اداب معاشرت به یی ور زده کړ او سر او صـورت به یی سم شو، هغه په ښه قیمت تلل.

د مقدوني په ســـیمه کي د (المپیا) کلی چی غرنی منطقه وه چی دا اوس نړیواله لوبـه یی پـه نامه ده مرئیان لکه حیوانات په جګړه اچول، تر هغه به جګړي دوام درلوده، چی باید یو ووژل شـــی په ځینو هیوادونو کي د حیواناتو په جنګ اچول

(c) ketabton.com: The Digital Library



منع شـويدي خو افغانسـتان کي لا تر اوسـه د حيواناتو په جنګ اچول دود دي او خوند پراخلي.

مرييتوب د اسلام د عدالت او مساوات سره سر نه خوري.

پـه ځينو مواردوکي دينی احکام هم راغلي چی د خطا پـه مقابل کي د کفاري به توګه بايد يو مرئي آزاد کړي چی تشويقی جنبه درلوده.
دا منل شـوي په چی آريائيان نجيب او اصـل نژاد دی، چا په مريتوب نه نيوي، کوم اريـائيـان چی (۱۱-۱۰) پيړي تر ميلاد وړانـدی د پـامير د درو نـه هنـد تـه کوچيدلي ؤ هم هند کی اجازه نه وه چی دا قوم په مريتوب وينسی. Google

د بشـري احسـاس پر بنا د ځينو بشـردوسـته انسـانانو لخوا پدي لارکي مبارزه شويده او قرباني يي ورکړيدي.
په ځينو هيوادونو کی دا شـومه پديده وو، د دي بشـري ناورين په مقابل کي تر ټولو د امريکا (۱۶) ولسـمشـر ابراهيم لنکن ودريد او په کال (۱۸۶۲) کي د مريتوب موضوع ته جدي پام شو، تر څو پخپله د دي مبارزي په لارکي په کال (۱۸۶۵) محتصبو تبعيض پلويانو لخوا ووژل شو. او مسيحي کشش مارتين لوتر کينګ هم ۴,۴,۱۹۶۸ کي د دي مبارزي د لاري قرباني دي.

اوس د ملګرو ملتوهم دي موضوع ته جدي پام دي.
شـلمی پيړي سـر کي د سـهيلی افريقا مبارز نلسـن مانديلا د مبارزي په لار کی ولسمشر شو، او په رسمی ډول په هغه هيواد کی مرييتوب او تبعيض ختم اعلان کړ. دی د نوبل د جايزي وړ وبلل شو او په کال (۲۰۱۳) کي وفات شو.

په افغانسـتان کي هم د شـلمی پيړی دوهمه ليسـزه، په (۱۹۱۹) کي د خپلواکي د اسـترداد سـره سـم د غازی امان الله خان دا دود لغوه کړ پدي مانا چی آزادي د ټولو د پاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امپریالیزم Imperialism

امپریالیزم یا اســـتعمار د مریتوب بل شـــکل دي. چې پدي کي فرد نه بلکه ټول ولس پر مقتدراتو پردي هیواد تصمیم نیسـي. سیاسـی، اقتصـادی مقتدرات یي په ځان پوری وتړي.
هدف د خپل هیواد و پولو نـه د بـاندي د واک غځیدلو په لټه کي وي. د پردو پر خاوره قبضــه ولګوي. لومړي اروپایانو کي د کال (۱۸۸۰) وړاندي د اقتصــادی اهدافو د پاره دا مفکوره پیدا شوه.
چی په پردي خاوره واک ولری. د هغو د کارنه په ارزانه قیمت ګټه پورته کړی او د خپلو موادو د پاره مارکیت پیدا کړي.
او د مستعمره شوي هیواد خام مواد په ارزانه په لاس راوړي. اروپایان واړه او لوي هیوادونــه دا حرص درلود. آســـیا او افریقـائي هیوادونــه یي تر خپـل منځ وویشل. استعمارګر ځان لوړ او نور بی ارزشـه او ټیټ بلل، کله چی انګریز پر هند تسلط ؤ په عین جرم کي د هندو او انګریز تر منځ به سزا کي توپیر وو.
اســـتعمـار کوم آبـادی چی کولـه د خپـل فعـالیت و ســـهولت د پاره ؤ . اروپایي اســـتعمار ګر د مســـتعمری د دین او مذهب، کلتور او ژبی ســـره ګذاره کول . (google 15.8.2021)

مګر روسیه لخوا سیوسیالیزم و ترویج په نامه واک وغیځید. د مستعمره شـوي هیواد، تـاریخ، فرهنـګ او دین د بدلون او محوه کولو په لټه کي ؤ چی دا کاریی تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او نور هیوادونه اوکراین، لیتوانیا سر وکړ.
دا هڅه وکړه، چی د هیواد ملی او تاریخي ارزښـــتونه په شـــوروي پوري پیوند ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مســـتعمره په رضـــا نه ؤ، او نه داوطلبانه واکمن قام یا واکمن هیواد په زور او فریب توطیو د بل هیواد واک په لاس کي نیول، چل، نیرنګ، دســـیســـونو کار اخیستل.

کوم هیواد چی د ځان دفاع توان به یي نه ؤ. اســـتعماری هیواد به د مســـتعمری شوي سیاست، اقتصاد او دفاع په لاس کي ونیوي.

خپل قانون بـه یي پکی جاري کړ. او اداره به ئي په لاس کي ونیول. په (۱۹ او شلمي ) پیړي کي اروپایانو استعمار خپل حق باله.

کـه څـه هم امپریـالیزم د ۱۲ پیړي (۱۱۵۲) کـالـه پخوا پیل شـــوي ؤ. Google 14.8.2021 اســـتعمار ګر په لومړي کي د اقتصـــادي ګټو ســـره علاقه نیول. د پرازیت غوندي، د پردونه تغذیه کول.

هغه هیوادنه چي دریایی زور درلود لکه انګریز، فرانســـه، هســـپانیه، پرتګال او روسیه پدي فکرکی تر نورو وړاندي ؤ.

ورسته واړه هیوادونه لکه هالند، بلجیم، ډنمارک هم حرص راپورته شو، خو تر ټولو انګریز مستعمري ډیري وي، نو برطانیه ته پدي خطر (برطانیه کبیر) وایي چی د نړي پنځمه برخه نفوس حکمران وه. ځینی لادا هم وایی چی پر قلمرو یي لمر نـه لویږي، امریکا او اســـترالیا لویه وچه پلاس کي وه، کانادا، اســـترالیا، نیوزیلند تراوســـــه د انګریز ملکه خپل د دولت مشـــــر په توګه پیژني او احترام کوي.

فرانســـــه او انګریز لومړیو کي پـه طلا، ســـــپین زر، قیمتی احجارو او د هند خوراکي مسالو پسی را ووتل، وروسته حرص او خودخواهی، اړتیاو او شهرت طلبي انګیزه راوپاریده (ایتالوی ملاح) Amrikyespucci کال (۱۵۰۷) ایتالوي ملاح، ترده وړاندي Kolumbus امریکا ته تللي ووKristohp kolumbus په (۱۴۹۲) کي امریکا ته لاړ او کشف یی کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چی اروپايان استعمارګران د امريکي په خاوره پښه کيښودله، د سره پوستان بومي اوسيدنکو په وژلوئي پيل وکړ.
ملاح د هند په نيت په اشتباه امريکا ته ورسيد، پدي ډول امريکا کشف شول او د ده په نامه ياد شول که څه هم ترده وړاندی په کال (۱۴۹۲) کريستوف کلمبوس امريکا کشف کړي وه.
استعمارګرهيواد لومړی ملکی اداره جوړه چي پښــه د ټينګيدو په صــورت کي پوځی واک جوړ او منګولي ښخي کړي. ورو ورو هيوادونه په قبضه کي ونيول لکه کوچني انګلند د لوی هندوستان، استراليا، کانادا حکمران شو.

کله چی انګريز د هند اداره په لاس کي ونيول. لومړي شخصی شرکت د شرق الهند په نامه جوړ کړ. او د تجارت پ نامه په کال (۱۶۱۴) هندته راننوتل، وروسته يي (۲۱۳) کاله پر هند حکمران وه (د غلام محمد غبار کتاب ۴۱۶مخ) انګريز د هند دلاري د افغان په ګاونډ کي راغلل. دلته يی هم لاس ور اوږده کړل. لکه چي وايی:

چرته لندن چرته چترال دي
بي ننګی زور شوه پر نګيان چترال ته ځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم فصل

## غازیان او انګریز

د هند د لاري د انګرایزانو نژیدیوالی زموږ د هیواد په تاریخ کي بیل فصل جوړوي کله چي انګریز چی د هند مقتدرات په لاس کي کړل. هند (هند برطانوی) شو. دوه نیم سوه کاله پاته شول، وایسرا په نامه لوړ مقام د هند اداره په لاس کی ؤ او په کابینه کی د هند په نامه وزیر درلود.
انګریز پدي دول د افغان خواته سترګي کړي خو روغه ورځ یی ونه لیدل، عادت لري تر دروازي ئي وباسي، تر کړکي بیا راننوتی.

په کال (۱۸۷۹) کي د هند د اداري سیاسي آمر دلویس کیو ناري د انګریز با صلاحیته امر د امیر محمد یعقوب خان د ګندمک تړون و لاس لیک ته اړ ایستي کیو ناري وروسته نو د انګریز لوي استازي په کابل کي وټاکل شو.
تړون پر غازیانو بد ولګید. پر بالاحصار ورپورته شول، کیوناري د (۱۲۳) تنو نورو انګریزانو سره تر تیغ وایستل شول، او وتلو ته اړ کړل.
په همدي اړه د افغانستان د مسیر تاریخ ۴۴۸ مخ کي لا دا هم راغلي، هغه مځکی چی پدي تړون کي انګریز ته ورکړي شوي امانت دول دي او بیرته به مستردیږي. (افغانستان در مسیر تاریخ ۶۱۲ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغان او انګريز لومړي جګړه

په کال (۱۸۳۹) شاه شجاع د ميکناتن په مشري د انګريزي سربازانو په سرکي د کندهار د لاري کابل ته راغلي او پر تخت کښيناست او پاچا شو په حقيقت کی پاچا ميکناتن ؤ.
امر و نهی ئی په لاس وي، په آبادی او تعميراتو ئي پيل وکړي ژر وتلو فکر کی نه ؤ، د آس زغلوني او د کرکټ ميدانونه، د ساز او رقص د پاره ځايونه جوړ کړل. افغانستان در مسير تاريخ ۵۳۳ مخ)

انګريزانو په مجموع کي ملی شخصيتونه د پاچا نه په يوه او بله توطيه لري کول وروسته وپوهيده چی اصلي واکمنان انګريزان دي نه شاه شجاع.

يوی خوا بلی خوا ځينی خوځښتونه راپورته شول. دا مطلب ټوله د استاد غبار په کتاب کي راغلي.
کله چي به شجاع و انګريز ته وويل چی امن برقرار دي تاسی ته نور اړه نشته، تاسي ووزي،هغو به وويل چی امير دوست محمد خان په کمين کی دي. خطر ندي رفع شوي همدا کتاب.

غبار صاحب، ۵۴۲ مخ تر ۵۶۵ د ميکناتن حکومت او ملي انقلاب او د انقلاب د رهبرانو نومونه لکه امين الله خان لوګري، سيدال الکوزائي، آغاحسين قزل باش، غازي محمد جان خان وردګ، محمد خان بيات، سکندر خان با ميزائي، سردار محمد اکبر خان، عبدالله خان اڅکزی، مير واعظ او ډير يو لوی لست راوړيدي. ميګناتن چی ملی قيام وليد خفه شو چی ميليونو سره د خبرو د لاري سوله وکړي . انګريزانو يا ميګناتن د خپل خصلت او کرکتر په بنا په توطيو لاس پوري کړ چی د ملي رهبرانو په منځ کي بي باوري راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرار پر دی شـوه، چی د دفتر او بالاحصــار د باندي په کال (۱۸۴۱) د دسـمبر ۲۳ د بی بی مهرو د غونډي لاندی د ده او وزير محمد اکبر خان تر منځ غونډه وشی. او په تشه مځکه کي خپل څادر وغوړاوه، او پر کښيناستل.

سـردار د انګريز منافقت او ليکل شـوي اسـناد و مخ ته کيښـودل، خبري تا اوبالا شـــوي ځوان ۲۴ کلن غازي اکبرخان و ميکناتن ته لاس ور واچاوه چی د ځان سره اسير وساتي هغه وروسره تفنګچی ته لاس کړ، سردار چاړه پر راويستل، ميکناتن او ورسره ملګري ئي هلته غار غار کړل. د غبار صـاحب په کتاب سم تفصيل دي. (افغانستان در مسير تاريخ ۵۵۹ مخ)

داسـتان اوږد دي، انګريزان و وتلوته تيار شـول چی د کابل نه ئي حرکت وکړ. پرلاری هم ډير تلفات وليد. يوازي ټپی شـــوي داکتر برايدن نيم جاني تر تورخم ورواوښت.
پر انګريز ديره بده ورځ راغلل د جراحي داکتر (دف) د ننګرهار د (دور بـابا) سيمه کي خودکشی وکړه (همدا کتاب ۵۶۱ مخ) د کابل نه تر پيښور پر لاري به ان ښځو د بام نه به تيږو ويشتل او سري اوبه به ئي پر پاشل.
دا ټوله د قيامت ورځ چی د انګريزانو پر سـر راغلي او افغانان برلاسـی ؤ او د انګريزانو ښـــځی برمتـه پـه لاس کي وو. مؤدبـانـه او پـه افغاني ناموس داري د ښـځو سره چلند کړي او ناموس داري بيا ثابته کړه. (افغانسـتان در مسـير تاريخ ۵۶۲ مخ)

تردي وړاندی ميجر تروپ جنرال د بالاحصـار نه وتښـتيدل په شـيرپور کلاه کي ځاي ونيوي ميجر تروپ چي د کيوناري په ځاي مشر شو، د غازي اکبر خان نه هيلـه وکړه چی د وتلو اجازه ورکړي. ما تر اوســـه د افغاني تاريخ پوهانو پدي هکلـه ليکي او کتابونه لوســـتي دي، داهم تر ټولو درته په زړه پوری ده، چی د افغان او انګريز د جګړو تفصـــيل د يو پردي تاريخ پوه نه واورم. لکه علی قلی ميرزا چه ايران کي د وخت د کلتور او فرهنګ وزير د خپل کتاب ۱۲۸ ــ ۱۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ (تاريخ وقايع و سوانح افغانستان) کی راوړيدي: چی انګريزانو د زمیندارو (هلمند) د مقاومت څو تنه بنديان غزني ته ليږل غوښـــتل چی په لارکی غلجائي مشـرانو تر بريد لاندي راغلل (انګرايزان دريايي مشـر ) ځان سـره راوسـت، هرات دروازه (کندهار) کي ووژي.
په مقابل کي انګريزانو د ارغنداب تر رود پريوتل.

د (زړي مزرعي ) پر کلی بيا جګړه شـــوه، چی مخ کي دا جګړه د ارغنداب د خاليشک کلی کي دوام درلود.
افغانان شاتګ ته اړ شول، انګريزانو په خواجه ملک کلی کی د حبيب اخوندزاده الکوزي پر کور په بريد کي د غفار خان کور او کلی لوټ کړ.
علی قلی ميرزا په ۱۲۰ مخ کي دا هم زياتوي، کله چی انګريز د بالاحصـــار نه وتلو ته اړ شول، کوم څه چی افغاني پوهانو راوړيدی، ده لا هم دا راوړيدي.

دايی لومړی وار دي چی لولم ئي چی مـاتی خوړولو انګريزانو د پيښـــور لار ورکه شـــوي، به غروکي وارخطا يو خوا او بلی ته اواره ګرځيدل. او در لوږي به ئي واښـه خوړل. يا کوم کسـان چی به د دوي نه مړه شول نور به ئي غوښـي خوړل چی ژوندي پاته شي، ډيرئي د حرکت نه لويدلي وو.

بـالاخره ميجر (توروپ) د وزير محمد اکبر خـان نـه هيلـه کوي: را ازين زيـاد پرده شـوکت ما در پيش روی خارجي دريده نشـود اجازه بدهيد که خارج شـويم تاريخ و سوانح افغانستان علی قلی ميرزا (۱۲۴ مخ) علی قلی هم دا قوم پيژندلی دي، په (۱۳۰ مخ ) کي راوړيدي: (انګليس حيله و نفاق اندازي خاصيت داشت)
.
کوم تفصيل چی استاد غبار او نورو پوهانو د تاريخ په ډول ساتلی، د دي کتاب د خوصـــلی نه تيريدي، افغانان قهرماني وکړل، ياد يي پر موږ دي چی ابدي ئي وساتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازيانو به ويل:

محمد جان مرد ميدان است، ايوب خان شير غران است

مير بچه خان رس رسان است   آزادي فخر افغان است
رابرت کل کلان است  بيا برادر انګور بخور

**نوټ:** راپټ، مطلب د انګريز اســـتازي رابرتس نـه دي، چې ســـريي تاس ؤ. (افغانستان در مسير تاريخ ۶۲۴ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهمه جګړه

په کال (۱۸۸۰) کی د انګريزانو په ميوند کی د غازيانو سره مخ شول د غزا د ميدان مشر غازي محمد ايوب خان ؤ.

جګړي څو ورځو دوام وکړ، دواړو خوا درانده تلفات درلوده نژدي ؤ چی غازيان شاته سي بڼځو ميدان ته راودانګل د وړونو و څنګ ته ودريدي د ميوند اتلي ملالي بڼغ پورته کړه:

که په ميوند کي شهيد نه شوي
زما لاليه بي ننګی ته دي ساتم

**بلي پر بڼغ کړه:**

خال به د يار په وينو کيږدم
چی شنکی باغ کي ګل ګلاب وشرموينه

د غازيانو وينه په جوش شوي، سرونه ئي وهل سرونه ئي ورکول انګريز تارو مار شول. څه پاتی ژوندي د تيښتی لار ونيول، د مړو قبرونه اوس هم د شهيدانو څنګ ته ميوند کی ښـــخ دي. ۲۵ تنه انګريزان کوم چی ژوندي پاته وو د افغان په جامو په بی راهي د تبتی لار ونيول (افغانستان در مسير تاريخ ۶۳۸ مخ)

د کورنی د بی اتفاقی نه ســردار محمد ايوب خان د امير عبدالرحمن خان د تازه نفســـه قواو مقابل کی د ارغنداب په کوتل کي ماتی وخوړه پر هرات ايران ته واوښـــت چی د وخت پاچا د ميلمســـتيا په پلمه ميلمه، او خپل کورکي ونيوي انګريزانو ته وسپاري . چی د ژوند تر اخيره په هند کي نظربند وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میوند نوم ژوندي دي، په کابل کي د وخت ښــــاروال غلام محمد فرهاد د یوه ستره جاده پدي نامه جوړه کړه او یو ملي شخصیت او د وخت لومړي وزیر هم ځان میوندوال وباله.
نور هم یو پلو او بل پلو دا نوم ژوندي دي او د ملالي نوم هم ژوندي ســــاتل شویدي.

## ډیورند

هنري مارتیمر ډیورند د هند د وایسرا د دفتر سیاسي سکرتر هغه څوک دي چی پـه کـال (۱۸۹۳) د ډول ډول فتنو او توطیو تر فشــــارو لانـدی امیر عبدالرحمن خان د ډیورند پروتوکول لاس لیک ته اړ ایســتی چی د افغانســتان د خاوری یوه لویه ټوټه تري بیله کړي.
دا د امیر محمد یعقوب خـان او کیونـاري د ګنـدمـک د تړون پـه تعقیـب او تـائید رامنځ ته شــو. چی کیوناري د کابل په بالاحصــار کي د غازیانو لخوا د ســردار محمد اکبر خان په مشري د خپل شوم نیت په سزا ورسید.
البته امیر محمد یعقوب خان هم تر فشــــار لاندی او به داســــی که چی پخپله هم رواني ناروغی اخته ؤ، او تازه خپل پلار امیر شــــیر علی خان د اوه کاله بند نه راویســتی ؤ په ۱۸۷۹ د ګندمک ته تن ورکړ.(افغانســتان در مســیر تاریخ ۶۱۰ مخ)
او پـه تړون کي دا هم ؤ، چی خیبر تر بولانـه انګریز تـه پریږدي، دا هم پکی راغلي ؤ چي دا به موقتي وي.
انګریز دا ځلي د امیر عبدالرحمن خان بـه واکمني د ګندمک د تړون په تائید او تعقیب په کال ۱۸۹۳ د ډیورند تړون تر لاســه کړ. دا تړون تر ډول ډول فشــارو لاندي د امیر او د هندي مارتیمو ډیورند چی د هند د وایســر د دفتر ســـیاســـي سکرتر ؤ لاسلیک شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازي محمد ايوب خان د ميوند د ډگر زمری کومندان چی په هندکي د انگريزانو تر نظارت لاندي ؤ، د امير د تهديد د پاره ساتلي ؤ. ملايان به ئی د ده په ضد لمسول او سرخوږي به يی ورته جوړاوه.

د دي د پاره چی کمزوري شی د ده په قطعاتو ساری ناروغي کلورا او وبا ورگډه کړه، چی نيم کنډک تباه شو.
(د غبار تاريخ ۸۲ مخ) د دي ترون نه د افغان خاوري نه يوازي لويه ټوټه بيله کړه، بلکه قوم ئي هم وويشی.

د لومړيو نه انگريزانو آرام و نه ليد مقاومت موجود ؤ . د تسلط په نيت د فشار د پاره تشکيل رويکار کړ. په يو عادي جرم به يی هم پښتون ۱۴ کاله زندان کي واچاوه.
نظيف الله نهضت پخپل يادداښتوکي دا هم راوړي چی ښونځي تړي او د پښتنو د نوري متمدن نړي سره اړيکو ته اجازه نه ورکول . انگريزانو په کال ۱۸۵۳ پر وزيرستان په کال ۱۸۵۳ پر اپريدو، په کال ۱۸۵۵ پر اکاخيلو، ۱۸۵۹ پر کرم، حملي وکړي. په ۱۸۶۴ کال ملاکند او مومندو او اورکزو جگړي وکړي (اپي فقير) د پښتنو مشري ۱۹۳۷ کي د ده مرکز باندي ۵ ځلي بريد وکړ.
د پاکستان د جوړيدو سره سم خان عبدالغفار خان ونيول شو په ۱۹۴۸ کي د تيراباغ کي د پښتونستان خپلواکي اعلان شوه ورسره سم افغان لومړی وزير سردار شاه محمود خان د ملاتړ اعلان وکړ او په ۱۹۵۰ کي د ډيورند د کرښي د لغوي کيدو اعلان هم وشو، او اپي فقير ولسمشر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ډیورند حقوقی ارزښت

استاد غلام محمد غبار دا د (ملانصرالدین معاهده بولي).
شــــرمونکی لا هم دا ده، کله چی انګریز د هند د قاري نه په ۱۹۴۷ ووت او دا هیواد په دوه برخو وویشل شو، خپل میراث خور جدیدالتاسیس هیواد پاکستان ته و سپاري.

په حال کي که چي د امیر تړون د انګریزانو سره دي نه د پاکستان پنجابي سره.
امیر عبدالرحمن که څه هم پاچا ؤ، خو بیا هم یو فرد ؤ ستر ملت اراده بله ؤ.
معمول هم دا دي که تړون چی حکومتونه کوي، هغه وخت د اعتبار وړ دي چي ملت د خپل وکیلانو پواســـطه تائید کړي، چي دا تړون د ملت تائید نلري، پخپله امیر هم تري خوښ نه ؤ.

یو حکومت لازم بولي پر یوه موضـــوع پریکړه وکړي بل حکومت یا بل نظام حق لري چي هغه رد کړي. لکه بارک اوباما د امریکا ۴۴ ام ولسمشر د ایران سره د اتومي وسلي په هکله یو تړون وکړ. ۴۵ ام ولسمشر دونالد ترمپ لغوه کړ.
لکه لومړي وزیر ســـردار شـــاه محمود خان هم د جون پر ۱۲ ام کال ۹۴۹ د ۱۸۹۳ تړون لغوه اعلان وکړ لـه همدی کبله تر ډیره وخت پوري د افغانســـتان لخوا پاکستان دولت په رسمیت ونه پیژندل شو.
په کال ۱۳۳۵ کي سردار محمد داود خان لومړي وزیر پښتونستان به رسمیت وپیژندي.

په کال ۱۹۴۹ کي د هیواد لویه جرګی د پښتونستان د خپلواکی د نهضت بنسټ کینود. او د نهضت مبارزه تراوسه جاري ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلوڅو او پښتنو دي لارکي ډیر زجرونه او زندانونه و ګالل. (افغانستان در مسیر تاریخ ۶۹۷ مخ)
حقوق پوهانو او تاریخ پوهانو په ګډه دا تړون مردود بللی. چی حقوقی او تاریخي ارزښت نلري او د کرښي دواړي خواوي ناراضه دي.
استاد شهریار سنګریار د تانند ویب پاڼی د جون شلمه او کال ۲۰۲۱ داسي استدلال کوي.
(تړونونه د وخت په تیریدو خپل حقوقي ارزښت د لاسه ورکوي. اتحاد جماهر شوروي مثال راوړي، تغیر و موند سرحدونو کي بدلون راغي. (۱۶) هیوادونه خپلواک شول، دوه ویتنامه، آلمان، یمن سره یو شول . وخت به راشي چی کوریا هم یوه شي.
ژوندي مثال ختیځ او لویدیځ پاکستان کی یو بل تړون راغي سره بیل شول.

سنګریار د ملګرو ملتونه د ۱۹۶۹ پریکړه تکیه کوي. هر هغه تړون چی د زور او کمزوري ترمنځ په تهدید را منځ ته شوي وي باطل اعلان کړي.
چی خپله امیر عبدالرحمن خان هغه وخت کی ناروغه ؤ . انګریزانو هم روغ ورځ ونه لیدل، افغان تسلیم نه شو.

دا لانجي د حل د پاره سمه نړیوال پیژندل شوی پرنسیپ، لکه د یو سراسری پوښتنی (ریفرندم) لار ده.
همدا ډول د آلمان په سهیل کي د شتراس بورګ د آلمان او فرانسي ترمنځ لانجه هم د ریفرندم دلاری حل شول. چک او سلواک په ۱۹۹۳ کي به سوله د یو ریفرندم له لاري چی یو هیواد ؤ خو سره بیل شول.
مګر پنجاب هیڅ د پښتنو او بلوڅو غوښتني او ریفرندم ته حاضر نشول. چي دا ورځ به ترکومه وچلیږي. هغه عمل غواړي کوم چي بنګلدیش (ختیځ پاکستان) وکړ. څرګنده شوه چی د خان عبدالغفار (عدم تشدد) کار ورنکړ. کوم کړاونه چی غفار خان او صمد خان اڅکزی او اکبر بکټی وګالل، اوس به یی دا مشران منظور پښتین او داوړ ګالي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو پاکســتان د پښــتنو او بلوڅو د (خود اراديت) حق تر نن ورنکړ. د زور او فشـار لاندي هغه طبعي سرحداتو چی تر اټکه پوري ؤ، تغير ورکړ او پښتانه ئي وويشل .

داکتر يار محمد تره کي د ډيورند کرښــي په پخوانيوکي بشـپړ کتنه کړي او خپل آرزو نه ئي د جنوري پر پنځمه کال ۲۰۲۲ خبره کړي، چی د ډيرو پوهاندو لکه اسـتاد محمد اعظم سـيسـتاني د تائيد او د تقدير سـبب شـويده. پري ليکنه کي د ۱۹۲۱ کـال د دواړو خوا پـه تړون کي هم دا راغلي، چی پخواني تړونونه منحل بلل شــويدي او څلورم بندئي دا لا هم راغلي چی طرفين يو طرفه هم د تړون نه وتلای شــي. خو محمد علی جناح د حق پر ضــد پښــه ټينګه کړه. جناح د مسـلم ليګ ګوند مشر پداسي حال کي چي د ده پر اسلام شک وؤ.

انګريز هم ارامـه ورځ و نـه ليدل، ځـای دي چي د افريد عجب خان ميړانه مثال راوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عجب خان افريدی

انګريز د افغانســــتان نه چندان خوند وانه اخيســـت. تاريخ ډيري تريخي ثبت ګړيدي، ملی قهرمانان ورته مخ ته دريدلي دي، چی دهغی جملي نه يو ئی هم د عجب خان افريدی ميړانه داستان.

پيښــورکي انګريز د مليشــو د جذب د پاره اعلان وکړ. ځوانان راجلبول، چی د خپل هيواد په مقابل کی تنظيم کړي. چی د هغي جملي نه يو هم عجب خان افريد ؤ، عجب خان د انګريز نوکري يی ننګ باله، ځان ئي ګوښـــه کړ. په مقابل کي انګريزانو د ده پلار او تره بنديان کړل.

په عجب خان دا عمل سخت تمام شو. په کال ١٩٢٣ عجب خان د څو همزولانو سره د شپی لخوا د انګريز ميجر اليس (Elis) کور ته ورواوښت ښځه يی مړه او لور ئي مولي (Molly) نومي ئي د ځان سره پورته و غره ته وخوت.
سبا اوازه او انګازه شـوي، د عجب خان پرسـر د جايزو جار ووهل شـو. نتيجه کي جوړه وشوه د عجب خان پلار او تره د زندانه خوشـی شول عجب خان هم مولي اينجلي ئي سالمه په پوره افغانی ناموس داري ور وسپارل.
عجب خان راواوښـت د سـردار احمد شـاه خان لومړي وزير په وخت کي د بلخ په شـــولګري کي ځاي ورګړه شـــو، د عجب خان په نامه يو خوږ فلم هم جوړ شوي خيال محمد يی سندري او بدر منير پکی کار کړيدي.
د ده د ميړانی د ياد په خاطر په کال ٢٠١٨ کي د پيښـــور آدم خيلو په دره کي د عجب خان مجسـمه جوړه شـول. د غنی خان دا شـعر ګلزار علم کمپوز کړي، وايی :

اي زما وطنه، اي زما وطنه
د لعلونو خزاني زما
ستا هره دره کي دي د توري نښاني زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د انګریز او افغان دریمه جګړه

انګریزانو د خپلواکی موضـــوع نن او ســـبا کوله، لومړي نړیواله جګړه هم تیره شوه، چی افغان پکی بیطرفه پاته شو خو د مشروطه خواهانو د نهضت له خوا امیر حبیب الله تر فشار لاندي ؤ . نهضت کي محمود طرزي رول پکی ستر ؤ او ولعهد امان الله خان هم د دي نهضـــت غړیتوب درلود. چه په کال ۱۹۱۹ د لغمان په کله ګوشـــی دره کي امیر حبیب الله شـــهید شـــو، امان الله خان واک ته ورسید.

د لومړي ورځي نه د خپلواکي اعلان وکړ هغه متل دي چی حق اخیســـتل کیږي او ورکول کیږي نـه انګریز تن نـه ورکـاوه د درو خوا د بلـدک د جبهی مشــــر ســـردار عبدالقدوس خان اعتمادوالدوله لومړي وزیر، و تورخم ته نایب ســـالار صـــالح محمد الکوزي او جنوبی جبهي ته د دفاع وزیر ســـردار محمد نادر خان دنده واخیستل. د غزا د اعلان سره سم، د غزا ډول په ډزیدو شو. ځوانان جوپه جوپه د غزا په کتارکي ودریدل.

پر وطن جنګ دي. د پکتیاوال، مسعود، منګل، ځدران او ځاځي او نورو وسلي اوړي ته کړي. د افغان او انګریز دریمه جګړه ونښتل. د سـرحد هغه خوا قبایل هم ننګه وګړه، د خپلو وړونو څنګ ته را ودانګل.

د نادر خان په جبهه کي پرمخ تګ څرګند وو.

سردار محمد نادر خان تر ډیورند کرښی ورواوښت. تل او وانه ئي ونیول . البته د جنګ خوږي خبري ساعت ئي تریخ دي، اصلي صحنه بله وی د غفور روان فرهادي په مرسته د محمود طرزي لمسی د دي صحني اسناد راټول کړي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو کتاب په ډول چاپ کړيدي. د وزيرستان اوسيدنکي هم راوپاريدل . د ميوند يادونو تازه شول.
ورځ تر بلی پر مختګ، دي وخت په هند کي هم د خپلواکي تحريک په حرکت محسوس ؤ. انګريز د لوي خطر احساس وکړ چی تړوله هنديی د لاسه ونوزي. ژر تصميم وينوي د افغان غوښتني ته سر ټيټ کړ.
په کال ۱۹۱۹ د شلمي پيړي په سرکي د افغانستان بشپړ خپلواکي ئي په رسميت وپيژندل شوه. د افغان خپلواکي خپله شوه.

انګليس دريم جګړه کي هم ماتي وخوړل، اتحاد جماهري شوروي لومړي هيواد ؤ چی د افغان خپلواکي به رسميت وپيژني . ځوان پاچا د ډيرو هيوادونو لخوا تقدير شو. خپل کور، خپل مو اور او خپل مو واک شو.
ولس، خپل بيرغ، خپل ملی سرود، خپل اساسي قانون خاوند شو. هندن بورګ د آلمان امپراطور د رسمي پيژندلو په ترڅ کي د سفارت د پاره په برلين کي يوه ټوټه مځکه ورکړه د ايران پاچا هم دا کار وکړ، ايتاليا پاچا هم ځوان پاچا تقدير کړ.

**شاه محمود پتنګ وائي:**

ايی د سرو وينو جل وهلي خاوري
وايه ! تنده دي ماتيږي که نه
پيغلي، ځوانان به ازمويلی وي تا
پت او وقار نه دي جاريږي که نه

غزاته به ځوانان او پيغلو وردانګلي، علامه عبدالحی حبيبي د طلوع افغان ۱۳ کال په لومړي ګڼه کي دا مطلب راوړيدي چی ۱۰۳ کاله وړاندي تورپيکي اځکزي هم لکه د ميوند اتله په سپين بلدک کي د واده په شپه کله چی انګريز پر کندهار يرغل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غزا کي د خپل خاوند (ريدی خان) څنګ کي درېږي او بی اختياره ناره پر وکړه:

پر سپين ميدان به درسره يم
زه پښتنه له توري ډار نلرم مينه

د غزا په ميدان کي دواړه شهيدانيږي او هلته د غزا په مشهوره هديره کي څنګ پر څنګ ښخ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم فصل
# نوي ایدیولوژي
# مارکسیزم

Karl Marx کارل مارکس د دي ایدیولوژی بنسټ ګر چي مارکسیزم هم بولي، د سوسیالیزم پرمخ تللی مرحله ده. کارل مارکس آلمانی یهود حقوق پوه خبریال او فلیسوف په نولسمه پیړي د کلیسا مذهبي تحصیل یافته د دولت او کلیسا په مخالفت پیل وکړ د ټولني خواره طبقه ئي د حکومت مستحق بلل چی اجتماعی عدالت تامین باید شي .
لینین دا نظر په عمل کي پلي کړي.

مارکس نظر درلود، چی د کاریګرانو اجوره د دوي د کار به برابر لږ ده . چی ټولنه باید یو انقلاب رامنځته کړی ده غوښته چی نړي کي بدلون باید راشی.
دا فکر د ده ملګري فریدریش انګل هم درلود. انګل یو شتمن آلمانی ؤ د کارل مارکس مالی حمایه ئي کول هم پدي فلسفه ولاړ ؤ، چی تولیدات او پیداوار د ټولو شتمني ده، مارکس په آلمان او انګلستان چی صنعتی هیوادونه دي د دي کاریګری انقلاب پیش بیني وکړه. مګر دا انقلاب به ۱۹۱۷ کی د روسي بلشویکان وکړ، چی لنین هم پکی برخه واخیستل او اکتوبر په انقلاب ونومول، طبقاتی مبارزه پیل کړه، د استعمار فرد از فرد ختم کړي.
او د مځکی په سر جنت جوړ کړي.
لنین بریالي شو نیکولای رومانوف د میرمني او درو لوڼو او یو ماشوم زوي سره ټوله ووژل.
همدا رویه د سردار محمد داود خان د کورني سره د غوائي پر اتم هم وشوه.
ولادیمیر ایلیچ لنین چی اصلي نوم کي (اویانوف) ؤ، خلقي ملګرو به لنین کبیر باله. لنین د مارکسیزم سره لنینیزم ورګډ کړ. تر انقلاب وړاندي لنین د تزار د ډاره آلمان ته وتښتید. چی د انقلاب په فکر کی نه وو. د تزار سره د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصی مخالفت په انګيزه د بلوشيکانو ملګري وکړه، آلمان د تزار سره سياسي مخالفت او استعماري رقابت له مخي، لنين په زوره ورتيله او ريل کي کښيناوه او پيسي ئي په جيب کي ور واچولي.
کوم ځای می لوستی دي چی د آلمانيانو جاسوسی هم ؤ.

انقلاب په اکتوبر کي بريالی شـــو. او د پروليتاريا ديکتاتوري ئي اعلان کړ. په وژني او شکنجه، تبعيد او شاقه کارو ئي پيل وکړ.
د ده تر مرګ ۱۹۲۴ نه وروسته يوسف ستالين هم دي کار ته دوام ورکړ، د تاجکستان، ترکمنستان، ازبکستان، سمرقند، بخارا او نور د روسي لويديځ ... اوکراين، ليتوانيا او نوري مځکي و نيول د اکتوبر د انقلاب ســـره ســـم يو لوي شمير د سمرقند او بخارا ازبک او ترکمن تبار افغانستان ته واوښتل د بخارا پاچا محمد علم خان ته په افغانستان کی ځای ورکړه او مځکی.
ازبيک او ترکمن تبار د افغانانو ســـره خيښـــی وکړه. او د ځان ســـره د قالينو صـــنعت راوړ. او ځيني نور کلتوری دودونه دوی تر يو وخت پوري مقاومت وکړ، ابراهيم (لکی) ووژل شو. ترکمن تبار په افغاني ټولنه کي حل شول.

روس هم لکه انګريز د افغان پلوته راڅرمه شـــو، روســـي نوم په اتحاد جماهير شوروي بدل شو. خو بيا د واک په سر کی بيا هم روسی قرار درلود، مارکسيزم او لنينيزم جهان بينی ايديولوژي شوه.
تر چين، کوريا او کوبيا پوري ورســـيد، ختيځ اروپا ئي هم د وارســـا د پکت په نامه د ځان کړه. دلنين شعاو ؤ.
((چی شوروي يوه لويه ونه دا نور کمونستي هيوادونه ئي څانګی دي که د وني تنه وچه شی، څانګيه خود په خود وچيږی. )) همدا ډول هم وشول. google دا ايديولوژي افغانســـتان ته هم ســـرايت وکړ، لنين د مارکس نه زده کړي، دين افين وباله. افغاني خلقي هم په همدي باور دي.
د شوروي د تجزيي او انحلال سره کمونيزم ختم شو هر هيواد لار ونيول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مارکس** د حکومت او دولت د مخالفت له مخي بلجیم ته لاړ، هلته ئي هم ګذاره سخته شوه، فرانسه ته لاړ. د فرانسي نه لندن ته، په کال ۱۸۸۲ کي مړ او هلته ښخ شو. مارکس د دوهم واده نه اوه ماشومان درلوده، چی یو ئي هم مارکسیست نه شو.

مارکسیزم د وبا په شان ؤ، چی د دي ایدیولوژي د مخالفت له کبله په نړي کي میلونونه، میلونونه انسانان قرباني شول.

دا وژني حق او قانوني بللي شوي وي پدي ایدیولوژي کي اساسي کرښي په پرولیتاریا دیکتاتوري منل شوي ؤ. روسیه د اتحاد جماهیر شوروي وخت په ابر ځواک بدل د میلونو کسان د مرګ په بیه تمام شوه یوازي په حبس کي ۸ لکه اعدام او یوولس نیم د شاقه اعمالو او لوږي نه د ستالین وخت کي ووژل شو چی پلچرخی ئي یو مثال دي. کمونیزم هم بشپړ امپریالیزم دي. په بله مانه او بل رنګ، انګریزانو استعمار راوړ چی مدنیت راوړي.روسانو د سوسیالیزم په نامه استعمار راوړ.

مذهبی، کلتوري او تاریخي ارزښتونه له منځه وړل. موږ ولیدي چی په خلقي نظام کي لمونځ جرم ؤ او د کمونیزم مبارزه د اپریالیزم په ضد وه، په داسي حال کي چی کمونیزم پخپله امپریالیزم ؤ یوازي په تکتیک ئي توپیر ؤ .

په کال ۱۸۳۹ انګریزانو شاه شجاع رامنځ ته کړ. او دي ئي پاچاهي مستحق وباله، د مرغومي پر شپږمه کال ۱۹۷۹ شورویانو ببرک د افغان په خیر وباله پر ټانګ سپور راوست.

شوروی به افغانستان کي د دوستي او ښه ګاونډیتوب او مرستو په څنګ کی، د لنینیزم تخم وپاشي. شوروي ته د زدکړو لیږل شوي ځوانان کمونست او استخدام شوي راغلل. خلقي مشران لکه د نظر محمد تره کی زوي نور محمد د جنرال حسین خان زوي ببرک حفیظ الله امین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حبیب الله زوي، نجیب د اختر محمد، نور احمد نور د ســتار خان حکمران او ســـلیمان لایق د خلیفه عبدالغنی زوي دا د کاریګري نظام مدعیان چی نه دوي کاریګر ؤ او نه ئي پلار.
لنینیزم یوازي اقتصادي بدلون نه بلکه کلتوری او مذهبی بدلون ئي هم غوښت.
تره کي په خپل بیانوکي زیار ایستونکی یاد ول او کارمل په روشنفکران، مرګ پر امپریالیزم په ځنګ کي مرګ بر فیودالیزم هم ور زیات شـــو، چی هیواد کي متاسفانه نه کاریګران ؤ نه فابریکه او نه ډیر ځمکي. دولت به باید ځمکي آبادي کړي پر بي زمینو به ئي وویشل.

د وخت حکومت د خپل توان سره سم د ننګرهار د کانال ځمکي وویشلي . کندز کي ډیر بي ځمکي کورنیو ته ځمکي ورکړي. تر ټولو د وادي هلمند پدي منظور لویه پروژه ؤ پخوا هم دولتی مامورینو ته د تقاعد په مقابل کي ځمکي ورکول کیدي. د ځمکو ویش دوام درلود.

د غوائي اومه کال ۱۳۵۲ پوځي یاغیانو پاڅون انقلاب شـو. د مرغومی شـپږمه کال ۱۳۵۸ د انقلاب نوین، د سردار داود جمهوریت لغوه شو.
د مرغومی د شپږم سره شمالی ستر ګاونډي، پخوانی ارمان تودو اوبو ته نژدي شو.
ولس په شلمی پیړي کي د بل ازمون سره مخ شو.
جهاد اعلان شو، او پاڅون سراسري کړي شوي. انقلابیانو بندیز اعلان، وژنو او شـــکنجو ته لاس پوري کړ. ژوندي هم ښـــخ شـــول. د KGB مامورین د شورویان د سلا کار په نامه ئي ځنګ ته ودرید. ورزده کړه چی خپل هیواد باید ځنګه شکنجه او مات کړي.

۹ کاله دوام وموند، مجاهد نه مات شـــوه نه تســـلیم. برژنیف، چرینکو او اندروپوف دا آرمان ګورته یووړ. مقاومت تر ورځی بلي قوي شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارکسيزم چې د اقتصادي اصلاحاتو په هيله ؤ. دا ايديولوژي ناکامه ؤ. که سمه مقايسه ئي د ختيځ او لويديځ آلمان يا د کورياي شمالی او کورياي جنوبي د ژوند د سويي مځکي او آسمان تر منځ توپير دي. روسي فيلسوف سخروف سم تحليل کړيدي. د روسـي په ليرو سـيمو کي اوس هم د څاه نه اوبه په ډولګی راباسـي. ملګري بيځايه پري غوليدلي وو.

تر څو په کال ۱۹۸۵ ميخائيل ګورباچوف ته نوبت ورسيد.

ده واقعيت درک کړ، د افغان موضـــوع ئي خون چکان زخم باله او يرغل يی اشتباه وتلو په لټه کي شو. په اصل کي د اکتوبر انقلاب اشتباه وه.

شـــوروي تجزيه او ګوند منحل کړي، کارمل او نجيب دي خاينين بولي، نړي تقدير د سولي د نوبل جايزه وياړه. آلمان ئي د آلمان د يوالي پلار بولي.

شـوروی په يرغلو بلد ؤ. خو افغان بل قوم ؤ. روســان پدي ترخ کي اقتصـــادي کورني فشـــارونه، په نورو هيوادنو کي هم د کمونيزم د ناکامي ړغونه پورته شـوه. او ګورباچوف يو واقع بينه سـياســت پوه ؤ، د جينوا د تړون اوړو پوزه شوه.

په کال ۱۹۸۹ سربازان د د وتلو په لټه کي شول چی ۱۴ زره مړي او ۵۰ زره ټپيان درلوده، د افغانانو شـــهيدان او ټپيان تر ميلونو ډير ؤ خو دا ايديولوژي ونه منل.

کورونو، ښـونځيو، مسـجدونه خرابي هم په زرو وو، کرهنه او اقتصـــاد خراب شو.

افغان خپلواک شـو، خو د سـر په قيمت تمام شـو. د شـوروی تجزيه او کمونيزم ماتي نړي افغاني قرباني له برکته بولي.

کمونيزم تر ټولو لومړي د روســـيه جمهوريت مشـــر بوريس يلســـن د اتحاد (شوروي) نه ووت، وريسي ستونيا جمهوريت د شوروي نه د وتلو اعلان وکړ. ګورباچوف اړ شو، په کال ۲۵,۱۲,۱۹۹۱ د ګوند او د شوروي د انحلال اعلان وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کال ۱۹۹۱ د وارسا پکټ مات شو، آلمان يو شو، د برلين ديوال په ۱۹۸۹ کې ړنګ شو. د وارسا د پکټ هر هيواد خپله لار ونيوله. ډېري ناټوکي ګډ شول. سړه جګړه ختمه شوه.
روسيه د خپل استعمار کرکټر پر بنا، ولاديمير پوتين تر مشري لاندي په ۲۰۲۲ پر اوکراين بريد وکړ.
روسيه هم آزاده شوه تور سپين او آبی رنګه ملي بيرغ ئې بيا په رپيدو شو.
د روسيه په نامه په نړۍ کی بيا يو هيواد ثبت شو، خلقيانو يې خپل سرنوشت ته پريښودل، د کمونيزم ايديا غلط راووتل، ځيني وائی چی:
د مارکس تشخيص سم وه، اما تجويزئې غلط. ميخائيل ګورباچوف د چنګاښ دانه عمليات کړه. ګورباچوف ته د اندراګاندي جايزه هم ورکړه شو. نړۍ کی قدر کيږي، ميرمن ئې (رازيا) چی مړه شوه، بل واده يې ونکړ، د لور ارينا سره د مسکو په شاو خوا کې اوسيږي او پر کتاب کار کوي، لنين چی کمونيزم راوړی ؤ، ده ئې ټغر ټول کړ.
نور څه ئې ونکړه په مستقيم او غير مستقيم يرغل ئې افغان ملي شيرازه ئې خرابه او افغان ئې د پنجاب په لمن کې ور واچاوه. کوم چی پاکستان لاچانس د خدايه غوښت.

په شوروي کې ديکتاتوري پروليتاريا ۱۱ ميلونه د ګوند د غړو شمير ؤ. د دي ګوند ټول واک په لاس کې پر ۳۰۰ ميلونه زيات نفوس حکومت چلاوه. په حقيقت د پروليتاريا به نامه يو ګوند مسلط ؤ ګورباچوف د ګوند د لاري د واک سرته ځان ورساوه چی د چا باور نه کيدو، نظام ختم کړ او نړۍ ئې د وبا ناروغي نه نجات ورکړ، د دي ايديولوژي نوم نور چا ونه اخيست.
افغاني کمونستان خپل جنايت نه مني يو پر بل پړه اچوي د کارل مارکس په شان لاتراوسه شخوند وهي. د شوروي ماتي د افغانستانه پيل شوه او په نړۍ کې رسوايی عالم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتونخوا يو ملي شاعر دا وايی:

څوک چی په خيرونو سترګو دي وطن ته وګوري
سترګي به تري وباسو چی دي چمن ته وګوري
مور يو موتې يوو، وطن زمونږ ځان دي
مور پښتانه يوو پر وطن مو ځان قربان دي

د لنين قبر د کمونستانو د پاره يو زيارت ګا ؤ، جسد يی په ډير مصرف موميائي شــو، ګورباچوف په کال ۱۹۹۱ دا جســد نور د کريملن نه ليري کړ. لنين لکه زمونږ نور محمد تره کی (خواجه) ؤ، چی د دوي دواړو وارث پاته نه شو.
مارکس په ذلت کي به کال ۱۸۸۳ په لندن کي ومړ هلته ترخاورو لاندي شو. پر قبر ئي دا ليکلي دي .

## WORKERS OF ALL LANDS UNITE
## چی ونشول

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فاشیزم Fashisem

د ناوړه بشري ضد خوي چې په ایدیولوژی بدل شو د امپریالیزم او مارکسیزم د استعمار د سکي بل مخ دي. پر نژاد ولاړه ایدیولوژي ده د اصلیت د برتري، نژاد پرستي ولاړ دي، د خود خواهي او غرور سرچشمه اصلي ځان لوړ او اصیل و نجیب بولي نور دوهمه، دریمه درجه او ټیټ بولي. په سیاسي او اجتماعي لحاظ ځان د پاره لوړ امتیاز غواړي او نور سپک بولي. چې باید په خدمت کی وي.
عدالت او مساوات اړین نه بولي، دا غریزه د انسانانو د طبعیت او فطرت، چاکي ډیره او چاکي لږ او مهار شوي وي.
په شخص او رسمي ژوند کي لږ او ډیر شته، وجدان او اخلاق دي چې هغه را مهار کړي. یا په سیاسي لحاظ باندي دومره پټه په پرده کي اداره کړي، چې بهر کی ورته پام نه ئي.

امتیاز په مقرري او کار کی هم څرګنده لیدل کیږي، اروپایان دا رویه لږ او ډیره تراوسه لیدل کیږي، ملی ګرایي چې تر حد واوړي په فاشیزم بدل شي. او په تبعیض او نژاد پرستي اوړي او د فاشیزم ایدیولوژي شي .

اسلام به مساوات او برابري حکم لري، نړي کي اوس د بشري حقوقو پلویانو دی ایدیولوژي نه کرکه لري.
افغاني متلونه چې د افلاطون او سقراط د فلسفی سره سر خوري، او اسلامي روحي سره سمون.
وائي : (چیزیکه به خود روا نداري، بدیګران نیز روا مدار)، دا نظام د ګوند، دیکتاتوري خلاف واک په یو لاس او یا د یوي کورني په واک کي وي.
په شلمي پیړي کي دا مفکوره تقریباً په یو سیاسي مکتب په ډول رامنځ ته شوه.
او یوه بربنډه نژاد پرستي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



امريکا کی په شلمي پيړي تر وروستيو پوري، تور پوستو، هوټل، رستورانت او ښـونځی د سـپينانو نه جلا ؤ . په اسـلام کي د مسـاوات څرګند مثال د لمانځه په کتار کی، خان او غريب اوږه په اوږه په يو صـف کي دريږي، د پاک خداي په نزد هم په تقوا قضـاوت کيږي د حج په مراسموکي ټوله يو ډول اهرام ترلي وی د آلمان نسيونال سوسيال ګوند (نازی) د شلمي پيړي په دوهمه، دريمه سريزه کي د ادولف هيتلر او پـه ايتـاليـا کي د لومړي وزير موســـی ليني لخوا د دي ايديولوژي په بنا ګوند جوړ شـــوه هيتلر که څه هم مســـيحي ؤ، مګر قوم ته ئي ترجيع ورکول، د نورو اروپايانو نه ځان بيل او آلمان آريائي نژاده باله دا پکي د نړي د دوهمي جګړي ســـبب شـــو. نـازيانو خپله مفکوره نه پټول، په ډاګه ئي اعلان کړه، انګريزئي اســتعمار کي هم دا روحيه ؤ لکه په هند کي عين جرم په مجازات کي، هندي او يا انګريز توپير درلود. په اتحاد شوروي کي هم روسانو د نورو مليتونو سره په توپير کي وو.

هيتلر، المانيـان د تـاريخ پـه روايت، اريـائيـان بلـل چی د آمو د غـاړي او پامير د غرونه او درونه راوکوچيدلي دي. جرمن بايد جيګ قد، شني ستړګي او روښانه پوســـت ولري او د ټولو په شـــراينو کي د A ګروپ وينه وچليږي او الماني بايد روغ رمټ وي. معيوبان، د ژوند حق نلري، د وژلو د پاره ئي د اور کوره خاني جوړي کړي نور قومونه بايد د اصيل قومونو په واک کی وي. پدي خاطر يي ۷ ميلون يهودان ووژل، نورو اروپايی هيوادونو کي هم په يهودانو پسي ورننوتل.

پـه فتوحاتو لاس پوري کړ، د شـــوروي يوه لويه برخه ئي ونيول. تر لنين ګراد ورسيد. فرانســه ئي ونيول، د پاريس په مشـهوره جاده شـانليزی کي ورته پوځی پليټ اجرا شو، چی د نازي آلمان د عظمت ښکارندويه ؤ. د ناسيونال سوسيالست د ايديولوژي د تطبيق د پاره په هر غير بشــري اعمالو لاس پوري کړ، فرانســه کي لوست په آلماني شو.

جاپان د مفکوري له مخي ورسره ملګري، چی پر کوريا او چين ئي لښکر کشی وکړه.

دا ايديولوژي پـه جهـان بيني بدله شـــوه. الماني توب وياړ وو، د نورو نه کرکه درلوده. هيتلر نه لومړي وزير ؤ او نه ولسمشر ده ته رهبر ويل کيدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ايديولوژي تر ډيره و نه چليدل. مخالفتونه ورته راپورته شــول موســولينى په کال ۱۹۴۳ کي ترور شـــو. امريکا هم د هيتلر مقابل کي تازه دمه د انګريزاو فرانسى او روسيه څنګ ته و جګړي ته راودانګل .
هيتلر چی خپله ناکامي وليدل متحدين د برلين ښــارته راورســيدل په کال ۱۹۴۵ کي هيتلر په خپل قصـــر کي د محاکمي د ډاره د خپلی ميرمني انا بروان او د پروپاګند وزير ګوبلز ســـره يو ځاي په يوه ورځ خودکشـــي وکړل لکه نور ديکتاتوران قبرئي معلوم ندي.

نازي المان او هيتلر د افغانانو ســره خون شــريکه بلل او انګريز مو ګډ دښــمن هيله وکړه چه په جنوبي آســياکي د انګريز پر مســتعمرو (هند) بريد وکړی، او پدي ډول انګريز ته ســر خوږي ســبب شـــي، افغان حکومت خپله عنعنوي بي طرفی وســـاتل. جاپان هم هغه وخت د جګړي نه لاس پرســـر شـــول چی پر هيروشـــيما او ناګاســـاکي ښـــارونو باندي ۶,۸,۱۹۴۵ د امريکا له خوا د اتم بم استعمال شو.

درانـده تلفـات او ضـــرريی راوړي، چی تر هغـه وخـت پوري چـا نـه وو ليدلي،جاپاني امپراتور د تسليمي او د جګړي نه لاس اخيستلو اعلان وکړ.
فردوس کاوش هم راوړيده چی نازيانو د افغانانو او د پښتنو د نهضت مشران د انګريزانو په ضد لمسول شبکه اطلاع رساني ۲۸,۱,۱۴۰۱
فاشيزم هيوادونه، خراب شـول.ناسيوناليزم هم لکه بله هره ايديولوژي د ظلم او استبداد سره وه.تر ۶۲ ميلونو زيات انسـانان ووژل شـول. المان او په ختيځ او لويديځ وويشل شو. د جنګ تاوان هم پر راغي.
د نـازي رژيم لوړپوري چاروالکي د نورنبرګ محاکمي تـه ودريدل کوم آلمانيان چی افغانســـتان تـه راغلي ؤ د آلمان د ماتي ســـره انګريزانو د دي آلمانيانو د ورسپارلو غوښتنه وکړه بيا هم د وخت حکومت هغه المانيان وساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تروریزم Terrorisem

سیاسي پدیده په شان رامنځ ته شویده، مافیا او د ډاکوګانو ډله ده، سیاسي مکتب ندي مګر د سیاسي اهدافو و شبکه ده ماجراجوئي پټ خصوصي تشکیل او سازمان دي چې په خپل منځ کي هم محدود کسان یوبل پیژني او متعهد او وفادار او د هر خطر منلو ته چمتو وي. او مافیا په شان فعالیت لري. هدف ته د رسیدو به لار په هر جنایت لاس وهی.
لوټماری، انفجار، انتحار، برمته نیول، سبوتاژ، ډار او ترهه او وحشت اچول، تهدید اور اچول، وژني بی زړه سوي په سیستماتیک ډول زور کارول ته تروریزم وایی.

په حقیقت کي د مدنیت په مقابل کي نا اعلان شوي جګړه ده. خپل اعمال توجیه کوي او تعبیر ورته لري. یا په لنډ تعبیر دا ډله د سیاسي اهدافو رسیدو د پاره سیاسي فعالیتونود لاري، نه بلکه د زور او فشار د لاری هڅه کوي نړي یا ملګري ملتونه او یا نور نړیوالي موسسه ئي تر اوسه پر سم تعبیر متحد شوي ندي. افغان مجاهدین چې په شلمي پیړي کي په خپل هیواد کی د حق او عدالت غوښتونکی ؤ، هم د کابل خلقي نظام اشرار او ترهګر بلل او شورویانو به په هغه خپله اصطلاح تروریست بلل.
د فلسطین plo هم اسرائیل ترهګر بولي او ترکیه ته کردان تروریست دي.
په اروپائي هیوادونو کي د ایرلند شمالي تجزیه غوښتونکي په تور لست کي دي.
چین د اویغور آزادي خواهان ترهګر بولي . امریکایانو د طالبانو ځیني مشران په تورلست کي ښولي دي شلمي پیړي کی یوازي د هند د خپلواکي مبارزین د عدم تشدد سیاست د ګاندي نهرو، او خان عبدالغفارخان لخوا مخ کي ورل کیدل د انګریزانوبه ترهګر بلل. القاعده، داعش، ابوسیاف، بوکو حرام او نور ګروپونه هم شته، افغاني او پاکستانی طالبان هم دي د ډلي نه بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ډله چې بنسټ پاله او افراطي وي، پدي نامه ياديږي. په کال ۱۹۸۱ د اکتوبر په مياشت کي د مصر ولسمشر انوار السادات ترور هم د اخوان المسلمين د ګوند د خوا وو. چې دا ډله هم ترهګر بلل کيدل.
مافيا اقتصادی اهداف لري ترهګري، سياسی اهداف تعقيبوي.
د خداي د رضا او ثواب په خاطر ګناه کوي.

ترهګري هلته خطرناکه ئي چې کوم دولت ئي شاته ولاړ وي . د خپلو اهدافو د پاره متاسفانه نن ورځ دولتونه هم ترهګرو سره لاس يو کړي خپلی دولتي او شخصی غوښتنی مخ ته وړي.
د شوروی د بهرنيو چارو وزير تروتشکي چی د ستالين حريف ؤ په کال ۱۹۴۵ په مکسيکوکي د (KGB) مامور پواسطه ترور کړه شو مامور د لنين په سره ستوري مدال ووياړل شو.
د پاکستان صدرجنرال ضيآالحق او ISI مشر اختر عبدالرحمن ترور شول. د پاکستان لومړي وزيره بي نظير بوټو ترور چی پدي اړوند پرويز مشرف ولسمشر ته ګوته نيول کيږي. يا د انګلستان شهزاده ګي ديانا ترور هم دولتی بولي. استاد ربانی، د هند لومړی وزير اندراګاندي په اکتوبر ۳۱ کال ۱۹۸۴ ترور. علی احمد خرم هغه ترهګريزي اعمال دي چی ګوند يا دولت يي شاته ولاړ بايد وروستي مير اکبر خيبر په کال ۱۳۵۷ د وري پر ۲۴ ترور شو چی بايد شاته ئي ګوند او يا يو ستر سازمان ولاړوي.
د دموکراتيک خلق په ځينو کی ځمکني د ترور دنده درلوده د انقلاب ضد په نوم ډير بيګناه کسان د شورويانو په رهنمائي ترور شول. ترهګر قانون او بشريت نه مني، ځان ته خپل قانون لري.
د تروريزم لومړي هدف دا دي دهشت راو وستل او د حکومت د خلقيانو انقلابي محکمه او د طالبانو صحرايی محکمه همدا دولتي تروريزم دي.
نفر به ئي د کوره يا دفتر نه، يا د کوڅي د سره يوور نه بي مړي معلوم و نه ژوندی. همدا ډول اسدالله سروری او سيد محمد ګلابزوي هدايت اخيستي ؤ چی ملګري حفيظ الله امين د حامد کرزي ميدان ته تلو په لار ترور کړي چی ونشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی ملګري تره کي صاحب په لاس ورغلي، دا هغه تروررونه دی چی شاته ئي يو دولتي واک ولاړوي.

د سپتامبر يولسمه د نيويارک پر تجارتي مرکز بريد په کال ۲۰۰۱ يو څرګند تروريستي عمل ؤترهګری ډلي د خپل سياسي اهداف د پاره د معمولي او قانوني مبارزه لکه لاريون، اعتصابات نه کار نه اخلي لنډه لار ترور ده .
طالب هم د ۲۰۰۱ بيا تر ۲۰۲۱ پوری اعمالو وو چی نن پری وياړی .

## اسلاميزم

سياسي اسلام اصطلاح ده اوس کارول کيږي. اسلام چی اصلاً د خداي او بنده تر منځ رابطه ده، او د دين او دنيا د نيک مرغي تضمين پکي دي، په ايديولوژي بدل شو.
ايديولوژي د يوي ډلي لخوا سياسي او اقتصادي او واک د لاس راوړولو اهدافو د پاره يو منل شوي تعريف او باور ته ووائي چی د يو ملت او يا د ټولنی د يوي ډلي لخوا مخ ته وړل کيږی، البته چی په اسلاميزم کي هم اسلام رول غټ دي. خو هدف د واک لاس ته راوړل دي، او اسلام يوه وسيله ګرځوي.
د پخوانه دين د ټولني په واک مسلط وو. دين او دولت دواړه په يو لاس کي وو. کله چی عيسويت د کليسا په چارديوالي کي را ايسار شو. په اسلام کي هم دولت او دين سره بيل شول. محراب او ممبر دينی علماوته دولت او سياست پاچاهانو ته ورسيد. د اسلاميزم پلويان چی اسلاميستان يا سياسي اسلاميان بلل کيږي لکه بلـه هره ايديولوژي يوازی ځان غواړي د نورو کرکه لري. نړي د کمونيزم او فاشيزم نه تجربه لري، چی ايديولوژي پر ديکتاتوري ولاړه وي دا يو مکتب دي ديموکراسی ضد.
البته دموکراسي نه مکتب دي او نه ايديولوژي. د حکومتداری يو سيستم او اصول دي، چی هر چا ته پکي حق دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کسان چې مسلمانان دي اما سياسي ندي، هغه سنتي مسلمانان بلل کيږي، سياسي مسلمانان لکه نور سياسيون د واک په لټه کي وي.

اسلام گرايان يا اسلاميستان د اعتدال نه گرځيدلي د افراطيت خواته مخ دي او بنسټ پاله.
سياسي فعاليت او سياسي مبارزي پر ځاي د زور نه کار اخلي د دهشت، برمته نيول، قاچاق، تروريزم، وحشت، ترور، انتحار او انفجار لار نيولې.
چې د دي جملي نه القاعده، داعش، بوکوحرام، السياف، ابوالشباب او پاکستاني طالبان د مصر اخوان المسلمين هم همدا ډله ده او پيژندل شوي دي.
غواړی چې اسلام څوارلس سوه کال شاته يوسي . خبري ئي د ابوهريره او ابو ذبيده نه دي .
د زمان شرايط په پام کي ننيسي د نورو ايديولوژي لکه مارکسيزم او فاشيزم، سره په اصولو او چلندکي ورتوالي لري چې هر څه په يوه لاس کي وي. د جنت بلبلان (انتحاريان) نه د افزار کار اخلي.

دا مطلب د ISI مامور کرنيل امام پخپل کتاب (داستان جهاد افغانستان) په تفصيل راوړي.

د اسلاميستانو تر منځ که په نيغه اړيکي هم ونلري، ترمنځ رابطه وي لکه افغاني طالبان د القاعدي سره اړيکي ساتي . د ايران اخوندان د لبنان د حزب الله، د يمن هوثي ډله او عراق د شيعه گانو ډله پالي.
د پاکستان جماعت اسلامي او جماعت علما د ابوسياف او بوکوحرام سره خواخوږي لري.
اسلاميستان ږيره حتمی بولي، د ښځو حجاب ضرور بولي د موسيقي، سينما، هنر او عکس مخالف دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې بی نظير بوټو پاکستان کې د ولس رايی وګټلي او لومړي وزيره شوه. فضل الرحمن اخوند د مولانا سميع الحق د ولس د ارادي خلاف په ارتال لاس پوري کړ.

دا دوه ګوندونه که څه هم ديني اصولو ادعا کوي خو د پاکستان د استخباراتي ادارو سره خاصی اړيکی ساتي، د زور او ترورنه کار اخلي لکه چي وايی.

جومات يو فابريکه شوه ترور توليدوي
ملا پکي خياط شو، واسکټونه به ګنډي

اسلاميستانو جهان بيني دا ده چی انسان د اسلام د پاره خلق شوي نه اسلام د انسان د پاره.

## سيد جمال الدين افغانی

عالم سيد جمال الدين افغاني د سيد صفدر زوي او د کنړ په اسعدآباد په کال ۱۲۵۴ زيږيدلي چی د وخت پاچاهان د ده د کورني تر انتقاد لاندي وو.
امير دوست محمد خان ئي کورني کابل ته راوغوښتل او سيد جمال الدين د امير شير علی خان سلا کار شو، د نظام کړني ئي په زړه نه وي. هند ته لاړ بيا ايران، عراق او مصر ته، آلمان، انګلستان او فرانسي ته. د امپرياليزم په ضد ؤ. ژور پکر، پر شور روحيه درلوده.
د امپرياليزم د اسارت نه د مسلمانانو د خلاصون په لټه کي وو، د واکمنانو په زړه نه وو.
کله به خپله د هغه هيواد نه به ووت، او کله به د نظامونو د زغم وړنه وو، روسيه ته لاړ. دوهم ابوعلسينا ئي و باله. ترکي، پښتو، فارسي، اردو، انګريزي او عربي ئي خبري کولي شوای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فرانســــه کي يو مجله د العروت الوثقی په نامه راوايســــتل د مصــــر الاظهر مدرســه کي درس ورکړ او شـاګردان وروزل، چی مشــهور ئي شـيخ محمد عبده ؤ. د ده تحريک بالاخره په اخوان المسلمين بدل شو.
په څرګنده د سيد تحريک د امپرياليزم او مفسد پاچهانو په ضد وو.

سيد د مسلمانانو وحدت او پاڅون غوښت، د ده شاګردان د ايران پاچا نصرالدين شاه به يو بريدکي مړ کړ. (افغانستان در مسير تاريخ ۵۹۳ مخ)
د ژوند وروســتي شــپي په ترکيه کي ؤ . چی د ســرطان د ناروغي له کبله ۵۴ کلني عمر په کال ۱۲۷۶ وفات شو.
په کال ۱۲۸۴ د ده هډوکي کابل ته انتقال، په ډير عزت د کابل پوهنتون په ساحه کي ښخ او دا سيمه د ده په نامه، جمال مينه ياديږي. د ده دا خبره تراوســه ځاي لري.

هغه ځاي چی اسلام وو، مسلمانان نه وو،
کوم ځاي چی مسلمانان ؤ اسلام نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ديني علماو نقش

هر دين په نړي کی د واک او نفوذ محور پيژنـدل کيږي د ملا دم او چوپ هم چليدي . د طب چی پر مخ تـګ نه ؤ خلکوته به ئي تعويز پـه غاړه کړ. البته د ملا صاحب شکرانه هم ضرور ؤ . د فارياب ملا لنډي هم تعويزونه ورکول. د مولوي صاحب خمارو خداي دي وبخښي کيسه کول، چی ملاصاحب يوي ښځي د اولاد تعويز ورکولو وخت کي دا توصيه هم وکړه چی د خاوند سره نو هم ډير په خلوت کي شي.

دي په عذر وويل دا کار ته وکړه.

ملا صاحب په بزرګواري وويل چی دا کار دي هم پر ما واچاوه.

پخوا دين او دولت په يو لاس کي ؤ. کله به دولت د دين په خدمت کي ؤ، کله به يا برعکس، تر منځ مبارزه وه. دا زور آزمايي دوام لري او د قدرت د لاس ته راوړلو د پاره يو د بل تخريب کي وو.

په هر دين کي دا کشمکش شته، د روم د واتيکان خاطري د تاريخ په ياد کي پاته دي، واتيکان کليسا به د جنت سند ويشی.

لوړي او ژوري انقلابونه راغلل تر څو دين او دولت سره بيل شوه او عيسويت د کليسا په چارديوالي کي محصور شو.

اسلامي هيوادونه کی پاچا د اسلام د خليفه او ضل الله ؤ. او واک په يو لاس کي او خطبه يي په نامه ويل کيږي او دا آيات مبارک چی (اطيعوالله و اعطيو رسولو و ولل الامر منکم) د پاچا اطاعت د خداي او رسول سره په يو آيات شريف کي راغلي او بغاوت ناروا بلل شويدي.

د ماشوم د تولد د وخت نه چی غوږ کي اذان ور کوي بيا د جنازي د لمانځه او فتحی پوری د ملا رول پکي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امويانو، عباســـيانو او په اخيره کي ترکيي عثمانيانو تر وخته دا اصـــول دوام درلود کله چې دين او دولت سره بيل شول.
تکتيک بدلون وموند په سياسي اسلام او سنتي اسلام وويشل شو.
د افغانستان د هر رژيم اساسي قانون کي دا صراحت شته چې قانون په اسلامي شريعيت په چوکاټ کي وي.
نورو هيوادونو کي قانون تر دين لوړ دي. او دين يو شخصي عمل بلل کيږي.

تر اوسه افغاني ټولنه کي ديني علما خپل ځاي او نفوذ لري.
ايران يوازي هيواد دی چې دولت د اخوندانو په لاس کي دي. د مصـر اسـلامی نظام د محمد مرسي تر مشـرتابه لاندي سـمي پايلي ورنکړي په افغانسـتان کي مجاهدينو او هم د طالبان چې اســـلامي شـــعار او عنوان درلود، چې دوام ونکړ کامیابه نه وو.
په اداره بلد نه ؤ تر رود به هغه ښوک پري وزي، چې لمبو ئي زده وي حکومت تـه کـاری تجربـه او حکومت داري علم او هنر پکار دي، په فال بيني نکيږي. د لوي ملا به تر تصـميم وړاندي موضـوع خوب ته حواله کړه. ځواني کي چا چې به خوب وليد سبا ته به حمام ته ولاړ. اوس هم رئيس الوزرا ملا حسن اخوند په خوب کی ګوري او ژاړي چې ملا برادر ولی شـــخصـــي ګټوته مخه ده. (تانند ارغنديوال ۲۸,۱۲,۲۰۲۱)

انګريز چې د سـيمي ته داخل شـو، د ټولني دا قشـر وپيژند د ديوبند مدرســه ئي جوړه کړه، دي قشر ته لاس واچاوه .
د ملا او مولوي پـه نـامـه ئي پيداوار او صـــــادرات پيل کړه. د دي مدرســـي د فـارغـانو قدر تر نورو لوړ وو. پـه خبروکي عربی اصـــطلاحـات کارول د لوړ شـخصـيت په مانا وو، په شـرعي اصـولو بلديت د دوي د امتياز په مانا وو، لوي او کوچني ملا خپله فتوا ورکوي او هغه ته شرعي رنګ خو نيمچه ملا خطرناکه دي زر د کفر فتوا صـادروی. هر څه په خپل زعم تفسـيره وي د ملايانو تر منځ هم اتفاق نظر نه وي همدا ســـبب شـــو، چې ځو مذهبونه پيدا شـــول، احمدي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



جعفري، اسماعليه، سلفي او نور. كه څه هم خداي يو رسول ئي يو كعبه او قران يو دي.
پـه مجموع كي د ملا كردار او ګفتـار كي توپير وو. موږ هر عربي لغـات د عقيدي پر بنا چی د خداي كلام په عربي دي كلک احترام لرو.

د هند د نيم قاره د ويش ســره ســم د ديوبند مدرســـي يوه كوچی ټوټه د حقانيه مدرسي په نامه اكوړه خټک کی جوړه شوه.
د امريكائيانون يا د بهرنيانو په مقابل كي مولوي فضـل الرحمن په افغانسـتان كي جهاد روا بولي خو په پاكستان كي ناروا.
ملايان ځيني د اســتخباراتي ادارو ســره په تماس خوبښ وي . زه (ليكوال) چی څوكاله د هيواد د مركزي استخباراتو په اداره كي د ضـد جاسوسـي د يو څانګي آمر وم، په جاسـوسـي کی مهم بخش د جلب او جذب دي . چی په مسـلكي لحاظ ورته شـبكه وائي. هر ملا يا طالب چی زه ئي د جذب په فكر كي شـوی يم، ژر به دي كار ته چمتو شوي، ممكن اقتصادي مشكلات ئي دليل وي.

امپريـاليزم پخوا كي مـذهبي كســـان، لـه دي كبلـه چی ټولنـه كي د يو خـاص او اهميت خاوندان ؤ، د پام وړ ؤ، اوس بدلون پکی راغلي وكيل، جنرال او وزير د جاســوســي ادارو د پامه وړ دي. د KGB مامور ميتروخين په خپل كتاب كي د افغانی كمونستي رهبرانو او وزيرانو نمونه افشا كړيدي. (KGB در افغانستان)
البته يو وخت به د ISI او CIA او MI۶ جاسوسان دا هم رسوا شي.

پدي كي شـــک نشـــته چی د هر يرغل په مقابل كي دينی علما ؤ د مقاومت فتوا صـــادر كړيده. د انګريز په مقابل كي د نولســمي پيړي غزاوي. د دينی علماو د حكم سره برابر وی. او دي علماوعلملاً پکی برخه اخيستي ده . د شوروي مقابل كي جهاد ديني علما په واک كي ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۹ ــ ۲۰ پیړي او د ملا نقش

د ديني علماو سياسي فعاليت زموږ هيوادكي يو بيل فصل او باب جوړ وي. په ولس كى مذهبي او عقيده دومره ژوري ريښي لرى چې د افغاني كلتور سره سم ګډ شويدي.
په تاريخ كي د ديني علماو منفي رول يادداشت لري لكه امير عبدالرحمن خان د انګريزانو په تحريک د ملايانو تر فشار او مخالفت لاندي، د ډيورند سره د سرحدي دي كرښي ناوړي لاس ليک ته په كال ۱۸۹۳ تن وركړ.

ملا عبدالرحيم كاكړ، ملا عبدالاحد پوپلزائي د امير د عزل فتوا اعلان كړه (افغانستان در مسير تاريخ ۶۶۴ مخ )
ملا عبدالرشيد، ملا عبدالله ګرديزي په ملاي لنګ مشهوره په خوست كي او ملا عبدالعليم، ملا علي دامان الله د كفر فتوا وركړه تر څو د سقاو زوى ئي راوست (د پورتنى تاريخ ۸۰۲ مخ).

اعليحضرت امان الله به د جمعي لمونځ امامت پخپله كاو د سيستاني محمد اعظم ليكنه تانند ۳۰,۸,۲۰۲۰ ملا نقيب الله قادياني هم د امان الله مخالفت كاوه د غبار (پورته تاريخ ۸۰۸ مخ) ګوډ ملا د عازي امان الله خان به مقابل كي ودريد.

د شينوارو ملايان هم راپورته شول.

استاد غلام محمد غبار د خپل كتاب په ۸۱۶ مخ كي د سقاو د خولى راوړيدي چې د جمعه به لمانځه كي د ننګرهار د (بريكوت) ملا ورته ويل ؤ، چې امان الله كافر او جهاد پر روا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســقاو په غلا تورن ؤ مګر پدي نيت چی جهاد عبادت دي څوک چی غلا کوي، څنګه جهاد ته زړه ښــه کوی د خپلواکي په جشـن کي د تياتر به د ننه کي د امان الله خان د وژلو فتوا سقاو ته د ملا د خوا ورکړه شوي ؤ دی وائي د دي د پاره چی د مسلمانانو جشن خراب نشي تر تير شوم (د کتاب همدا مخ)
امـان اللـه خان هم د ديوبند ملايان پيژندي او د دوي پرتګ او راتګ يي قيودات وضع کړي ؤ (افغانستان در مسير تاريخ۴۴۱ مخ )

د تګاو ملا حميدالله هم مخالف ؤ . همدا تاريخ ۸۲۲ مخ.
علم او دانش او پرمخ تګ ســـره د ملايانو دا مخالفت ســـبب شـــو چی په کال ۱۹۲۹ اعليحضـرت امان الله خان هيوادنه ووزي او سـقاوئي پر ځاي راويسـتل شو.
کلـه چی د خپلواکي د معرکي کومندان غازي محمد نادر خان د هيواد د نجات په خاطر د پاريس د سفارت نه د هيواد په لور راوخوځيد هم ملايان ؤ چی د غازي د مرګ فتوا صادره کړه.(استاد شنهواز سنګريار تانند ويب پانه ۲۰۲۱)
په کال ۱۳۳۸ ملا عبدالصـــمد اخوند راپورته شـــو، ســـينما ته اور واچاوه او د کندهـار د زرغوني انـا د اينجوني پر ښـــونځي ئي بريد وکړ، چوکي او ميزونه مات او کتابونه ئي وسـوځل، ښـونکي او شـاګردان ئي ووهل. د جهاد اعلان ئي وکړ.

کـال ۱۳۴۹ کي د هيواد ډير ملايـان پـه کـابـل کي غونډ جوړ کړ او پـل خشـــتي مسـجد ئي اشـغال کړ. ملا د علم او پرمختګ خوښ ندي، او علم د ځان په تاوان بولي کله چی په کال ۱۹۲۴ مصطفی اتا ترک واک ته ورسيد. سکولير نظام ئي اعلان کړ. ملاو اخوند ئي د سياسي صحني نه لاس بندکړ. عربي رسم الخط په لاتني واړاوه. ملا ئي د پرمختـګ خند وباله. خالد الحنفی د امر بالمعروف وزير همدا اوس ۲۰۲۲ کی د علم فرض نه بلکه مباح بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نیټه ۸,۸,۱۴۰۰ سعودي عربستان چې د اسلام سرچینه او بنیاد ځاي او د پیغمبر د معبوثي مرکز دي، په مدرسو کي (بینش اسلامي ) چه مطلب د سیاسي اسلام نه دي منع کړي.

تاجکستان هم چې یو اسلامي هیواد دي. د څو کلو راپدي خوا کومه تجربه چې د ښاغلي نوري مبارز او اسلامي نهضت نه لري، اسلامي درس د ۱۸ کلنو کم عمر ځوانانو ته منع کړي.
علم او ښونځي سره د ملا جهاد اعلان دي.

په ۲۰۲۱ کي د کوثر پر ښونځي برید وشو، د کابل د پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځي برید وکړ، چې یو لوي تعداد هلکان او اینجوني پکي شهیدان شول.
پدي ډول بیا د اسلام په نامه د علم او پر مختګ مخه ډب کړي . او د شلمي پیړي نه پیل بیا د اګست پر ۱۵ کال ۲۰۲۱ کورني او بیروني حریص لوبغاړي لاس سره ورکړ.

پاکستان د انګریز پر ځاي ناست استازي لري چې د انګریز پرپل پل کیږدي، طالب اختراع کړ. د نصیرالله بابر لښکر او د جنرال حمیدګل دیني زامنو په نامه وپارول، د انګریز نامتو جاسوس لارنس چې ځان مسلمان باله دیني او عربي زده ؤ کار روائي تاریخونه ثبت کړیده، چې عرب ناسیونالستان ئي د عثماني امپراطوري مخ ته راپورته کړل.
نصیر احمد احمدي د دي مطلب سره د (پیر بغدادي) په نامه خوږ رومان سره سم سرخوري د امیر عبدالرحمن خان، نادرخان او امان الله خان مقابل کي د ملایانو د مخالفت خوځښتونه د هیریدو ندي. (افغانستان در مسیر تاریخ ) دا پیښي په تفصیل راوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د حقانيه مدرسه:**

د ديوبند د مدرسـي يوه څانګه ده دا دوهمه کابينه ۱۸ لوړ پوړي د دی مدرسـي د فراغت وياړ لري. جلال الدين حقاني پدي خاطر حقاني تخلص کاوه چی د همدی مدرسي نه د فارغيدو وياړ درلود.
ځيني لا دا هم وائي چی مولوي جلال الدين حقاني د ISI جنرالی رتبه درلوده.

داکتر حفيظ الله خوږلن شعر ځاي دي چی دلته يي راوړم.

محراب هغه، خو امام راته بدل ښکاري
سجده، رکوع، قبله، قيام راته بدل ښکاری

زړه راته وائي چی نور بس کړه اقتدا ورپسي
د دي اجير ملا، اسلام راته بدل ښکاري

د طالبانو په دوهم دور کي حکومت کي د دولت ســتر کســان لکه اميرالمومنين ملاهيبت الله اخوندزاده (اخواندزاده پدی مانا چي پلارئي هم اخوند ؤ. ملا حسـن اخوند رئيس الوزرا، ملاعبدالحکيم حقاني قاضی القضات، نور محمد ثاقب د حج او اوقافو وزير، ملا فريدالدين محمود رئيس اکادمی علوم په غوڅ ډول د اينجونو د تعليم مخالف دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم فصل
# اسلامي نړي

د اسـلامي نړي هيوادونه سـره د اخوت تر عنوان لاندي، افغان سـم اړيکي لري جمله کي د سعودي عرب او مصر الګو ؤ.
اســـلام لومړی د ســـعودي عرب د جزيري نه پورته او په ټولي نړي کي خپور شـــوي . لومړي خلافتي ؤ. چی حضـــرت امويه مورثي کړ. يزيد پاچا شـــو خو پاچاهي نظام په هغه وخت کي نوره هم کلکه شوه، چی د امپرياليزم پښـه سيمي ته ور ورسيده.
اداره او حکومت د پاچاهانو په لاس کي شـــو، مصـــر ســـتر هيواد او تاريخي شـــهرت د فرعون نه نيولي تر موســـی ع او يوســـف ع پوري اســـلامي تاريخ د شهرت پر بنا افغان هم خپلی اړيکي پاللي . سياسي لحاظ هم يو نيژديوالي موجود شـوي ؤ. کله چی ايران لومړي اسـلامی هيواد ؤ اسـرائيلو دولت په رسـمي ډول وپيژند نو مصر سياسي اړيکي ورسره پريکړي.
مصـر خپلي سـياسـي چاري د افغانسـتان سـفارت ته په تهران کي وسـپارلي او ايران هم د سفارت چاري په مصرکي د افغانستان سفارت نه هيله وشوه.

علامه صـــلاح الدين ســـلجوقی افغاني لوي ســـفير په مصـــر کي، د ده پوهی په خاطر، جمال الناصـر ولسـمشـر د مصـر په سـنا کي د ګډون هيله تري وکړه او محمد موسی شفيق د الا اظهر پوهنتون نه لومړي درجه فارغ شو.
د اسلامی اخوت پر بنا د مصر په سهميه کي امريکاته د ماستري د پاره وليږي.
سردار محمد داود خان د جمال الناصر او انوار السادات سره د بيطرفه هيواد په ســـازمان کي بشـــپړه هم اهنګي درلوده. د جهاد په دوران کي د انوار ســـادات ولسمشر خواخوږي د افغانانو به د ياده نه وزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيد جمال الدين افغاني کله چی د الاظهر پوهنتون کي تدريس کاوه او مخ کي هم ځو ځلي د مصـر نه ليدنه کړي ؤ شـاګردان روزلي، چی مشـهوريي محمد عبده دي. چی اســـلامی غورځنګ مخ کښ وو. د دي پوهنتون نه افغاني يو شــــمير شاګردان فارغ شول چی د هيواد په سياست کي مهم رول ولوباوه، استاد برهان الدين رباني، استاد عبدالرسول سياف، استاد وفي الله سميعي عبدالهادي هدايت، اســـتاد نعمت الله شــــهراني او نور چی د دي نهضـــت نه متاثر شـــوي هيواد ته راوګرځيدل. دي کسانو په افغانستان کي اسلامي نهضت بنسټ ايښودونکي دي. اعليحضـرت به ويل چی محصـلين مصـر ته وليږم اخواني راځي، چی روس ته وليژم کمونست
پردی کلتور راغی لکه چی بيټ نيکه ليکي وايي :

سړي چی مري خوړ ئي پخوا وي
ولس چی مرينه نښاني دا وي

ځان ځيني هير شي پر بل معين شي
د بد مرغي د لاري مل شي

او نور په مصــــر کي اســـلامی غورځنګ د پوځی ملی ګرائيانو لخوا تر فشـــــار لاندي ؤ. د دي نهضت مشر حسن البنا هم ترور شو.

د اکتوبر مياشت کال ۱۹۸۱ د پوځي پليټ په ترځ کي انوار السادات ترور شو. د اخوان المســـلمين مشـــران لکه ســـيد قطب، داکتر عبدالقادر .... او نور ۶ تنه سران پدي تور اعدام او نور زندانيان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروســته د ګوند ورو ورو بيا ځان ونيوي . په ســراســری ټاکنو کي ګوند وګټل محمد مرسـي د ګوند مشـر په کال ۲۰۱۳ ولمشـر شـو، ژر تر پوځي برید لاندي راغي او محاکمه او په اعدام محکوم شو، ګوند ممنوع اعلان شو.
پر محمد مرسي تر دي چی پريکړه تنفيذئي د ناروغي له کبله په زندان کي ومړ.

دهيواد واک جنرال عبدالفتاح السيسی په لاس کي وينوي.
سعودی بل عربي او اسلامی هيواد دي چی د اسلامي وروګلوي پر بنا د مکی او مديني په احترام هر افغان ورځي پنځه ځلي قبلي له کبله سعودي ته مخ اړوي. د سعودي سياسی نظام شاهی دي.

هر مســـــلمان اقلاً په ژوند کي يو ځلي د حج په نيت د مکي زيارت په هيله دي. سعودي د تيلو د سرشاره عايد په خاطر په نړي کي په ستر اسلامی هيوادونوکي د خاص اهميت نه برخمن دي. به جهاد وخت کي مرستي به دتل پاره د افغان په زړه کي ۇ . په وروسـتيو کي هم د افغانسـتان سـياسـت نور هم فعاله شـويدی . د سـعودي رول ناديده نه نيول کيږي. سـعودي د هغو درو هيوادونه د ډلي دي چی طالباني رژيم ئي په رسميت وپيژندي . په جهاد کي هم يو شمير عربي ځوانان د مجاهدينو څنګ ته ودريدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ترکيه

ترکيه بل اسـلامي لوي هيواد دي چی افغان ورسـره نژدي اړيکی پالي. دا لوي اســـلامي هيواد او د عثمـاني امپراتوي پـه دوران کي د ۱۲۹۹ نـه تر ۵ پيړي پوري اسلامي خلافت په واک کي پاته شوه. د افغان ولس سره د احمد شاه بابا د وخت نه د اسلامی اخوت پر بنا ورسره دوستانه اړيکي پالل. کله چی انګليسی امپرياليزم سيمي ته رسيږي، عربی ناسيونالست د عثماني امپراطوری مقابل کي ولمســـوي دا امپراطوري د زوال ســـره مخيږي عربی هيوادونه خپله خپلواکي ترلاســـه خو ځيني هيوادنه د انګريز لاس ته لويږي پدي پروســـه کي د انګريز مشهوره جاسوس لارنس رول څرګند دي.
په شلمي پيړي ۱۹۲۳ - ۱۹۳۸ م د ترکيه جمهوريت د مصطفی کمال اتا ترک لخوا تاسيس شو . په جدي ډول سياست او دين سره بيل کړل . بيا هم اسلامي خوځښتونه د دوهمی جګړي وروسته د سره فعاله شول.

بيـا اســـلامي هم نهضـــت فعـالان وو، خو ملی ګرائيـانو او ترکيی پوځيـانو مخ ورنګړ.

شلمه پيړي کی دا دوستي د اعليحضرت امان الله خان لخوا نوره هم کلکه شوه. په سياسي او حکومتداري کي د دي دواړه مشرانو تر منځ هم پکري ؤ، دواړه د تعليم او پرمختک به هدف وو. دواړه مشـران د انګريزي اسـتعمار په ضـد کی ولاړ وو. ترکيه شـه جغرافيايي موقعيت سره د ختيځ او لويديځ د دروازي حيثيت لري اتا ترک (ترک پلار) ســـکولر نظام په څنګ کي او عربي رســـم الخط په ځاي ليکنه او خپرونه و لاتيني ته واړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړي ځل اعليحضــرت امان الله خان ۱۲۰ تنه ځوانان د زدکړي د پاره ترکيه ته وليږل. چې د سقاو د راتګ سره شل تنه اينجونـي بيرته راوغوښتل شوي، او هلکانو د زدکړو د فراغت سره سم د هيواد د خدمت کي ودريدل.
دا لړي د اعلحضرت باباي ملت محمد ظاهر شاه په وخت کي هم دوام وموند.

پـه پوځي برخه کی به ترکي افســـران، حربي ښــــونځي او حربي پوهنتون کي تـدريس پـه ډول د دوي و تجربونـه ګټـه پورتـه کيـده، بـه اردوکي د ترکيی نـه د ارکان حرب په درجه پوځ کي لومړي کرسـی ته ورسـيد، لکه خان محمد خان د دفاع وزير، سـيد حسـن خان او بيا وروسـتـه غلام فاروق خان په خپل وخت کي لوي درستيزان، جنرال سيد خان د کل اردو کومندان او غلام سخي خان د حربی ښــــونځي کومندان . او نور د ترکيه فارغان چې د عصــــري اردو معماران بلل کيدل، ترکيه د جهاد وقت کی د دوي پيروزينه د ياد وړ ده. پدي وروســتيوکي د طالب د بيا راتګ سره، د افغان د پاره د دوي سياست نور هم فعال شـويدي. په ۲۰۱۶ کي د فتح الله ګولن اسلامي تحريک د (نورجو) په نامه ګوند د ولسمشر رجب اردوغان ته راپورته شــول، چې ولس يي مخه ډب کړه. د طالبانو د دوهم راتګ سره د افغان سره د ترکانو سياست نور بيا فعاله شويدي.
د جنرال دوستم په پناه ځاي بدل شويدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ایران اسلامی جمهوریت

ایران چی پخوا فارس نومیدي، د افغان سره اوږد سرحد لري ګډ کلتور، مذهبي او تاریخي مشارکتونه مو ترمنځ دی ایران کي اهل سنت شته، افغانانو هم یو شمیر جعفري مذهب ته ور اوښتي دي.
کله دوي پر افغان حکومت او کله افغانانو په اصفهان کي حکمرانان وو. د صفویانو ګرګین نومی د کندهار والی چی خلک تري په عذاب د میرویس هوتکي لخوا په شب خون تارمار، تر څو په ایران ورپسی ورننوتل.

په کال ۱۷۲۲ ځوان شاه محمود هوتکي ۲۵ کلن ته شاه حسین صفوي خپل تاج ورپسر او تخت تسلیم کړ. هوتکي ځوان د ده عزت وساتي د سن په لحاظ به ئي (پدر) پلار ورته ویل. او پاچهی کورني ته مدد معاش حواله کړ. د شاه حسین د پاچهي کورني ته، یوه اینجلي د ۲۵ زره د طلا جیهز سره د شاه محمود هوتکي په نکاح کړه. (افغانستان در مسیر تاریخ ۳۲۵ مخ )
ایران هم لکه افغانستان د مختلفو قومونو نه لکه کرد، بلوڅ، عرب، ترک، قاجار او افشار نه جوړ دي. ایران کی هم اریائیان شته کوم چی د پامیر د درو نه ایران ته کوچیدلي دي . له همدی کبله محمد رضاشاه پهلوي په کال ۱۳۳۵ هه کي پارس په ایران واړاوه. چی تر اوسه ځیني کسان پارس بولي.

هر بهرني چپاو او تاراج که به د ختیځ یا د لویدیځ نه ؤ دواړه هیوادونه به تري متضرر او نارامه شول. که به سکندر وه که به انګریز او چنګیز او ګوډ تیمور وو.
(دري فارسي) د ایران د فارسي سره نیژدیوالي لري. شاه حسین صفوي پاچا د ځوان شاه محمود ته یو ریښتیني سلاه کار په توګه په خدمت کي ؤ.
شاه حسین مشوره ورکړه چی ایرانیان هم باید پښتو ژبي ته هم پام وکړي او زده يي کړي، کله چی د ترک عثمانیه دولت په یو واکمن او مجهز لښکر پر ایران

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمله وکړه، هوتکی ځوان، د عثمانيانو مخه ونيول او د ايران د خاوري نه دفاع ئي وکړه او د عثماني لښــکر ته ســخته ماتي ورکړه د ترک ۵۰ توپونه او ۱۲ زره مړي پر ميدان پريښودل. او نور ډير لوازم تر پاته شول. هوتکي پاچا د يو مسلمان هيواد مال پر بل مسلمان هيواد حرام وبلل، د ۱۷۲۷ کال سوله، د ترک او افغان دوستي سبب شو. (افغانستان در مسير تاريخ ۳۳۰ مخ) .
د افغانســتان د هريرود او هلمند رود اوبوته ايران تنده لري. چې د هلمند اوبو حقابه د دواړو وروستي پاچاهانو په وخت کي په يو تفاهم حل شوه.
په کال ۱۳۵۲ کي دوو لومړي وزيرانو موســی شــفيق او عباس هويدا ترمنځ لاسليک شول، چې دا دواړه لومړی وزيران يو د خلقي انقلاب او بل د اسلامی انقلاب په طوفانوکي شهيدان شول.
د هلمند د اوبو تړون تراوسه پرځای پاته دی.
روسيه هم د ايران د شمال يوه سيمه د ځان بلل، د جنرال (ارلوف) په مشري د (رود سرد) په سيمه کي د سيدال ناصري د قواو سره مخ شو، چې روسانو ماتي وخوړی افغانانو بيا د ايران خاوره د پردو نه دفاع وکړه او د روســيه د امپراطوري سره د (رشت) په ښار کي ۱۷۲۹ يو تړون لاس ليک شو.

چې شاه اشرف ئي پدي تړون کي اعليحضرت او سر لشکر سيدال ناصري يي سپاه سالار مقتدر ياد کړيدي.
رضــا شــاه پهلوي د اعليحضــرت (امان الله خان هم عصــر دواړه د تعليم او پرمختګ پلويان او در انګريز د اســتعمار مخالف دواړه پاچاهان د انګريز توطيو قرباني شول. انګريزانو د رضا شاه پهلوي پرځاي ئي زوی محمد رضا پاچا کړ. د لويديځ هيوادونو نظام پلوي او د پرمختګ په هڅه کي وو ايران د بغداد په پکت او بيا سينتو غړيتوب درلود او افغانستان غير منسلک پاته شو بيا هم د دواړو هيوادو تر منځ سم اړيکي ټينګي وي.
کله چې د نفتو بازار تود شو، ايران او شاه په يو خاص واک کي موقعيت درلود خو د قم مدرسی د مخالفت سره مخ شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کال ۱۹۷۹ د امام خميني اســـلامی انقلاب ته شـــاه تاب را نه وړ . انقلاب بريالي.
و اسـلامی جمهوريت اعلان شـو. دي وخت کي افغانان هم د روس به مقابل کي په افغاني او اسلامي روحيه کلک ولاړ دي.
ايران اسلامي انقلاب افغانانو په نيک فال ونيوي.
د ايران سـره د پيړيو راپدي خوا کلتوری او تجارتی اړيکي، تګ او راتګ دوام درلود. د سعدي بوستان او ګلستان زموږ په مدرسو او ښونځيو د درس پروګرام کي دي. د يرغل او د جهاد په وخت کي د افغان ولس شـــاته ودريدل. څو ميلونه مهاجريی ومنل، په نړيوال محفلونو کي د افغان ننګه وکړل.
تر انقلابو وړاندي ايران د افغانانو د کار او زحمت نه ګټه پورته کول. ان افغانان ئي د عراق او سوري جګړو ته سوقول، او دا کار اوس هم دوام لري. کله کله د افغان به کورني چاروکي نرمه نرمه لاسوهنه هم کوي.
کله کله يو حجت اسلام و المسلمين تر سرحد راتيريږی، دايکندي او باميان کي ديد او واديدونه کوي. د طالبانو په لومړي واکمني کي په بلخ کي ۳۰ تنه بي ويزي او بی پاسپورته ايرانيان ونيول او اعدام شـول. اسـلامي جمهوريت هم په ۲۰۰۱ کي د امريکايی عمليات، پر طالبانو باندي تائيد درلود.
د ايران اسلامی جمهوريت يو څه شيعيزم ته ترجيع ورکوي. په عراق، سوريه، لبنان، يمن کی د شيعه تحريکونو حمايه کووي.
د بهرنيو چارو وزير جواد ظريف لـه خولی (۲۰۲۱) کي چی د افغاني شـــيعه ځوانانو يو لښکر د فاطميون په نامه جوړ کړي او روزلي دي .د دي ناوړه حالت نه په ګټه پاکســـتان طالب جوړوي او ايران فاطميون وائي د ســـپاه قدس جنرال قاسم سليماني هم کوم وخت باميان ته راغلی او ظاهر زهير والي او باميان څخه ليدنه کړي وه.
دی جنرال هم هري خوا لاس اچـاوه، تر څو د بي پيلوټه الوتکي لخوا پـه عراق کي ترور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايران پدي لټه کي دي چی زړوي وسلي ته لاس رسي ولري. تر يوي کچي مخ ته تللي چی د لويديځوالو د مخالفت سره مخ تر اقتصادي محاصري لاندي دي. پدي برخه کي اسرائيل ډير جدي دي.

زموږ دواړو هيوادونو تر منځ اړيکي د پام وړ دي.
کله کله مولانا محمد جلال الدين بلخي د ځان بولي کله سيد جمال الدين افغاني کله چی په کال ۱۸۸۷ کي د ميوند زمري سردار محمد ايوب د کندهار د ارغنداب په کوتل کي د امير عبدالرحمن د تازه نفسه ځواکونو مقاومت او زور نه درلود مشهد ته ور واوښت او د ايران دولت پناهندګي يي وغوښته.
مګر د ايران د وخت پاچا نصرالدين شاه د انګليس به هدايت بندي او انګريزانو ته وسپاري چی تر اخيره عمره د ميوند د جګړي په انتقام په هند کي وساتي (افغانستان در مسير تاريخ ۶۶۴ مخ).
نظام ځي او راځی بدليږي خو ولسونه پاته وي. او تاريخ خپل ياد داښتونه ساتي. په کال ۱۷۴۷ کله چی نادر افشار په مشهد کي د خپلو ايراني افسرانو لخوا د ترور د پاچا د حرم په تاراج لاس پوري کړ.
خو افغاني پوځيانو د احمد خان په مشري د نادرشاه حرم او ناموس د تجاوز نه وساتی چی د نادر افشار ميرمن د خپل سر د تاج غمي (کوه نور) په مقابل کي احمد خان ته تحفه کړ احمد خان چی وروسته په ...... (بابا) شهرت وموند. (افغانستان در مسير تاريخ ۳۵۳ مخ)
هغه الماسو غمي څو ځلی لاس پر لاس شو. چی اوس اليزابتي دوهمي د انګريز د ملکي په تاج کي ايښودی شويدي. دا غمي افغان د ځان بولي او تراوسه يی هير ندي.
اسلامی انقلاب لکه نور انقلابونه ويني پکي تويی شوي، ........څارنوال ډيري د اعدام پريکړي صادري کړي د انقلاب د بهرنيو چارو وزير صادق قطب زاده بن صدر ولسمشر چی د پاريس نه د امام سره يوه الوتکه کي راغلي ؤ. قطب زاده د انقلاب د مخالفت تور د اخوندانو لخوا اعدام او ولسمشر بن صدر تري خطا شو. فرانسی ته ځان ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هند جمهوريت

تر ۱۹۴۷ پوري چي پاکســـتان نه ؤ جوړ شـــوي په نيغه ګانونډي ؤ هند کي يو لوی شمير کوچيدلي اريائيان او مسلمانان ژوند کوي په افغانستان کي هم بودائي دين پيروان شته.

هند د افغانســـتان په ګاوند کي لوي هيواد دي چی کلتوري، فرهنګی، تجارتي راګړه او ورکړه ورســـره لرو، تاريخ وائي يو ميليون کاله تر ميلاد وړاندي اريائيان د غرو او درو نه او د پامير د ســـيمي نه هند ته هم وکوچيدل، يولوي شـــمير د نفوس د ډيروالي له کبله د لويديځ خوا ته تر آلمانه هم ورســـيدل. google سانسکريت هم تائيد کړيده چی د هند لوي شمير نفوس آريائيان دي. (ار) د اصل په مانا دي ادولف هيتلر دا قوم اصل او نجيب او لوړ نژاد باله. لوي شمير مسلمانان هند که شته، يو شمير د افغاني حکمرانانو په خپل د وخت کي محمود غزنوي احمد خان ابدالي، يا د نور لکه لوديان، غوريان سوريان پر هند حکومت کړي افغاني هندوان چی اريائيان دي پر خپل دين تراوسه پاته دي.

هند اوس هم د وخت افغاني حکمرانانو عدالت مني. هند د افغان د ميو لوي مارکيت دي. هندي کلاسيک موسيقي لکه، د بسم الله خان شاه ني، راوشنکر، لتامنګيش او رفيع خواږه اوازونه په ذهن کيدي.

مادهوبالا اميتابچن، شاه رخ او سلمان خان فلمونه افغانی سينماګانو کي چليدل. د هيواد کلاسيک موسيقي د کابل کوچه خرابات د هند د موسيقي نه متاثره وو. لکه استاد قاسم (زر زري شال يی لنډيږي) يا د سرهنګ پلار استاد غلام حسين (نري نري اوبه راځي ما ډوبوي ) .

استاد نتو دا هغه کسان ؤ چی هند کي زده کړي، د هيواد د محفلو ځراغان وو. خداي به زموږ خرابات بيا خرابات کړي.

پخوا هم لکه دا اوس د هند نه درمل وارديدل دير کسانو د درملني ځاي هند دي. د افغان اړيکي د بهر سره د هند د بندرونو د لاري وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنګ او راتګ آزاد ؤ پاســـپورت ضـــرور نه ؤ. زه چی دا اوس هم د هند به بازارکي ګرځم او راګرځم د بيګانګي پکر راســـره نه وي دوي راته خان وايي خو البته په زړه کي زه پټان يم، چی وم . هندوان په افغانستان کي مذهبي آزادي لري. دا ځوک نه وائي چی د کوم بله ځايه به راکوچيدلي وي.

دوي اصـــلی هغه پخواني اريائيان دي چی دين ئي بدل نکړ. د امارت په لنډه واکمني کي د دي د پاره چی وپيژندل شي پر تټر يوه ټاپه وهلو اړ ايستل چی دا هم تبعيض دي او هم سپکاوي، چی دا کار نازيانو د يهودانو سره کاوه.

د جلال آباد د (ســلطانپور) د ويســاک ميلو په خوښـــی کي به افغانانو هم برخه اخيستل .

د جهاد وخت کي افغاني هندوانو خپل مســـلمان ورونو په څنګ کي ودريدل. په شپو بام ته پورته شوي د الله اکبر چيغي وهلي او اسلام په خطر کي بالـه. زموږ هم وطنه هندو په څرخی زندان کي د الله اکبر په تور راســـره بنديان وو. په اسلامی نظام کي هندوانو د ارامي احساس کاوه.

کله چی د استعمار پښه هند ته را ورسيدل او ٢٢٥ کاله يي د هند وينه وځبيښل، افغان ولس هم تري نارامه وو. د هند سپين او سره زر، خوراکي مثالي او اوچت فرهنګ اروپائيان راجذب کړل. چی کولمبو هم په کال ١۴٩٢ د هند په نيت اخير امريکا کشف کړه.

په ١٩١٩ کال کي کله چی افغان خپلواکي تر لاســه کړه، هندي مبارزينو د پاره کابل د هندي مبارزينو مرکز ؤ ترڅو هند په کال ١٩۴٧ د کرم چند ګاندي تر مشرتابه لاندي خپلواکي ته ورسيد.

انګريز خپله بد نيت بيا هم څرګند کړ، د هند نيمه قاره پر دو برخو وويشـــل او هند يي تجزيه او پاکستان ئي د اسلام په نامه تري بيل کړ.

افغانستان په ١٩٥٢ د هند خپلواکي په رسميت وپيژنده، دوستي د پخوا په شان کلکه پاته شوه په زراو محصلين د لوړو زدکړو د پاره په هند کي منل شوي. د ســـلما بند د جوړيدو، د کندهار د کرهنی پوهنځي، د پارلمان مجلل تعمير او تر درو ميلياردو دالرو مرســـته د يادولو ده. تر ټولو د چابهار د بندر په جوړيدو د پاکستان د ناغيريو نه نجات راکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سیاسي لحاظ هند او افغانستان د غیر منسلک هیوادونو د ګډ سیاست لارویان وو. لوي شمیر مسلمانان د دیموکراسي په رڼا کی ژوند کوي او حق وررسیدلی دي ابو کلام ازاد د پوهني وزیر او ذاکر حسین ولسمشر شو.

جواهر لال نهرو او افغان د وخت سیاستوال خان عبدالغفار او عبدالصمد خان اڅکزي د هندي مشرانو د (عدم تشدد) د سیاست پیروان وو. د هند بي ساري دیموکراسی کی پښتواني افغانان چی هلته پاته دي ژوند کوي. کله کله اوریدل کیږي چی به ځینو ښارونو کي چی اکثریت لري، د لوي اختر د قرباني د پاره د غوائي حلالولو سره مخالفت کوي.

په دهلي کي یو لوي درمسال د مسلمانو په واکمني کي ونړاوه، په ځاي ئي د بابری مسجد په نامه یوه لوي مسجد جامع جوړ شو.

مګر د ځینو افراطي متعصبینو په لمسون د مودي لومړي وزیر په وخت کي خراب او بیا درمسال شو، چی د مسلمانانو د خپګان سبب شو.

د هند علمي او تخنیکي پرمختګ د یو دوست هیواد په توګه ګورو. هند د شوروي په یرغل کي مستقیم مجاهدینو شاته ونه دریدل اما د شوروي نه پدی کار خپه ؤ او د سربازانو د وتلو هیله ئي تري کوله. د طالب د راتګ سره د مقاومت شاته ودریدل.

اتم بم ته هم لاسرسی وموند په نتیجه کي د ترهګری نه دواړه نا آرامه یوو.

۲۰۱۳ لومړي وزیر نارېندرا مودي د پارلمان ماڼي چی د هند په مرسته اباده شوي وه. د احمد شاه دراني و هغه شعر ته هم اشاره وکړه چی ویل ئي:

د ډهلی تخت هیرووء، چی رایادشی
د پښتونخوا د غرو سرونه

استعمار د سیمي ووت خو تیپونه ئي لا پاتي دي. د ډیورند د کرښي او د کشمیر موضوع ګاني لاینحل پریښودي. د حامد کرزي په نامه په دهلي کي یوه څلور لاري ونومول چی د ښي دوستی په مانا ده، بیا هم د انګریز د کاملوینټ غړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پاکستان اسلامي جمهوریت

پاکســــتان په کال ۱۹۴۷ د هند نیم قاري د خپلواکی ســــره د هند نه بیل او پر خپلواک هیواد په توګه وزیږیدي.
د هندي د خپلواکي مبارزینو لکه چند را ماهتما ګاندي جواهرلال نهرو، عبدالصمد خان اڅکزی، خان عبدالغفار خان او ذاکر حسین او نور د کانګرس د ګوند غړو به مقابل کي انګریزانو د مســــلم لیګ ګوند چی د کانګرس نه یی لار بیله وه را پیدا کړ.
حمید تاریخ پوه (History The gate) په ویب سایت نیته ۷,۱,۲۲ راوړیدي چی د الله آباد په غونده کال ۲۹,۱۲,۱۹۳۰ علامه اقبال لاهوري د مســــلم لیګ ګوند د لومړي ځل د پاره اعلان کړه (خلک دا هم وائي چی لاهوري یو معتقد مسلمان هم نه ؤ)

**دائي وویل:** ((آرزو دارم که ایالت های پنجاب، ســــرحد، ســــند و بلوچســــتان حکومت خود مختار به وجود اید چه در زیر نظر برتانیا باشد.))
(زیر نظر ) هغه د استعمار دوام دي، چی دا نظر وروسته د قاعد اعظم محمد علی جناح د خوا هم تعقیب شوه.
دا ویل کیږي چی جناح هم نایب السلطنه بریتانیا Lord Moumtbaren سره پټ لاس درلود. نوي زیږیدلی هیواد نوم پاکستان اعلان شو د کانګرس د مشرانو هلي ځلی ځاي ونه نیوي هندو مذهبه د پاکســــتان نه د هند په لور او همدا ډول د مسلمانانو ۷ میلونه د پاکستان سیمي ته ور واویشل . چی دا هم اسانه نه وو.
یو پر بل یي بریدونه کول دواړو خوا تلفات و درلودل، ولسمشر پرویز مشرف د دي کوچیدو د وخت فجایع په خپل کتاب د (اورپه کرښــــه کي) په تفصــــیل راوړیدي.
پاکستان دوه برخی ختیځ او لویدیځ پاکستان بیلي بیلي سیمي سره په مصنوعی ډول یو ځای کړه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نامه سره يی اسلامی پسوند هم ورزيات شو، چی د (پاکستان اسلامی جمهوريت ) تری جوړ شي، چی د نورو اسلامی هيوادونو لکه مصر يا سعودي د نومو سره د اسلام کلمه نشته.

د پاکستان نوم (پ) پنجاب (الف) افغان چی د پښتنو نه مطلب دي، دوهم لوي قوم جوړوي، (ک) کشمير، (س) سند او تان مطلب د بلوچستان دي.
د پښتنو يا افغانان سهميه يی د ډيورند په ترون کي د افغانستان بيله شوي ؤ صوبه سرحد يا قبايل بلل کيده د پاکستان د جوړيدو سره سم افغان د حق رڼغ پورته کړ.

کله چی پاکستان په کال ۱۳۴۲ کي يونټ ماته شو. د صوبه سرحد اوسيدونکي ټوله پښتانه ؤ او نور ايالتونه د هغه د قوم په نامه ياديدل. د صوبه سرحد نوم هم په (خيبر پښتونخوا) واړاوه.
تر ننه بلوڅ او پښتانه د خپلواکی په هدف مبارزي ته دوام ورکړی. دلاري کي ډير کړاونه وګالل او د کشمير لانجه هم دوام لري.
خان عبدالغفار او اکبر بګټي عمر د پاکستان زندان کي تير شو. څرنګه چی د پاکستان جوړښت د استعمار تر نظر لاندی په مصنوعي ډول منځ ته راغلي ؤ. دوام ونکړ ختيځ پاکستان په کال ۱۹۷۵ د يو شب خون په ترڅ کی پنجابي جنرال نيازي تسليم او د خپلواکي لاس ليک ترواخيست .
مجيب الرحمن د نوي هيواد، بنګله ديش په نامه اعلان وکړ. پاکستان د پوځيانو تر برچي لاندي دي کله به جنرال ايوب خان په سرکي ؤ، کله به جنرال يحی.
او جنرال ضيا الحق او کله جنرال پرويز مشرف.
پاکستان دا پوځي اداره کله مستقيم او کله غير مستقيم مسلطه ده.

د څو پيړي مستعمری وروسته بيا د کامنولت په نامه انګريز خپل نفوذ ته دوام ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انګریزانو تر مشـــري لاندي لکه د بغداد په پوځي پکت او کله په ســـینټو په غړیتوب کي نیول شوي وو. پاکستان اداره د غټ نه نیولی تر واړه په فساد لړلي دي چی ولسمشر محمد آصف زرداری هم دوسیه درلوده، او نوازشریف، مریم شریف او پرویز مشرف هم پټ دي . وطن ته نه راځی، پانبي او میټائي په دوي کي لکه د مور شیدي روا ده.

جنرال پرویز مشـرف په ۱۹۹۹ کي پر لومړي وزیر نواز شـریف کودتا وکړه. هغه زنداني او په اعدام محکوم کړ جنرال ضیاالحق بوټو مړ کړ، پرویز مشرف په واکمني کي بینظیر بوټو ترور شـول. مشـرف پوځي او ملکي واک ته ۲۰۰۸ پوری په لاس کي، وینوي، چی اوس په تبعید کي شپي تیروي، دي هم د فساد تر تور لاندي راغلي.

پاکســتان کي انګریزي قوانین اوس هم چلیږي خو تش په نوم اســلامی دي. ملی اسـامبلی په نیټه ۲۷ سـپتمبر ۲۰۲۲ د نر د نر سره نکاح جایزاو پاس کړه بیا هم د نامه سره اسلامی جمهوریت وائي.

د چپه لاس انګریز ترافیکي مقررات یی ځرګنده مثال دي.

د جنرال محمد ضـــیا الحق تر واکمني پوري فاحشـــه خاني په لویو ښـــارونوکي موجود وي. د لاهور هیرامنډئي اوس هم فعاله ده. د اسلام داعیان مولوي فضـل الرحمن او سمیع الحق چرته دي؟

اسلام پاکستان ته یوه وسیله ده پاکستان لویدیځوالو ته ځان دیموکراسـی شي او اسـلامي هیوادونه د اسـلام دعوا لري د شـتمنو عربی هیوادونو لکه سـعودي او لیبیا نه د اســلام په نامه مرســتي تر لاســه کوي، تش په نامه مســلمانان دي چی عمران خان لومړي وزی د تحلیف مراسمو کی کلمه نشوای ویلاي او د کورنیو چارو پخواني وزیر رحمن ملک کابینه کي سوره فاتحه نه وه زده.

د پوځ شعار ئي (ایمان، تقوا، جهاد دي)

د ۱۳۵۲ ۱۳۵۷ او روسـي ایرغل سره د افغان او پاک مناسبات بل ډول شول، د مهاجرینو سیلاب مخ پر پاکستان شو. افغاني مهاجر د پاکستان لاس کي ولویدل دا یو الهی غنیمت وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کمونستانو او شوروي مقابل کي جهاد د ملي احساس به څنګ کي جهاد هم يوه اســـلامي روحيه باندي وو. د مجاهدينو او مهاجرينو اداره د پوځي اســـتخباراتي څانګي (ISI) ته وسپارل شوه.
د اکوړه ختک او حقاني مدرســـه لاس پکار شـــول، ســـرکاري ديندارا ن قاضـــی حسين احمد جماعت اسلامي يا مفتي محمود د جماعت علما مشران فعاله شول. مولوی فضل الرحمن او مولانا سميع الحق په فتواو پيل وکړ. پاکستان د پيل نه د افغان دښمنی په خپل کورني او بهرني سياست کي لومړيتوب ورکړ.

مطيع الله تراب وائي

دا پاکستان سياستمداران دي نور غوبل نکوي
د فضل الرحمن په خوله دی نور موږ ته ښکنځل نکوي

د حالت نه په ګټه پنجابيان دا عمق ستراتيژي، اصطلاح کاروي ټولو ته څرګنده ده چی روغ نيت نلري.
ځاي لري د يو افغان ځلمي ميرانه راوړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سید اکبر ببرکزي:

پاکستان یوازني ګاوندي ۀ چی د افغانستان سره دوستانه اړیکي نه لري د اکتوبر پر ۱۸ کال ۱۹۵۱ په لاهور کي په یوه لویه غونډه چی لومړي وزیر لیاقت علی خان د پاره یو لکو ۲۴ زره تنو ګدون درلود د ببرک خان ځدران زوي سید اکبر ځدران د خپل ۸ کلن زوي (دلاور) سره هم دی غونډي ته ورغلي . د غونډي په ترڅ کي لومړي وزیر د خپـل بی ادب کرکتر پر بنـا افغـان ولس توهین چی ځدران ته د زغم نه وه.

زوي ته وویل چی ډاریږي خو به نه! ماشوم وویل نه بابا.

سید اکبر د ۱۷ کتار نه پخپله ورسره تفنګچه ډز پر وکړ، چی پرسر او په زړه ئي ولګید. لومړي وزیر ولوید او سید اکبر خان ځدران شهید او زوي ئي که څه هم وړوکي ۀ څو کاله زندان وروسته تر تورخم راتیر کړ شو.

(۲۰۲۰ د تانند ویب سایت)

د خوشحال خټک دا بیت چی را په زړه شو:

لا تر اوسه ماغزه به کرار نده    چا چي زما سره وهلی سر په جنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم فصل
# افغان مهاجر او مجاهد

د هجري د څلورلسمي پيړي د دوهمي نيمائي نه افغان ولس د ناخوالو سره مخ شو. لومړي د سردار محمد داود خان د جنګابښ د انقلاب د کال ۱۳۵۲ چی د پرچميانو نفوذ پکي څرګند وو. په کابل کي د مقاومت په نيت پوه ۳۵ کسيزه ډله چی هغه وخت کي د جوانان مسلمان په نامه يادېده، پاکستان ته واوښتل چی هلته مهاجر بلل کيدل، خو افغانانو دا خپله خاوره بلل، اصلي مهاجر ضياالحق، پرويز مشرف ؤ چي د هند نه راغلي وؤ.

جمله کي ګلبدين حکمتيار، احمدشاه مسعود او حاجي دين محمد هم ؤ د پاکستان لومړي وزير ذوالفقار علی بټو دا يو الهي غنيمت وباله.
د راغلو کسانو ته غير پرانيستي د کورنيو چارو وزير نصيرالله بابر، جماعت اسلامي ته دنده ورکړه چی د راغلو په روزنه کي همت وکړی او مسلح کړي چی د بټو لور بينظري همدا ډول طالبا وروزل او پر افغانستان ئي را کومنده کړل.
امير سلطان په کرنيل امام مشهوره د اردو افسر خپل کتاب (د افغانستان د جهاد داستان) د علی يوسفزي ترجمه په تفصيل بيان راوړيدي.
د پاکستان خطرئي د شوروي تر خطر جدي وباله . د پاکستان سره يو. ډول تفاهم ته ورسيدل هر وخت چی به مناسبات سم ووه، د جوانان مسلمان فعاليت به هم مثبت شو. چی مناسبات به خراب شول. راغلوته به د فعاليت هدايت ورکړه شو.
کرنيل دا هم زياتوي چی پر دي هم خبري شوي وي چی دا ځوانان د افغانستان حکومت ته ورتسليم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تللو افغـانـانو پر پنجشـــير، لغمـان او کټواز بـانـدي څه بريدونه وکړل، ســــردار راويښ شــــو. (چی کلی او کور پـه زور نکيږي) ده هم پـه تغير او تبـديـل لاس وواهه، يوه ډله پرچميان داکتر حسن شرق، جيلاني باختری، مقصودي د هوائي افسر رئيس ارکان

عبدالحميد محتـاط د مخـابراتو وزير فيض محمد د کورنيو چـارو وزير، ضــــيأ مجيد د ګـارد کومندان . پـاچـا ګل وفادار د ســــرحداتو وزير، دګروال عبدالقادر هوائي کومندان، اسدالله سروري د ځانه ليري کړل.
د غوائي د کودتا او د شوروي يرغل سره نور مهاجرتونه هم ډير شول. د افغان حکومتونو په مقابل کي د مقاومت عمليات ميجر يوسف (د تلک خرس) په کتاب کي په ځان پوري ټپلی دي.
پـاکســــتـان چی هر څـه نيت درلود افغـان د خپلواکي د دفاع او د کفر پـه مقابل د جهـاد د وجيبي د ادا کولو پـه خـاطر د قربـاني ميدان تـه ور ودانګل. د غوائي د کودتا او د مرغومي د شپږم بربنده يرغل سره مهاجرت نورهم ډير شو، شوروي او خلقي حکومت د سرحد په تړلو کي زور ونه رسيد.
افغانان يو لوي شمير ايران او پاکستان کي ځاي پر ځاي شول، د پاکستان لاتري راووتل. د کرنيل امام ليکنه پاکســتان د خبرو په محراق کي قرار ونيوي د نړي مشرانو تګ راتګ شو.
د مهاجرينو او مجاهدينو په نامه نړيوال مرستي را چالان شـوي. د افغانانو هم د اوس د پاره ډيورند هير شو، په بل غم واوښتل، پاکستان نور نو دوست شو.

د افغان هدف جهاد او د خداي پاک رضـا ؤ، پاکستان پکی خپلي ګټي پلټلي سوړ جنګ تود شو.
نړي د افغان قرباني درناوي وکړ. خاينانه هدف د ISI مشــــر اختر عبدالرحمن زړه دښمني په زړه کي ساتل،(کابل په اور کي وسوځل شي) شعار پورته کړ.
د افغان د جهاد، د برکته د پاکســتان ســړکان ترميم، د بريښــنا مزي وغځيدل په ګيډه ماړه شول او د اتم بم خاوندان او په نړي کي د سياله برابر شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کومه سيمه کي چی افغانان ځاي پر ځاي شول، ځان مهاجر او بيګانه نه بلل.
کله کله به ئي دا هم ويل چی مهاجر ضـــيأ الحق او مشـــرف دي، چی د هند نه راغلي دي پرويز مشـرف د راکوچيدو بيان په خپل کتاب ډ (اور په ليکه) کي په تفصيل راوړيدي.

پاکســـتان د ملی ګرايانو د نفوذ مخ نيوي او زغم يي نه درلود، کله دلته او کله هلته د ترور ږغ پورته کيدو. عبدالاحد کرزي جنرال عبدالحکيم کتوازي، جنت خان غروال، جنرال نظر محمد نورزي، عزيز الفت، ســـيد بهاوالدين مجروح، عبدالقيوم رهبر يو د بل پســـي ترور شـول. د شـهيدانو دا ډله سـياســـي لحاظ يوه پيژندل شوي شخصيتونه ول.

کريمينولوژي تجربه ده په وژنه او قتل د نورو جرمونو خلاف د مقتول شخصيت د قاتل په پيژندنه کي مرسته کوي دا سياسی وژني وي.
پاکستان عمق ستراتيژي دا و چی هيواد د شخصيتونو نه تش کړی او يا بايد چپ پاته ئې، پاکستان د جهاد د عملياتو نقشه په لاس کي ؤ. لومړي هدف عام المنفعه تاسيسات خرابول ؤ مجاهدين اوس کيسي کوي چی د کندهار د دهلی بند بند او د ننګرهار د نغلو بند به ئي به نښان کي ؤ.
عزيزالله واصفي، عبدالرحمن پژواک او داکتر صمد حامد او محمد حسن ولسمل نور زغم ئي نه ؤ، په مهاجرت کي بلی خواته مهاجرته اړ شـول. يو لوي شـمير افغانان لويديځ ګاوندي ايران ته هم واوښتل.

جهاد په لويه لوبه بدل شــوه. د نړي نامتو جاســوســـی ادارو KGB, ISI,CIA ،MI موساد ساواک او RWAI لاسونه راوړده کړل. د يرغل ورځ د مرغومي ۶ مه د نړي په ســـترو پايتختونو کي، لندن، پاريس، برلين، واشـــنګټن کي په شاندار لاريونو تقبيح کيدل.
پاکستان به هم ځان په خطرکي باله. او افغان مجاهدين ئي د پاکستان په دفاع کي مقدمه جبهه بلل. پاکستان ئي د افغانانو دوهم کور باله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته که د پاکستان مرسته نه واي ابرځواک ته پنجه ورکول به اسانه نه واي. د خواري شپې وي خو عزت نه ډکي، جهاد په شدت دوام لري.

محمد آصف صميم وايی:

لیوني خياله بيا دي څنګ ته شه چی غزل وليکم
بيا دا تيري توري شرنګ شه چی غزل وليکم
دغه شرقي حريص لوي خيټي به ماړه نشي هيڅ
نه مړيدونکي د ماسکو قطبي خرسان يادوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغان مجاهد

مجاهد افغان جنگی ځواک ؤ چی د روس مقابل ته په کلکه ودريد دا مقاومت د ۱۳۵۲ سردار داود خان د وخت نه راپيل ؤ.
د غوائي د اومي او يرغل نه راغلي مهاجر يو شمير نه ئي مجاهد وروزل شول.
مجاهد د پاکستان لاس ته ولويدل، جهاد اداره هم د ISI په لاس کي شوه. پدي وسيله پاکستان برلاسي شوهر تصميم کي د پاکستان نقش مهم ؤ. د جهاد نه نيولي تر جينوا کنفرانس (گورباچوف) د دونالد ترمپ د دوحي تړون او بالاخره د ورستي حالت په نيابتی جگړه بدل شو.
پاکستان د افغانستان پرسرنوشت مسلط شوه د قطعو (توس) ئي په لاس کي دي.
ولسمشر حامد کرزي ۲۱ ځلي او داکتر اشرف غني احمدزی د قمر بجوا دروازه وټکول، پاکستان تر خپل (عمق ستراتيژي) تير نه شو. اختر عبدالرحمن به ويل چی (کابل وسوځل شي).
ملا عبدالسلام ضعيف اوس وائي چی پاکستان دوه مخي سياست لوبوي او مجاهد ذبيح الله پاکستان هم اوس مسلمان نه بولي (هيواد ويب سايت)، youtube ۱۱,۱۲,۲۰۲۱
ISI په افغانانو سکه او نا سکه سياست لوباوه.د مجبوريت له مخي ځينو چارواکو دي اړيکي پالل به د ځينو تر اعتراض لاندي راتلل، لکه مولوي ولي الله غزنوي.

د هغه چاروکي چی د غابښو د توروالي د منځ وړلو درملنه د پاره د ISI د اوپراتيفي پيسونه برخه اخيستل يا د امارت يو وزير يا د ۵ - ۶ ځلي د ISI د اوپراتيفي ناولو پيسو حج ته تلل، پيروزوينه مجاني نه وي عوض غواړي.
(تانند ويب سايت ۲۰۲۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالحي مطمئن هم د ګيلو تر عنوان لاندې په تاند کي ۲۴,۱,۲۰۲۱ د زړه براس څرګند کړي. د تحریک و هغه چارواکو ته چې د اینجونو بسونځي په سوځولو به يي بخششی ورکولي او نن ئي لونې د لوړو زدکړو د پاره په بهرکي دي. يا د خدمت د پاره يو عادي سرباز وژنه روا بولي مګر پخپله د کابل د چارواکو سره ياراني ساتي . او ګوته شهاب الدين دلاورته نيسي چې (ملا عمر به ئي ليوني او جاسوس باله) مطمئن په فرهنګی کميسيون کي د جاسوسانو د موجوديت نه هم شکايت لري. ملا عبدالحي مطمئن چې د چارواکو بشپړ پيژنده لري، لږ څه سپيني خبري کوي. چې ملا په چانته کي څه نلري. يوازي درنده ږيره، غټه خيټه او ټينګي استنجاووته ګوته نيسي (د ده کتاب مخ)

ابراهيم صدر د هلمند د يوي کميټي مشر امير خان متقي په فساد لړلي او د محرم اسناد په ورکولو پاکستان ته تورن بولي، دا اوازي، چې متقي د حج اوقافو وزارت ته په نظر کي ؤ. او عباس ستانکزي د بهرنيو چارو وزارت ته، خو تصميم بل ځاي نيول کيږي (تاند ۲۲,۱۱,۲۰۲۰ ويب سايت)

ثاقب افغان په ۲۲,۱۰,۲۰۲۱ يو ليکنه خپره کړيده. د دي ليکني نه معلوميږي دا جناب هم د دوحي (قطر) د غونډي غړي دي.

او ملګرو د اعمالونه شکايت سره، دا هم ليکي:

د دفتر زياتره غړو د يو بل پر خلاف ISI ته جاسوسي کوي، د ISI د شناخته کارتونو او تعليمي سکالر شيپونو به بدل کي زموږ د صف نه استادان استخدام کړي چې پرلمن يي ملايکي لمنځونه کوي . دي لا دا هم زياتوي چې د دفتر غړي د پاکستان سفارت کي داسي ګرځي لکه د خوابني کور.

په غونډي کي ملا برادر، متقي، سهيل شاهين، مولوي جان محمد د ځان سره زامن راوړيدي. عبدالحی مطمئن هم همدا شکايتونه د دي نړي نه لاړ.

شاعر وائي:

تا چې به حرام ګڼل اوس تاته شوه حلال هغه<br>
زه دی لا تراوسه په هغه ګناه نيولي يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پاکستان ترهګريز سياست

پاکســـتان د اســـلام په جامه کي د خپلو اهدافو د پاره په ترهګري لاس وهي. د حقاني مدرسه پيژندل شوي د ترهګرو ډلو ځاله ده. د ISI د جهاني بيني په دايره کي بنسټ پاله او افراطيان توليدات لري.

د مغز شوئي، د جنت د حورو په هيله د جنت بلبلان (انتحاريان) صادروي. چی د ثواب په خاطر په هري ګناه لاس وهي . د جنت بلبلان محرومه طبقه چی د اينجونو د پلرونه د لوږ ولور له کبله د واده چانس ورته لږدي . نو د اخيرت د حورو په هيله او فکر کي شي.

جنت بلبلان ټوله تنکي او مجرده ځوانان دي چی لاسم فکر نشـــي کولاي. د دي ډلو لست په google کي خپور شويدي. زه يي هم دلته وړاندي کوم.

1 . دولت اسلامی (داعش) ۵۶۶۵ بريدونه ۳۲۲۵۰ وژني
2 . امارت اسلامي ۴۶۷۵ بريدونه ۱۹۵۳۷ وژني
3 . بوکو حرام ۱۶۳۴ بريدونه ۱۶۱۰۸ وژني
4 . حزب تحرير الشهاب ۱۶۱۹ بريدونه ۴۵۹۴ وژني
5 . القاعده ۵۵۰ بريدونه ۱۶۲۷ وژني
6 . ابو سياف ۲۴۰ بريدونه ۱۱۱ وژني
7 . لشکر جنګاوي ۶۹ بريدونه ۷۰۴ وژني
8 . لشکري طيبه ۷۰ بريدونه ۱۷۴ وژني
9 . انصار الشرعيه ۶۵ بريدونه ۱۳۱ وژني
10 .جيش اسلام ۲۴ بريدونه ۱۴۴ وژني
11 .جندالله ۱۴ بريدونه ۲۱۳ وژني
12 .حزب الله ۱۲ بريدونه ۱۶ وژني
13 ...... حزب الله ۳ بريدونه ۴۹ وژني
14 .جبهه ... انصار ۲ بريدونه ۲۰۶ وژني
15 .لشکر اسلامي ۵۲ بريدونه ۱۳۰ وژني

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دي جملي نه ۹ ډلي په پاکستان کي فعاليت لري. google۱۶,۵,۲۰۲۱
دا ډلي د ذکات د مرستو او اعانو، عشر، قاچاق، برمته نيولو د لاري تمويليږي.
د افغانستا معدن ئي په لاس کي دي. او ځينو ولاياتو کي د بريښنا او تليفونو د شرکتونه حق اخلي.
د ځينو دي ډلو سره دولتي چارواکي هم لاس لري.
ملايعقوب چي د زمري پر ۱۵ کال ۱۴۰۱ قطر ته دعوت شو، دا پوره څرګنده چی څه هدايت ئي واخيست خود د (حاجی بشر) قاچاقبر د خلاصون هيله وکړه.
چي دا د طالبانو د قاچاقبرانو سره دوستي بيانوي.

پاکستان پاليسی نور پټه نده. ديوي خوا د ترهګرۍ د ضد مبارزينو په لومړي کتار کي ولاړ، د بلی خوا ترهګر پالي او روزي .
د حقاني شبکه د ځدران ميرني قوم پوري تړي. د تروريزم په کتار کي نړيوال شهرت لري سراج الدين حقاني باندي د امريکا لخوا ۵ ميلونه دالره جايزه اينسودل شوي ؤ، کله چی کورنيو چارو وزير شو جايزه لس ميلونو ته پورته شوه.
سراج الدين حقاني بل نوم خليفه دي پخوا به امير المومنين ته هم د اسلام خليفه ويل کيده، يا خلفاي راشدين، مګر په موږکي د حمام کيسه مال ته هم خليفه وايو، دلاک ته هم خليفه وايو، پو نه يم چی دي کوم يو دي. خو په تلاوت کي غلطي تري کيږي. مخ يي په حجاب کي دي چی بايد و نه پيژندل شي. دوي ټوله دا ډول دي ملا حسن خبری نه کوي، اميرالمومنان فزيکی موجوديت په شک دي. چا د نژدي ندي ليدلي.
لومړي وزير چی دوي ورته رئيس الوزرا او ۱۸ تنه د طالبانو لوړ پوړي چارواکي په تور لست کي دي.
انتحار، د ترور او انفجار دنده حقاني شبکي ته منسوبه ده.
پدي ورځو کي استاد سياف کنايه ډول په خطاب کي طالبانو نه وپوښتل چی (حمله انتحاري روزنځي اوس هم شته که وتړل شول) ؟
ځيني مستند خپاره شوي، کوم چی زما لاس ته راغلي په اتفاق سره ګوته پاکستان خواته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وائي چې د امارت اسلامي په لومړي دورکي طالب ISI په سپارش په داخل کي ځیني سـیمي د القاعدي ترینـنګ د پـاره پـه واک کي ورکړي وي (تـاننـد ۱۷,۲,۲۰۲۱ خپره شوي )

مک ماستر د دونالد ترمپ د شورای امنیت مشر چی به افغانستان کي ډیر وخت تیر کړي . په وضـع سـم بلد، کانګرس ته د پاکستا د دي دوه مخي سیاسـت په مقابل د سزا غوښتنه کړیده. د تلي ۱۶ کال ۱۴۰۰ youtube پاکستان په امریکا او CIA د ټول عظمت سره لوبي کوي.
پاکسـتان طالبان د افراطیت ته هڅوي، او په ظاهره نړیوالو په وړاندي د طالب نه سرټکوي.
په کال ۲۰۰۸ کي طالبان بیا راژوندي کړل، او بریدونه پیل شـول، د سـیګار د راپور پـه حوالـه پدي ۲۰ کالـه ماموریت کي ۲۴۴۳ تنه امریکائیان او ۱۱۴۴ د ناتو نو غړو هیوادونو سربازان وژل شویدي.
دا باید وپوښـتل شـي، چی طالب څوک دي، چیری روزل کیږي او چیري تمویل او تجهیز کیږي. د دي راپور پـه حوالـه ۶۶ زره افغـان سـرتیري او ۴۸ زره ملکیان وژل شویدي.
ولسـمشـر حامدکرزي به تل د اعتراض ؤ، چی ترورسـتان په افغانسـتان کي نه بلکه، ځاي معلوم دي.
پدي ربښتیا ویلو جوبایدن هغه وخت کی د اوباما مرستیال ؤ خپه شو او د غونډي نه پورته شو د دفاع وزیر (رامسفلد) هم همدا پکر درلود.

آلماني خفیه پولیسو په صـراحت وویل چی پاکسـتان ډبل رول بازي کوي د یوي خوا د ترهګرو د مبارزي په کتار کي ولاړ، د بلي خوا هغه حمایه کوي.
google۳۰,۱۰,۲۰۲۰
جنرال مـایـک مولر د سـنـا پوځي کمیتي تـه پـه کـال ۲۰۱۱ راپور ورکړ، چی پاکسـتان د ۲۰۰۲ تر ۲۰۱۱ پوری بیا د سـره طالبان تنظیم کړل او دائي هم زیاته کړه چی طالب د ISI یوه رسمي څانګه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اروپا د اتحاديي مشره (اورزلا فون بلکه لاين) د طالب جهاد د هيواد د خرابي په نيت بولي utube yo۲۲,۱۱,۲۰۲۱
دا ميرمن وړاندي د آلمان د دفاع وزيره ؤ، چی سربازان ئي افغانستان کي د ناتو په چوکات کي دنده درلوده، د افغانستان نه بشپړ معلومات لري.

تانند ليکوال سارا چيس: د خوشحال حبيبي ژباړه ۱۵,۸,۲۰۲۱ ميرمن سارا د افغان اوسنی نظام خرابي د پاکستان لاسوهنه او کورني فساد دليل راوړي.
دا هم زياتوي چی پاکستان د ايران او شمالی کوريا سره هم د زروي وسلی په ترويج مرسته کوي. پاکستان د نړيوالو لخوا د ترهګري په لست کي درج دي. چی دا بسنده ندي. امريکا تهديدوي چی د فشار په صورت کي به چين يا روسيه ته لاس وروړد کړي.
د مايک په خبره طالب د ISI يوه رسمي څانګه ده، پاکستان به دوحه کي دوی د ۲۰۲۰ فبروری مياشت کي د امريکا سره په يو ميز کښينول. طالب د پاکستان د ګټه ساتونکی او د خپل هيواد په خرابيدو دي .
و مو ليدلي چی دي نيابتي جګړي نتيجه دا شوه چی د اګست پر ۱۵ (۲۰۲۱) کال طالب بيا مسلط شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم فصل
# پاچاهي نظامونه
## د هیواد راغلي قوانین

بشـــري ټولنه پوه شـــول، د ټولني د نظم د پاره لاربښـــوني او قانون اړین دي، د تکرار عمل په دود بدل شو. او دود به په قانون تر ځو الهي احکام نازل شو.
۲ زره کاله تر اسلام وړاندي، تورات د افرادو تر منځ د ملکیت حدود وټاکل . د ګناه په مقابل کي سزا.
مسـحیت هم د دردونو د او فقر د تسـکین د پاره لاربښـونه کړیده. اسـلام حدود و ضـــع کړل الهي ادیان ټوله یو دي. مســلمانانو پر ټولو ادیانو او آســماني کتابونه ایمـان راوړي. یوازي پـه شــــریعت کي توپیر دي. انبیـا و بـه د دولـت او دینوي چاروي دواړه پاللی کول.
زبور، تورات، انجیل او فرقان یو د بل پسی نازل شول.
چنګز هم د (یـاســـا) پـه نامه قانون درلود غلا او زنا ســـزا درلوده. دا هم پکی راغلي ؤ، څوک چي د قانون اطاعت وکړي پر ښځو او ماشومانوئي باید رحمت وشي. (افغانستان در مسیر تاریخ ۱۹۵ مخ )

بشـــــري قوانین هم لکه الهي قوانین د حالت او زمان په نظر کي نیولو ســـــره د تعدیل بڼه درلود، مثلاً په اسلام کي هم شراب تدریجي منع شول

**دولت باید قانون ولري او هر قانون دولت**

لومړني انســـانـان چی دســـنـګ تراشـــــي وخت کي د یخني او توده ځی نه په ســــموڅوکي اوســـیدل، نارینه به په ښـــکار بوخت ؤ، ښـــځو به داني او میوي راټولولي او وروسته کي هغه داني پاشلي او کرلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند په ســموڅوکي ؤ او لباس د حيواناتو د پوســتکو نه . د دندو ويش راغي، تکړه ځوانان د وخت وسـله په لاس د وحشــي حيواناتو نه ســاتل دنده ؤ. خو په وروسته کي هغه وحشي حيوانات لکه اس، غوا، پسه اهلي کړل.

## د هيواد اساسی قوانين

قانون د فرد، ټولني او دولت مکلفيتونه او اړيکی تنظيموي. په هر اساسي قانون کي کوم ځوک چی افغاني تابعيت لري بلا اســتثنا (افغان) دي. د نظام ډول هم پکي تشريح شويدي.
پدی ډول حق او مکلفيت يی د ټولني او دولت مقابل کي تشــخيص ســويدي. د تابعيت تعريف جامع دي، هيوادونه شـته چی مختلف قومونه پکي ژوند لري لکه ايران کي، بلوڅ، کرد، عرب، ترک، قاجار او افشار او داسی نور هم شته مګر بيا هم ايراني دي. پاکستان هم څلور ستر قومونه، پنجابي، پښتون، سند او بلوڅ، مګر بيا هم هغويوځان پاکستاني بولي.

په افغانســتان کی هم تاجک، هزاره، ازبک او پښــتون غټ قومونه، ان هندو او سيک هم افغان بلل کيږي، دا قومونه موږ نشي سره بيلولي. افغان يا افغانستان د يو جغرافيائي نه مطلب دي . د ملي احساس پر بنا د هر فرد دنده ده، د وحدت په لارکي ګام واخلي.
ملی وحدت، ملي ارزښتونه يو تعريف شوي اصل دي. خلاف يی ملي خيانت بلل شويدي.
نړي کي هيوادونه شته چی د يو کس په نامه يو لوي هيواد ياديږي. لکه سعودي عرب او امريکا.
ســعودي عربســتان د يو شــخص په نوم ملک ســعود په نامه شــويدي. امريکا د امريکوس پوچی ايطالوي ملاح په نامه شويدي.
د هر بدلون د پاره مخ کي شرايط رامنځ شوي وؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مشروطه خواهان

**ترک مال ترک جان ترک سر**
**در راه مشروطه اول قدم است**

د هر بدلون د راتګ د پاره لاپخوا يو سياسي بستر جوړ وي. امير حبيب الله خان په دوران کې د بدلون غوښتوکي او د هيواد د نخبه کسان يو تحريک د مشروطه خواهانو په نامه جوړ شو. چې د تولواک، واک ور محدود کړي او خپلواکي خپله کړي . د دې عقايد و د خبرولو پاره د علامه محمود طرزي په ابتکار سراج الاخبار هم چاپيدي. او وليعهد امان الله خان ئې هم غړيتوب درلود. د انګريزانو هم نه دا نهضت خوښ ؤ او نه دا اخبار.
د حربي فابريکې کاريګر محمد عظيم، ورځني راپور به ئې اميرته رساوه.
چې په مقابل کې (بريګيډ) رتبه واخيستل په برګيډ عظيمو مشهور شو. جنرال نبي عظيمي د وروستيو بدلونونو کې هم لاس درلود چې د بريګيډ عظيموف را ره ؤ.

امير نهضت تر بريد لاندې ونيوي، نهضت وځپل شو او ځيني غړي ئې ونيول او بنديان او ځيني اعدام شول.
د مولوي احمد جان الکوزي زامن اسدالله خان او د حبيبي مکتب استاد محمد سرور واصف او وراره عبدالقيوم خان د نهضت په جرم په دار شول.

په وروستي لحظه کې واصف کاغذ وغوښت او دا بيت ئې وليکي:

ترک مال، ترک جان و ترک سر
در راه مشروطه اول منزل است (افغانستان در مسير تاريخ ۷۱۹ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيد مسعود پوهنيار هم په خپل کتاب (ظهور مشروطه خواهان) په ۴۹ مخ کي د ۵۳ تنو زندانيانو نومونه راوړيدي.
نهضـــت د دي ســـره آرام نشـــو تر څو په مرموز ډول امير حبيب الله په کال ۱۹۱۹ د لغمـان پـه کله کوش کی شـــهيد شـــو، وليعهد امان الله خان د پرتخت کښيناستو سره سم د خپلواکي اعلان او د اساسي قانون په پکر کي شو. چی د حکومت واک د قـانون پـه چوکـات کي را محـدود کړي. آزادی د ټولو د پـاره، مرئيان هم آزاد کړل (افغانستان درمسير تاريخ ۶۱۰مخ)

نوره نړي کي هم د فرانســـي تر انقلاب ۱۷۸۹ پوره د دين او دنيا چاري د پاچا په واک کي وي ده به ويل (چی قانون زه يم).
په اسلامي هيوادونو کي پاچا د اسلام د خليفه بلل کيدو او خليفه د بيعيت د لاري تاکل کيدو، دا اصول د حضرت امويه په وخت کي د يزيد په ګټه په مورثي بدل شوه.
په فرانســه کي د انقلاب په ترڅ کي اســاســي قانونو راووت. نورو هيوادو هم د فرانسي نه زده کړل، پاچهی په جمهوريت بدله شوه.
تر ټولو وړاندي امريکي د خپلواکي د اخيستلو سره سم په کال ۱۷۸۷ اساسی قانون د جورج واشـنګتن په وخت کي راوويسـت. که څه هم ځيني او پرمخ تللی هيوادونو کي لکه جاپان او انګلستان تر اوسه هم شاهي او مورثي نظام چليږي .
اســـلامي هيوادونو کي پاچا د اســـلام خليفه ضـــل الله بلل کيده دا آيات مبارک (اطيعو الله و اطيعوالرســـول و ولي الامر منکم) رعايت په اطاعت مکلف دي هيواد په همدي کال همدا ډول چی امان الله خان لوړه کړي ؤ.
په کال ۱۳۰۱ هه اساسي قانون وموند.

تراوسه افغان ۷ اساسي قوانين تجربه کړي چی هر اساسي قانون ډير دوام ندی کړي، او د بل نوي رژيم تر بريد لاندي راغلي. او کله کله به نظام او دولت بی قانونه هم وچليدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مشروطه خواهانو د ارمان سره سم په ۱۳۰۱ کي افغانستان د اساسي قانون په ۷۳ مادو کي نظام نامه اساسي په نامه د لويه جرګه لخوا کي پاس او نافذ شو، چې پدي جرګه کي ملکه ثريا هم د پاچا څنګ ته ولاړه ۋ.
لويه جرګه د پيړيو راپدي خوا د هيواد د نظام عنعنوي، تاريخي د رکن په توګه منل شويدي، د مشرانو، پوهانو او مطرح کسانو او ديني علما پکي ګډون کووي ليکل شوي اساسي قانون په سيمه کي هغه وخت بي سارى ۋ.

پاچا تعليم او تربيه، پرمختګ ته مخه کړه پخپله په لږ وخت کي د لوړ اعتبار خاوند شو. شوروي لومړي هيواد ۋ چې لنين د افغان خپلواکي په رسميت وپيژندل. آلمان امپراتور هيندن بورګ برلين ته دعوت کړ.
او په درنښت يي د ده هرکلي وکړ. د سفارت د پاره ئي په برلين کي ځمکه ورګړه چې ببرک کامل په دوران کي د سفارت مستشار زلمي شهباز خرڅ کړ پيسي ئي معلوو نه شوي څه شوي.
د رضا شا پهلوي او اتا ترک سره خاصه دوستي درلوده. شاه ايران هم د سفارت ځمکه ورکړه، خو انګريز د پخوا په شان دښمن پاته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی اساسي قانون

شد يکبارگی با جان و سر دل گرفتارش
دهم خون عزيز خويش تا بسازم گلزارش
امان الله خان

دا قانون چي نظام نامه بلل کيده، دي قانون د لويه جرگي تصويب او تائيد دلاري مشـــروعيت پيداکړي. لويـه جرگه د تاريخ په اوږدوکي د يو رکن په توگه منل شـــويدي. چی تر ميلاد وړانـدي هم بـه افغـانـانو کي د يو مرجع په توگه پيژندل شوي وه. (اساسي قانون ته لنډه کتنه کتاب ۷۵ مخ )

د ۱۳۰۱، ۱۳۱۰، ۱۳۴۳، ۱۳۵۵، ۱۳۶۹، ۱۳۸۲ اساسي قانون د لويه جرگي د خوا پاس شويدي.

لوي جرگي په تاريخ کي په مهمو موضـــوعاتو به ئي تصـــميم نيوي، البته دی پريکړي يو وزن درلود . ۱۳۸۲ کال اســاســي قانون په ۱۱۰ مادو کي په بشــپړ ډول تعريف شـوه. لويه جرگه د دولت د يو رکن په توگه پيژندل شـويده، چی تر ميلاد وړاندي هم دود ؤ، (اســـاســـي قانون ته لنډه کتنه کتاب کي ۷۶ مخ) په ام البلاد کي (بلخ) کي هم يما او کانيشـکاه په عمومي او سـراسـري ډول په يو لوي دښته کي راټول او پاچا به ئي تصميم نيوي.

احمد شــاه دراني د شـير سـرخ لويه جرگه او د حاجي مير خان نيکه (ميرويس هوتکي) د مانجي لويي جرگي تاريخ راوړيدي.

دا مو وليد د هر هغه نظام سـره چی د لويه جرگي تائيد و سـره نه وو، دوام ئي ونـکړ.

نظام نامه اساسـي ۱۳۰۱ حجری د هيواد لومړي اسـاسي قانون (خپلواکي د ټولو د پاره ) اعليحضـرت امان الله خان د اســاســي نظام نامي په نامه چی ۷۳ مادي لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړي او ۱۶ مادي د اتباع ترمنځ مساوات او برابري.
دوهمه ماده د اسلام مقدس دين.
څلورمه ماده دولت نظام پاچهي او مورثي
اتمه ماده د افغان تعريف .
يولسمه ماده د مطبوعاتو ازادي.
څلوريشتمه ماده د شکنجي او زجر ممانعت د مسکن مصونيت .
پنځه ويشتمه ماده د حکومت.
ديرشمه ماده د ملی شورا .
پنځوسمه ماده د محاکمو او شپږ پنځوسمه ماده د ديوان عالي چی اوس ستره محکمه وائي پکي تعريف شويده.
نه شپيتمه ماده د دي قانون هيڅ ماده ساقط او قابل تعديل نده. صراحت لري.
دي قانون ديموکراسي اصولو مهم مواد په پام کي نيول شوئی وو، خو امپرياليزم د انتقام به لټه کي ؤ، ارام پاتي نشو. کورني خائنانو سره په ګډه لاس پکار شول، د پاراچنار نه د جنوری پر ۱۸ کال۱۹۲۹، حبيب الله د سقاو زوی راولمساوه.
پاچا کندهار ته لاړ هلته د سر او سامان سره د کابل په لور راوخوځيږي.
تر زابل او مقر راتير شو تر غزنی راورسيد.
دښمن پوځ دسيسه بازه، د افغانستان بشپړه پيژندنه دلود، د غزني اندړ د سقاو د زوي په پلوي راوستول . موضوع ته دراني او غلجي د قومونو رنګ ورکړ. په داسي حال کي چی سقاو نه دراني ؤ، نه غلجي .
غازي به وينو لړلي تخت و نه غوښت استعفی وکړه د جګړي نه پر شا شو د ده لور هنديا وائي چی تر مرګ پوري د افغانستان خاوره د توشک لاندي ورسره وه.
ده به د وطن دميني دا بيت تل تکراراوه:

شد يک بارکي با جان و سر از دل ګرفتارش
د هم خون عزيز خويش تا سازم ګلزارش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سقاوي قوانين

د جنوري پر ۱۸ کال ۱۹۲۹ حبيب الله د کوهدامن د امين الله سـقاو زوي ارګ ته ننوت، پاچا شو، اساسي قانون لغو کړ.
هغه ئي کول چې زده ئي ۀ ښـونځی رخصـت، ماليه او عسـکري معاف کړل. بودنه بازي ازاد
د امانيه دوري ۱۲۰ تنه هلکان او اينجوني چې د زدکړي د پاره ترکيه ته ليږلی وو، اينجوني بيرته راوغوښتلي.
په وژولو پيل وکړ، سردار محمد عثمان خان او والي علي احمد خان او نور څو کسان ووژل څوک ژوندي ښخ کړل.

سيد حسين د دفاع وزير حميدالله ورورئي د معين السلطنه په توګه، استاد خليل الله خليلي د بلخ مستوفی او د ده پخواني بادار ملک حسين د کابل والي وټاکي. د وخت شاهدانو نه کيسه کوي.
يوه ورځ يو هلک د غلا په تور د کابل والي ملک محسـن ته چې هغه وخت ئي دفتر په چهاراهي توربازخان کي ۀ راوست.
والي امر وکړ چې دا تاکاوي ته کړي مجرد ځوانان ور خوشـي کړي. کوم سپين ږيري چي دلته حضور درلود.
دا کار ناوړه باله هلک بيرته راوغوښت او نوئي د اعدام حکم صادر کړ.
هلک په ژړا وی ويل: هغه لومړنی سـزا ئي منله دا سـزا حکم زموږ د مارشـال دوسـتم هم عادت ۀ نه يوازي پر حاجی ايشـچي بلکه نورو ته هم چې په غوصـه کي به شو د دي سزا حکم کاوه.
د اســتاد غلام محمد غبار د تاريخ په ۸۱۷ مخ کي راغلي، کله چې د جګړی په ترڅ کي سـقاو په شــهراراکي ټپي شــو، د انګريز ســفارت يووړ او درملنه ئي وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امان الله خان د پلوي نه د هزارګانو د مخ نیوي د پاره فیض محمد کاتب ته دنده ورکړه شوه، کله چی فیض محمد هزاره ناکامه راوګرځید. نو سقاو تر وهلو لاندي مړ کړ.

لکه چی داکتر نجیب په نجیب (ګاو) باله همدا ډول حبیب الله خپلو ملګرو (قوچ) باله.

ســقاو د ژورنالیزم پلار محمود طرزي د اعدام حکم صـــادر کړ. هغه وکولاي شواى چی د کندهار نه د اسلام کلا د لاري ترکیه ته ځان ورسوي.

چی تر سرحد اوښت دا بیت ئي ووایه:

در غربت اگر مرگ بگیرد بدن من
کی کند مرا قبر، کی بدوزد کفن من
تابوت مرا بر سر کوهي بگذارید
تا باد برد بوي مرا در وطن من

(افغانستان در مسیر تاریخ۸۱۹)

پدي ورځوکو د (لطیف یاد) لخوا میدیاته راوتلی په ۱۹ ماده و کي د هغه وخت په ادبیات د ده د حکومت خط مشي په مانا دي . سقاو لیک نه درلود نو یوازي پر فرمان شاهي مهر لګیدلي، ۵ ماده کي د اینجوني ښونځي تړل. او د بالغ ښځو او اینجنو د کوره وتل د ولي د اجازي پرته منع کیدلي. د سـقاو د فرمان د قانون په توګه وؤ.

۷ ماده: انګریزی، فرانســـوي او آلمانی ښـــونځیو تړل. د اماني د وخت اینجنو خارج ته لیږل شوي راغوښتل.

۶ ماده کی د ږیري او بریتو خریل منع کیدل. ۱۷ ماده کی حضرت مجددی چی د اسلام پیشوا دي د بند نه خوشي کول (صادق مجددي او معصوم مجددي د شاه په ضد به لمخولو تورن وه ) افغانستان در مسیر تاریخ ۸۱۸ مخ .

۱۹ ماده کی د ملا عبدالله (په ګود ملا) مشهور مرقد جوړیدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سقاو ډیر پاته نه شو ۹ میاشتي لانه وي تیر چی د خپلواکي د ډګر قومندان پر را ورسید.

سردار محمد نادر خان د خپلواکي د ډګر کومندان، دی وخت په پاریس کی لوي سفیر ؤ، د هیواد د حالت د خبریدو سره سم را وخوځید.
سردار په هند کي زده کړي درلودي، پښتو، دري، اردو او انګلیسی ژبو مسلط ؤ. د پکتیا د لاري پر کابل عملیات پیل کړه (سقاو مقاومت مات او د ۹ میاشتو پاچاهي ختم شوه، او مجازارت شو.

سردار محمد نادر خان په کال ۱۹۲۹ د عیدګاه په مسجد کي د یوي لویه عونډي لخوا پاچا ونومول شو. او پر مختګ لار ونیول. په کال ۱۳۱۰ کي نوي لیکل شوي اساسي قانون د اصول نامه اساسي په نامه د لویه جرګي لخوا تصویب واخیست.

استاد شهسوار سنګریار د تانند ویب سایت ئي کال ۲۰۲۰ د افغانستان په یوه پیړي کی تر عنوان لاندي لیکي :
چی د غازي محمد نادر در راتګ د اوازو سره سم هم ملایانو د ده د وژلو فتوا صادره کړه.

سردار نادر خان هم د علم او پرمخ تګ د اعلیحضرت امان الله خان لار تعقیب کړه، البته په مهارت. طب چی د طبیبانو به لاس په ډیر ابتدائیه ډول په لاس کی ؤ. خپل د علي آباد کور لومړی فاکولته د طب جوړه کړه.
د ده نه وروسته محمد ظاهر خان ښوونځي او زده کړه اجبار اعلان کړه. او د ملکي اداري د پاره د حکامو ښوونځي تشکیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳۱۰
## اصولنامه اساسي

د ملايانو لوست زده وو، مګر ليک نه. په څو کليو کي به يو څوک پژندل شوي ؤ، چی ليک ئي هم زده ؤ. هغه ته به ميرزا ويل کيده، او د احترام وړ ؤ . وائي امير عبدالرحمن خان هم بيســـواده ؤ، چی په وروســـتيوکي د فراري وخت کي ليک او لوست زده کړ. کسب او صنعت ابتدائي ؤ.

دي اصـــول نامه ۱۱۰ مادي درلودي. د عنعناتو ســـره ســـم د لويه جرګي تائيد واخيست، دا قانون د ۱۳۰۱ قانون سره نژديوالي درلود.

لومړي ماده دين اسلام، ۵ ماده شاهي نظام او مورثي.

څلورمه ماده دري رنګه بيرغ .

شپږمه کی تحليف .

نهمه ماده د اتباع مساوات.

يولسمه ماده د اسارت ممانعت.

شپاړسمه ماده د استوګن ځاي مصونيت.

دولسم ماده د شکنجي او زجر ممانعت.

درويشتمه ماده د مطبوعاتو آزادي.

اووه ويشتمه ماده ملی شورا .

څلور اويامه ماده مجلس وزرا.

اووه اتيايمه ماده محاکم تعريف شوي ؤ.

اوشپيتم ماده: شوراي ملی مجلس عيان چی اوس مشرانو جرګه بلل کيږي.

يواوياوم ماده: د مجلس مشوره په نامه ولايتي شورا.

د اصـــول نامي د ضـــميمي په لومړي ماده کي د بهرنيو چارو وزارت او اردو افسرانو ته د بهرنيو ښځو سره نکاح منع ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا او ولسمشر چې عين وخت کي د ستركومندان په توګه پيژندل . بايد هم په پام کي وي، هغه وخت کي د بهرني ښځی سره نکاح كس وزير کيداي نشولاي.

د ســـردار نادر خان واک ډير دوام ونه کړ. په ۱۳۱۲ په ارګ کي د ده د خوا د ښونځيو شاګردانوته د تشويق په خاطر په خپل لاس د شـهادتنامه د ويشلو وخت کي، د شاكرد عبدالخالق لخوا په ورسره تفنګچه وويشتل شو او شهيد شو.

ځوان وليعهد محمد ظاهر پاچا شـــو، دا قانون ۳۳ كاله وچليد، تر څو د وخت د غوښتني سره په کال ۱۳۴۳ نوی اساسي قانون د لويه جرګی لخوا پاس شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سياسي خوځښتونه

د وخت او زمانه په غوښتنه او د نړي بدلونونه د تقاضا سره سم، به نو شرايطو برابر نوي اساسي قانون بايد ولرو.
د ويښ ځلميانو تحريک لکه د امير شـهيد وخت کي چې د مشـروطه خواهانو نهضتت ؤ. دلته و ويښ ځلميانو تحريک را غوړيدلی وو د سمون غوښتونکي ؤ. چې پيژندل شوي کسان، فيض محمد انګار، محمد علم بڅرکی، جيلاني الکوزي، عبدالهادی بهر، قاضـی صـمد، قاضـی بهرام عبدالروف بينوا، ګل پاچا الفت او نور .
نور محمد تره کي هم د دي تحريک غړي ؤ.

بلي خواته نداي خلق چپي ګرايان لکه داکتر عبدالرحمن محمودي، علی اصـغر مير علی احمد شامل آقای تاج، مير غلام محمد غبار، او ملا محمد اسمعيل بلخي . دا د حکومت تر بريد لاندي راغلل زندان کي واچول شول.
اما تاثيرئي پاته ؤ. د سمون او ديموکراسي ئي غوښتل.

په ۱۳۴۳ کال کي د پاچا د تره زوی سـردار محمد داود خان د لومړي وزات نه اسـتعفی او داکتر محمد يوسـف لومړي وزير شـو، چې د نوي اسـاسـي قانون د تدوين د پاره لار هواره شي.

د اسـاسـی قانون د تسـويد د پاره د هيواد د نخبه پيژندل شـوي کسـان لکه، عبدالرشـيد خان الکوزي، نوروز خان (پخواني د ملی شـورا رئيسـان) : داکتر صمد حامد د پوهنتون مشر، عبدالهادي داوي.
د حقوقو د پوهنځي استاد حميدالله، محمد صـديق فرهنګ د شمس الدين مجروح د وخت د عدليه وزير د مشرتابه لاندي چې محمد موسی شفيق د اساسي قانون د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تسويد د کميتي د منشي په توګه و. په فعاليت پيل وکړ. دا قانون په کال ۱۳۴۳ د لوي جرګي لخوا په يوسلو اته ويشت مادوکي پاس شو.
کميتي کي د مصـــر قانون، ســـويس او نورو هيوادو د تجربونه په ګټه د کلتور د دين او په چوکات کي د وخت او زمان په پام کي نيولو سره مسوده ترتيب کړه.

پاچا دعوا طلبانه حاضـــر شـــو چی واک محدود او مشـــروطه شـــاهي نظام تمثيل کړي.
تفکيک قوا په کی څرګند وه، ســـلطنت او حکومت ســـره بيل وو. بشـــپړ ډول دي قانون کي د ديموکراسي پرنسيپونه په پام کي نيول شوي وه. د لومړي ځل د پاره په کابينه او ملي شوراکي د ميرمنو د پاره هم لار پرانستل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوم فصل
# انقلابی نظامونه
# د افغانستان اساسي قوانين

اساسي قانون ديموکراسي په ډيرو هيوادونو کي د انقلاب او په زور راغلي وي، خو پاچا په خپله پيروزنه ديموکراسی او اساسي قانون راوستل .
نظام پاچاهي او مورثي، پاچا او ميرمن افغان او مسلمان.
لومړي ماده: د افغانستان هر تبعه افغان دي.
۲ ماده : دين اسلام، او دري رنګه بيرغ .
۹ ماده : سلطنت او حکومت سره بيليدل
شاهی کورني تشخيص او په حکومت، شورا او ستره محکمه کي برخه نشی اخيستلاي.
۷ ماده : پاچا د خپلواکي د مځکی د بشپړتيا او اساسي قانون ساتونکي او د ملی وحدت محور
۲۶ ماده : کرامت انساني .
۲۹ ماده : د ملکيت مصونيت .
۲۸ ماده: د مسکن د مصونيت د پاره.
۱۰۳ ماده، څارنوال د لومړي ځل لپاره د دولت په تشکيلاتو کی وينيول شو.
۳۲ ماده: د ګوند و آزادي .
۱۱ ماده : د بيان آزادي ۴۳ ماده : آزادو، سراسري، مستقيم او سري ټاکني.
۵۰ ماده: د ملی شورا د غړو مصونيت.
۲۵ ماده: تبعيض منع او د اتباعو مساوات او برابري.
۷۹ ماده: د لويه جرګه .
۴۱ ماده : ولسي جرګه .
۴۵ ماده مشرانو جرګه .
۱۰۹ ماده : ولايتي جرګو د پاره صراحت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۵ ماده : حکومت د ملي شورا ته جوابګوي.
۲۴ ماده : کي ملکی ته هم په تشریفاتو کي ځای تاکل.
دا د دیموا‌سي په لسیزه یادیږي تجربه نه وه، خو د ملي شورا غړو د مصونیت نه غلط تعبیر واخیست. د حکومت او شورا تر منځ کشمکش په لس کالو کی ۵ لومړي وزیران (داکتر یوسف، محمد هاشم میوندوال، نوراحمد اعتمادی، داکتر محمد ظاهر خان، محمد موسی شفیق) یو د بل پسی راغلل او ولاړل.

ولسي جرګي ته چپ او راست پلویانو لار ومندل. د پرچمیانو نه ببرک کارمل، نور احمد نور، انا هیتا عبدالرحیم هاتف، فیضان او د دموکراتانو او ملي ګریانو لکه عبدلروف بینوا .

او د افغان ملت وګوند انجنیر غلام محمد فرهاد ؤ. د خلقیانو و ډلي حفیظ الله امین د ولسی جرګي غړي شو. نور محمد تره کي ته چا رایه ورنکړه. البته ټولنه مسلمانه ده اکثریت قاطع د مسلمانانو ؤ. نور پیژندل شوي لکه ګل پاچا الفت، صداقت عبدالهادي هدایت، واصفی عزیز الله، صدیق فرهنګ، محمد نبی محمدي، آقای بینش د کابل وکیل.
سید اکبر د لوګر وکیل، عبدلاحد کرزی، د پارلمان به سرکي یو ځلی داکتر محمد ظاهر او بل ځلی داکتر عمر وردک ؤ.
پدي ډول پارلمان درندوالي درلود، د ورځپاڼو د جملی نه خلق، پرچم، مساوات او افغان ملت هغه ورځپاڼی دي چی دیر لوستونکی درلودل. بیاهم د حالت نه رضایت نه وو.

چي د چنګاښ ۲۶ کال ۱۳۵۲ سردار محمد داود خان پر راترپ وهل، نظام او اساسی قانون لغوه جمهوری ئي اعلان کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چنګاښ ۲۶ مه
## تصميم شرط اول موفقيت است سردار داود خان

ســــردار محمد داود خان د پاچا د تره زوي پخواني لومړي وزير په يو حركت، واک غضب د انقلاب اعلان ورکړ. او خپله د انقلاب رهبر شو.
چا مقاومت ونکړ سپينه كودتا وبلل شوه د كودتا ملګري د انقلاب ملګري شوه، پارلمان منحل شـــو ګوندونو فعاليت او د مطبوعاتو ازادي بنده شـــول. د دولت اداره د کودتاچيان لخوا د کميته مركزي په نامه اداره کيدل.
دا نومونه ولس ته نوي وو. كودتا د پردو اختراع وه، اصلی پيژندل شوي كسان وروسته د ځيرونه پيژندل شـوي كسـان پکی وو. سـردار يي يوازي به سـر کی وو، همدي وخت كي مناسب كس و.
د سـردار په ملت پالنه كي شـک نه ؤ. پخواني مجرب افسـرانو د سـردار ملګري ونکړه، د ده پر ځنګ کم عمره بريدمنان راټول شـــوي ؤ. چه ده به هم چندان د هغونه سـمه پيژنده نه درلوده په ټولوکي غلام حيدر رسـولي متقاعد دګروال او د ترافيک د بررسـی آمر بريدمن قدير نورستاني نه پرته نور ځوک پکی د سردار نه ؤ.
ان د ده مرستيال داکتر حسن شرق هم به حقيقت كي د ده نه وو.
سـردار پس له ۵ کالو يی قانوني اړ شو چی اسـاسـي قانون راوباسـي پدي ډول د انقلاب د ملګرو د بی باکی مخه ونيسـي . د اساسي قانون د تسويد د كميتي غړي داکتر مجيد وزير عدليه لوی څارنوال، اسـمعيل قاسـميار، غزيز الله واصـفی، د كرهنی وزير وفيع الله سـميعي دشـرعياتو د پوهنځي اسـتاد عبدالهادي هدايت، غلام حيدر رسولي او نور د كميسيون منشی وفی الله سميعي ؤ.
کال ۱۳۵۵ رابلل شوي لوي جرګی اساسي قانون تائيد او د ۶ کالو د پاره سردار داود ولسمشـر وټاکي. نور مرکزي کميته منحل اعلان شوه. د ملی غورځنګ په نامه يوازنـي ګوند په پام كي ونيول شـو او د نورو ګوندوته لاره بنده شـوه، جلب و جذب پيل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جمهوریت اساسي قانون
# ۱۳۵۵ هجری

جمهوری نظام منل په شلمه ماده کي.
۲۲ د اسلام دین .
۴۰ ماده یو ګوندي نظام، بیرغ دري رنګه.
شکنجه او تعذیب منع ؤ. مګر په عمل کي وضع بل ډول وو. ومولید چی لومړي پخواني وزیر محمد هاشم میوندوال ځنګه د صمد ازهر د لغتو لاندي ساه ورکړه.
په ۷۶ او ۴۱ مادو کي د کاریګرانو د حقوقو صراحت .
۴۹ ماده د پارلمان نیم غړی د دهقانانو ټاکل کیدل.
۲۷ ماده تبعیض منع د نر او ښځو مساوات.
۳۵ ماده د مسکن مصونیت، ۳۶ ماده د ملکیت مصونیت.

۹۸ ماده د قضا د پاره . په ۱۰۶ ماده تحقیق او تعقیب د څارنوالي دنده.
۷۶ ماده ولسمشر د ګوند لخوا کاندید او د لویه جرګي تائید د شپږو کالو د پاره.
۷۷ ماده ولسمشر او میرمن ئي مسلمان او افغان وي.
۱۰۴ ماده د افسرانو او بهرنیو چارو وزارت د مامورینو د بهرنیانو سره د نکاح ممانعت.
۴۶ ماده د چنګابن انقلاب ته د ټولو اتباعو د وفاداري مکلفیت.

دا قانون یو معجون مرکب ؤ چی نه مسـلمان په راضـی و نه هندو د دولت د رهبري او صفوفو تر منځ صداقت نه ؤ. د کودتا ملګرو، سردار نور پکار نه ؤ. او سردار دوي پکار نه ؤ.
د سردار په اصطلاح (کودتاچیان بچه ها بلل) په ساده ډول ئي لیري کړل.
دا قانون د وړي د میاشـتي (خطاب به مردم) سـره توپیر درلود، کودتاچیانو ځان ته دا قانون یوه توطیه بلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سـردار پام نه ؤ چي د ده د صـدارت وخت نور ندي او نه د هغه وخت درانده ملګري .
خلق او پرچم سره یو شول مخالفت ګام په ګام مخ ته تلل تر څو میر اکبر خیبر د وري پر ۲۷ د پرچمیانو منل شوي شخصیت ترور شو. کمونستانو د جنازي په پلمه خپل زور او یوالي په ننداره کیښود تره کي او کارمل په بیانیه کي دا دولتي ترور باله.
سـردار ځیني کمونسـتي سـران بندیان کړه . یاغی افسـران د غوایي پر اومه کال ۱۳۷۵ په ړنا ورځ پاڅیدل په ارګ ننوتل.
بل ګام باید پورته شـي اصـلی لوبغاړي نور څوک ؤ. نه قادر، نه وطنجار او نه تره کي او نه کارمل.

د چنګاښ د کودتا ملګري او تجربه درلوده چی څنګه باید بغاوت وکړي.
د کومنـدو د بریـدمن امـام الدین ســـردار داود خان او کورنـي ۱۸ تنه نور نر او ښځي، زاړه او واړه شهیدان کړل.
جنرال پاچامیر خان د پلچرخي د پلیګون د سـیمي د وخت مسـول د سـردار د کورنـي د شـهیدانو د موندولو کمیسـیون ته د مرسـتي د پاره حاضـر او هم دائي مرکه وکړه.
پـه تلویزیوني مرکـه د نوراحمد نور او اســلم وطنجار لخوا په پولیګون کي بیله اسلامی مناسکو خاوري پرواړول بیان وکړ.

د جنرال په بیان لومړي وزیر محمد موســی شـفیق او لوی څارنوال وفی الله او څو نور کسان همدلته شهیدان شول.
د سردار د پنځوکالو واکمني او د درو میاشتو اساسی قانون پدي ډول ختم شو.

د سـردار وطن دوسـتي کی شـک نشته او د هیواد آبادي کارنامی ئي تاریخ په یاد لري . د دیموکراســـی او عدالت د کورني امتیاز نه تیر د هیواد په تاریخ کي د لومړی ځل د پاره جمهوریت راوست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســـردار په ورســـتي ســـفر کي برژنيف ته تکيه ونکړه نو بريدمن ته به ځنګه تسليميږي دفاع ئي وکړه او وجنګيد.

شهادت ئي ومانه. خټک وائي:

په جهان کی د مردانو دا دوه کاره
يا به وخوري ککري، يا به کامران شي

کمونستي مشران لا په زندان کي وو، چی حفيظ الله د انقلاب کومنده ورکړه ۲۳ کاله وروســـته د حامد کرزي په فرمان د ســـردار ورور د بهرنيو چارو وزير ســـردار محمد نعيم خان د پلچرخی د پوليګون نه د دوي هډوکی پيدا او جنازه وکړه.
په دولتی تشريفاتو د دارالامان به غونډي کي په درنښت خاورته وسپارل.

همدا ډول د روســـي نيکولاي رومانوف ۵ تنه غړي دلنين په بی رحمانه ډول وژلی وو.
دا کار د شـوروي د ماتي وروسـته د روسـيه ولسـمشـر بوريس يلسـن ۶۰ کاله وروســـته د رومانوف او کورني هډوکي پيدا او په دولتي مراســـمو ښـــخ کړل google
د سردار پر جمهوريت او اساسی قانون د پروليتاريا ديکتاتور مسلط شوه.
د سليمان لايق شعر او د ناشناس کمپوز يی تراوسه په غوږ کي دي.

هر تياره پای لري پر خلکو ولسو باندي
لمر د عدالت وخوت ستا پر سردرو باندي

انقلاب بريالي او نور محمد تره کي نوي رهبر شـــو. دا انقلاب هم بل چا جوړ کړي، تره کي د خواري زوی هيڅ په خبر نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عدالت منځ ته رانغي د ميوندوال قاتل هم آزاد، يوازي هالند يی وشړي. د انتريو وخت کي نړيوالي محکمي نور احمد نور ونه پيژندي چی د شـفيق او سـميعي قاتل دي. دی هم منکر او خپل ځان يو وړوکي پرچمي معرفي کړ. امام الدين هم آزاد دي افغاني جنګي جنايات د جنګي اتهام نامي په خپاره شـوي کتاب کي ټوله راغلي دي.
وطنجار د سوسياليزم د ځانګونه د تيښتي وخت په سرحد کي د روسانو تر لغتو لاندي ساه ورکړه.

## د غوائي د انقلاب انګيزه

همدا بدلون ته مقدمه چيني شـوي وي شـرايط عينی او ذهني په پام کي نيول شوي وي.
د سردار محمد داود خان د پرچميانو نه مخ واړاوه.
۱۳۵۵ کال اساسي قانون کي د ګودونو پر فعاليت محدوديتونه راوستل.

شـوروري بل ګام بايد واخيسـتل شـي چی تودو اوبه ته نژدي شـي سـردار د چنګاښ د کودتا ملګري يو د بل پسی ليري کول شورويانو د زغم نه وه.
سـردار د پاکسـتان په ګډون اسـلامی هيوادونه ته مخه کړل. کمونسـتانو عکس العمل وښـود تر يو رهبرلاندي شـول. دوي هم په مجموع کي بدلون غوښـت . سردار نور کار نه ورکاوه.

د غوائئ انقلاب تـه انګيزه پيدا کول د مير اکبر وژنـه (يـک تير دو فـاختـه) چی کارمل هم د خپل مخ نه يوي قوي سـيال لري کړي او هم انقلاب ته لار هواره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لايق وايی:
د وري پر ۲۳ مه همدی کال د تره کی نور محمد کور کي ګوندي غونډه وه. تره کي، کريم ميثاق، داکتر شاولي، صالح محمد زيري او پنجشيري او د پرچميانو د ډلي، ببرک کارمل، سلطان علی کشمند، نور احمد نور او سليمان لايق په غونډه کي د دي کسانو سربيره تره کي وغوښتل چی سياسي بيروکي پخواني ګوند مبارزان په خلق کي حفيظ امين او په پرچميانو کي مير اکبر خيبر هم ونيول شي. کارمل لومړي ومنل.
لايق وائي: (کارمل بی تقوا، دروغګو او لافوک ؤ).
د خيبر د مخ نيوي د پاره د ده خصوصيت پر بنا بارق شفيعي و ملګري خيبر ته وليږي. چی دا ونه منی او بيا نوراحمد نور.
خو خيبر يوازي د تره کي خبره د رهبر په توګه مني خو نور احمد نور ډير وړاندي لاړ، په مرګ ئي تهديد کړ (د مطلب وکيل هم خپل کتاب کی هم راوړيدي) تر څو د دي څلور ورځي وروسته د وري پر ۲۷ مير اکبر ترور شو. او د انقلاب د پاره هم پلمه شوه.

سليمان لايق د واقعيت د ډاره وصيت کړي ؤ. چی دا مطلب د ده مرګه وروسته خپور شي.
خيبر چی د لايق هم خپل او هم به ګوند کي نژدي ملګری ؤ د دي پيښي هيڅ عرض و داد ونکړ.
دا ايديولوژي اخلاق نلري. ملګري حفيظ الله امين پر خپل استاد تره کي زړه شوی ونکړه، کارمل ملګري خيبر په قرباني کيښود، ستالين د لنين بهرنيو چارو وزير پسي مکسيکو ته د ترور د پاره د KGB مامور وليږي. کارمل پاخه ګونديان انجنير ظريف، صاحب جان صحرائی او نور ووژل. نجيب هم خپلو ملګرو غرغړي ته برابرکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د غوائي اومه (۱۳۵۷)

د چنگاښ ۲۶ انقلابيانو پدی انقلاب کي هم ګډون درلود نور محمد تره کي د انقلابي شورا او دولت مشر او لومړي وزير شو.
ببرک او حفيظ الله امين ئي مرستيالان، بنديز ولګيد، نه پارلمان ؤ، او نه نور ګوندونه، اختناق راغي د مطبوعاتو ازادي د بيان ازادي جرم ؤ. نيول، وژل،ټکول ورځني کار ؤ. انقلابی محکمه فعاله شول. ولس خپل تاټوبی پريښودوته اړ شول. د پوليتياريا ديکتاتوري مسلط شول. بشري حقوق، انسانی کرامت هير شو. دين، ملی ارزښتونه، تاريخ وياړونه د اکتوبر د انقلاب سره پيوند ورکړه شو.

بياهم خو ملګري او رفيقان سر جوړ نه راغلل، پرچميان د ملګري حفيظ الله امين تربريد لاندي شول. ځوک د سفير په نامه تبعيد ځوک پلځرخي ته وليږل داکتر يار تره کي چی ځان د نور محمد تره کي وراره معرفی کوي د خپل تره په دفاع کي د بهار تلويزيو سره په مرکه کي ۲۲,۱,۲۰۲۱ وائي:
نور محمد يو ارمان درلود بی خبره د دي نه چي دا ارمان د بل ؤ

ميتروخين په خپل کتاب (KGB در افغانستان) واقعيتونه سم راوړيدي.
پر نور محمد تره کي د هغه ارمانو سره وفا دار شاګرد راوخوځيد چی د شوروي سفير پوزونوف هم ونشوای کولاي چی حالت کنترول کړي.
بی اتفاقي راغله ځوک پرچميان شول ځوک کارمليان، ځوک تره کيانو، او امينيانو په نامه ياديدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حفيظ الله امين
# ((عدالت، قانونيت، مصونيت))

نور محمد تره کي د کوبيا د سفر نه وروسته برطرفه او د تلي ۶ ووژل شو.
د سپيده دم کومندان حفيظ الله امين پر خپل استاد د پخوا نه بدگمانه ؤ که څه هم ځان به ئي وفاداره شاگرد باله.

استاد هم د شاگرد د ليري کيدو د پاره و اسلم وطنجار، سيد محمد گلاب زوي او اسدالله سروري ته دنده ورکړه ؤ، توطيه ناکامه شوه. په مقابل کي استاد د خپلي توطيې قرباني شو. تصميم شو چې استاد بايد مجازات شي او عذاب به ونگوري په يو نرم بالښت ئي ساه ورايستل شي، چې کومه نښاني ئي هم د کريمنال تخنيک ته پاته نه شي همداسي وشول د انقلاب پر قربانيانو يو بل اور زيات شو.

زموږ هيواد کي نامدار او گم نامه شهيدان ډير شته.
لکه شاه شهيد، امير شهيد، اعليحضرت شهيد، سردار شهيد، د سولي شهيد، د وحدت شهيد مگر تره کي ته څوک شهيد نه وايې.
حفيظ الله امين صاحب د عدالت، قانونيت او حقانيت اعلان ئې وکړ خو يوازي شعار پاته شو بنديز وژني، نيول او د کډو باريدل د پخوا په شان دوام درلود.

د گوند تر منځ نانداري او توطې دوام درلود چې دا اوس هم دوام لري. ملامت او گرم معلوم ندي . چې څوک لنينيزم ته ډير وفاداره دي او څوک لږ حفيظ الله امين هم د قانون په فکر کی نه شو.
د حفيظ الله امين خواخوږي، ملگري امين سوسيالست نه بلکه يو ناسيونالست بولي په اصل کي خو يو بی زړه شوي وژونکی او د ستالين د لار پيرو ؤ . د هيواد د پاره يوازي يو مليون گونديان بس بلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حفيظ الله امين پلوه يونس فکور د هرات والي د شاګرد او استاد تر منځ د اړيکو خرابيدل پر ګلاب زوي او اسدالله سروری ور اچوي، همدا حالت چليدي چی د مرغومی شپږمه راورسيده.
هر څه بل ډول شول. خو د ولس په ژوند کي بدلون رانغی.

## مرغومي شپږمه

شوروي چی همدا روسان دي ۱۹۵۶ پر هنګري او ۱۹۶۸ پر چکسلواکيا۱۹۵۸ پر افغانستان او په ۲۰۲۲ پر اوکراين يرغل وکړ.
دا به ئي ويل چی يوازي څو ساعته تر امريکا وړاندي راغلل، او د اوکراين دا وائي چی زلينسکی نازي ده پداسی حال کي چی هغه خپله يهيودي، په حقيقت کی د نازيانو مبارزه د يهودانو په مقابل کي ؤ. داسي پلمي د حقيقت نه ليري وی.

وطن فروشان قرن بيست کارمل، نجيب، وکيل، نور احمد نور، محمود بريالي او انا هيټا پر روسي ټانک سپاره وارد شول، کوم چی د حفيظ الله امين نه ټښتيدلي وو.
وکيل، سيد محمد ګلاب زوي او اسدالله هم په همدي شپه د يرغل ملګري وو.
هيواد د بل ستر آزمون سره مخ شو.

ببرک کارمل (يرغل د انقلاب نوي مرحلي و بلل) کارمل دلايل ډير ؤ، د تره کي وژل هم پلمه شوه.
د حفيظ الله امين ليری کيدو په پلمه شوروی د تزار د ارمان سره سم تودو اوبه ته نژدي شول.

شوروی د مرغومی په شپږمه کال ۱۳۵۸ يرغل او خپل روزلي حفيظ الله امين د دارالامان په خپل مانی کي غوړونه پري تاو کړه او بل روزلی پر ځاي نصب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ. د KGB مامور ميتروخين د KGB ســره د دواړه اړيکي په خپل کتاب KGB در افغانستان کی خپری کړيدي.
ببرک کارمل د دولت مشر شو هيواد اشغال او ډير مړو سره، د ملګري حفيظ الله امين ګارد ډير شهيدان او روسانو هم مړي درلوده.
خو جهاد ارام نشو، د الله اکبر چيغه پورته شوه نړيوالو عکس العمل هم جدي شو د اسلام آباد اسلامی کنفرانسونو دا عمل وغندي .
نسخه يوه وه کارمل او ملګروئي تره کي او حفيظ الله امين پاليسي ته دوام ورکړ . د هيواد اصل بچيان اشرار ونومول شول.
کارمل د تره کي ځای سلطان علی کشتمند د حفيظ الله امين ځای، نجيب د سروری ځای ونيوي. حفيظ الله امين د ستالين او نجيب (بريا) د ستالين د KGB مشر وو، بنديز، نيول، وژل د پخوا په شان دوام وموند کډي نوری هم بار شوي.
لومړيوکي عفوه عمومی اعلان شوه، چی ګته ئي ونکړه کارمل، ملګري حفيظ الله امين مير غضب وباله او نور محمد تره کي شاد روان.
شوروي ليکواله ستويتلانا کتاب پټي توبي د محمد اسحق الکو ژباړه چی د شوروي د هغو سربازانو سره چی افغانستان کي دنده درلود او يا کوم څوک چی هلته وژل شوي ؤ، د کورنيو سره مرکي کړي.
معلوميږي چی شورويانو خپل وطنوالو ته هم دروغ ويل چی امريکا افغانستان ته ننوتل موږ يي مخ ونيول يوازي څو ساعت د امريکايانو تر اقدام مخ کي شولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاد نور هم زور واخيست نړي شورويان وغندل.
سيما الکو وائي :

مجاهد ځوانه ستا پاڅون شوروغوغا جوړه کړه
په نړي د غليمانوکي ستا توري تماشا جوړه کړه

کارمل وغوښتل نظام ته قانوني بڼه ورکړي د (افغانستان دموکراتيک جهوريت اساسي اصولو ) په نامه قانون راوايست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان دموکراتيک جمهوريت اساسي اصول ۱۳۵۹

دی قانون ۶۸ مادي لرلي
وژني، ترور او انقلابي محکمه دوام درلود.
هر څه بياهم د ګوند په واک کي وو، تفکيک قوا نه ؤ.
نه پارلمان ؤ نه شوراي ملی، آزاد ټاکني نه وي.
نور د ګوندونو او نه د بيان ازادي، نه حقوق بشرؤ او نه کرامت انساني.
د کور، کلی، ډوډي شعار پر ځاي مرګ پر امپرياليزم او مرګ فيوداليزم اوريدل کيدو.

دا قانون د عنعني او تاريخي دود خلاف د لويه جرګي په ځای د شورای انقلابي لخوا تصويب شو.
کارمل وغوښتل چی د پروليتياريا ديکتاتوري ته د قانون پرتوګ ور واغندي. په کال ۱۳۵۹ کي د (اصول اساسي جمهوريت دموکراتيک خلق افغانستان ) په نامه قانون پاس او نافذ کړ.

ملګرو نه اهليت درلود او نه ظرفيت، تصميمونه د شمالي ستر ګاونډي د سلاکارانو په لاس وو.
دا قانون د شوروي اتحاد د اساسي قانون سره برابر ؤ.
د افغاني ټولنی د دودنو سره سرنه خوړي.
دسردار محمد داود خان خبره د نو واردي ايديولوژي سره نوي اصطلاحات چی تر ټولو به کارمل په ډير تظاهر، قلقله کول او ويل به ئي: انقلاب، زحمت کشان، اراده قاطعانه، وطن پرستان، روشنفکران، جوانان قوت های نيرومند. تحصيل اهداف او نور داسي لغات، دا لغات د بله ځايه ديکتي کيدل راوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي قانون کي کلمه مبارک (بسم الله ) نه ؤ، ګرچه ملګري حفيظ الله امين هم بې دينه ؤ، مګر ظاهر ئي په پام کي نيول. کارمل پخوا هم په ولسي جرګه کي د بسم الله نه ويلو په خاطر وهل خوړلی وو. چې تر روغتون پوري ورسيد.

د ببرک مرحله نوين ياد ده په اصطلاح دوره تکاملي او يرغل هم ګڼه ونګړه. ولس غلي نشو او نه د شوروي نه مجاهد وډاريدي، عبدالله غمخور وائي .

د وحشونو زلزله ده نن زموږ په کور
قتل عام او وژني دي شر او شور په موږ

دريمه ماده کي دا زحمت کشان او روشنفکران کليمي راغلي . چې زحمت کشان هغه ؤ چې د پردويه دبستوکي پراته ؤ. او روشنفکران د پوليګون تر خاورو لاندي.
د يو ګوند پيش بيني (څلورمه ماده)

۸ ماده: وسلوال پوځ د غوائي د انقلاب د ګټو په دفاع مکلف بلل شوي.
ستره محکمه او محاکم، په ۵۵ ماده کي، چې انقلابي شورا ته جواب ګويه دي د محاکمو دري مرحله ايی پرنسيپ يو مرحله شول وکيل د دفاع امکانات نه ؤ.
ډيرې پريکړي غيابی وي.
انقلابي محکمي د پخوا په شان فعاله وي.
تعذيب او شکنجه د کاغذ پر مخ منع، په عمل کي دوام درلود.
په ۳۵ ماده کي لوي جرګي د ولس نه بلکه د ګوند د منځ نه به ټاکل کيږي.

۳۶ ماده د دولت په سرکی انقلابي شورا د ټولو لوړ مقام ؤ. چې ۱۲ ـــ ۱۳ مواردو واک پيش بيني پکي شوي ؤ.
۵۹ ماده د اختصاصي څارنوالي صلاحيت، انقلاب ضد تورنان عدليي تعقيب د دي څارنوالي دنده ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۳ ماده دري رنګه بيرغ چی ۵ سره، ستوری په کي ؤ.
۴۲ ماده: د انقلابي شورا تعريف.
او د هغه په سرکي، رئيس شورای انقلابي دي. د ټاکنو شرايط معلوم ندي.

د دولت دری ګوني واک د ګوند په واک کي. د ګوند واک د مرکزي کميتي، د مرکزي کميتي واک د شورای انقلابي په لاس کي او شورای انقلابي په هغه يوه لاس کي ؤ چی د ګوند منشي ؤ.
داسی تصميمونه اکثراً انفرادي او شخصي ؤ. خو د ګوند په نامه ياد شول.
ملګری حفيظ الله امين چی خپل استاد تره کي مجازات کړ هغه هم د ده انفرادي تصميم ؤ، نه د ګوند. خو د ګوند په تصميم به اعلان شو.

په نړي کي مروج دوه مجلسونه چی موږ ورته ولسی جرګه او مشرانو جرګه وايو يو هم نه ؤ.
۱۱ ماده د شوروي او نورو سوسيالستی هيوادونه سره دوستی هم د اساسی قانون به سر کي راغلي وه. چرچل وايی نه د دايمي دوست شته او نه دايمي دښمن، سياست ورځني پاليسي ده.
د اوپوزيسيون زغم ورسره نه ؤ. پروليتاريا ديکتاتوري ئي خط مشی او شعار ؤ.

د خلق دموکراتيک نوم ۸۰ ځلي پکی راغلي وو.
خو شوروی کي بدلونونه اوازي راپورته شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شورويانو وتل

## نه غواړم انقلاب د سولې قرباني کړم ببرک

د يرغل بنياد ګذار يو د بل پسې د نړي نه سترګي پټي کړي. برژنيف ولاړ، چيرنکوف اندري يوف هم ورپسي لاړل.
نوبت ميخائيل ګورباچوف ته ورسيد.
نوی ولسمشر د وضع په درک افغانستان (خون چکان زخم) وباله، تصميم وينوي چې د افغانستانه پښې سپکي کړي.

کارمل، سليمان لايق، اسلم وطنجار او داکتر نجيب سره دوشنبي ښار ته وروغوښتل شول، د وتلو اعلان ورکړ. دوی ته يي د سولي هدايت
کارمل و نه منل ((و نه غوښتل چې انقلاب د سولي قرباني کړي)) خو داکتر نجيب ټيټر وټاکاوه .
کابل ته د دوي د رارسيدو سره سم په سبا د KGB مرستيال کريچکوف ۱۴،۶،۱۹۸۶، کارمل الوتکي ته پورته کړ، يو ځل بيا و تعبيد ته ودريد.
انقلاب نوي مخلص ومونډ د کارمل او تره کي او حفيظ الله امين ټوله فرمانونه لغوه شول مجاهد خپه وړونه وبلل، پر ګلبدين حکمتيار او احمدشاه مسعود غيابي د اعدام پريکړه لغوه شوه. او مسعود ته يي يو وزارت په پام کي ونيوي.
شوروي د ۱۹۸۹ د جنوري پر ۱۵ د افغانستان د خاوري نه ووتل: عبدالروف بينوا په خپل وصيت کي وائي:

چې د روس د غارتګرو وطن خلاص شي
د مسکو پر لوټمارانو مو بر لاس شي
ښخوي به ما په پاک افغانستان کي
د پرلټو ننګيالو په جهان کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان د جمهوريت اساسی قانون

نجيب په لمســون لاس پوري کړ، ملی پخلاينه اعلان وکړ، دموکراتيک نوم چی خلکو ورسره حساسيت لري ليری شوی ؤ. نجيب د خاد د تجربو او د کارمل د کړونو نه په زده کړو، د سولي په پلمه شاتګ وکړي د باور د پاره نوي اساسی قانون را واخيست.

دي قانون ۱۴۹ مادي درلودي.

ملی ارزښــتونو په پام کي نيولو ســره قانون د لويه جرګی لخوا پاس شــو، او په بسم الله شريفی پيل.

دوهمه ماده: د اسلام د دين په هکله.

۴۲ ماده : شکنجه او تعذيب منع.

دريمه ماده : د بهرنيو قوا موجوديت منع شوي.

۵ ماده : د ګوندونه تعداد .

۱۰ ماده :دری رنګه بيرغ.

۴۹ ماده : د بيان آزادی.

په څرګند ډول د قوا تفکيک او د قضــا په ۱۱۱ ماده، او د څارنوالي خپلواکي په ۱۱۷ ماده کي.

۳۳ ماده کي د افغان تعريف او تشخيص د موکراتيک خلق ګوند منحل کړ.

د مهاجرينو هغه ضبط شوي کورونه او ملکيت مستردیدل

يو شاعر د خپل زړه براس په شعر کی داسی راباسي:

جوړ د يتيمانو تر می اوښکی سيلابونه کړي
مات به د لنين د استعمار سره ځنځيرونه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجيب شـــاتـګ ومني پـه ۱۳۶۶ کی نوي قانون پـه ۱۳۶۹ کي د تعديل په نامه نورهم سم کړ او د کارمل اساسي قانون لغوه کړ.
نجيب هغه وخت ده اصـــطلاحات او ســـمون لار ونيول چی د لنين خبره چی شوروي د سوسياليزم ونه که وچه شي نو نور هيوادونه لکه څانګي په خود به خود وچيږي همدا ډول وشـــول . د نجيب لخوا په افغانســتان کی د ســمون لار غوره شوه خو ولس د خاد قصاب او د يرغل ملګري نشواي هيرولاي.

۷۲ ماده : ولسمشر د لويه جرګي د رايو په اکثريت يوازي د دوه ځلی د پاره.
۷۳ ماده : ولسمشر او ميرمن يي افغان او مسلمان حکم.
۷۸ ماده آزاد، سری مساوی او مستقيم ټاکني پدی قانون د دموکراسی پرنسيپونه لکه د تفکيک قوا، د ګوندونو تعداد، د بيان آزادي ټاکنی پکی صراحت درلود.
شـــورای انقلابي لغوه، د خلق دموکراتيک ګوند منحل اعلان شـــو. مجاهدين د حکومت ګډون ته او پخواني پاچا اعليحضرت محمد ظاهرخان هم را دعوت کړ.
شوروي د جينوا کنفرانس طرحه د تلو د پاره يوه د اوړو پوزه پيدا کړه.
د سلواغی په ۲۶ کال ۱۳۶۷ د افغانسـتانه پښـی سـپکي کړي، نجيب يي يوازي پريښود.
تر څو د غوائي پر اتمه کال ۱۳۷۱ د جهاد، د زرغونو بيرغونو سـره، الله اکبر ويلو کابل ته لوي بري سره ورننوتل. د نجيب د تښتي لار د ده سنګر ملګرو ډب کړه. اړ شو چی په کابل کي د ملګرو ملتو دفتر ته پنا يوسي.
په همدي ورځ د کمونستي دولت چارواکو د دولت واګي مجاهدينوته وسپارلي.
او حضـرت صـاحب صـبغت الله مجددي د لنډ مهالي اداري مشـر شـو، شـاعر وائي:

کړم د غزا په جنګيدلو سلام
په ازادي د ځان وژلو سلام

هغه د وخت مقابله چی کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجنګ ميدان کي حوصله چی کوي
کمونيزم نه يوازي په افغانستان کي تغر ټول شو بلکه ټوله نړي د دی طاعون نه په امان شوه.
انقلابيانو د تښـتي لار ونيول، د هغو کسـانو تر لمن سـر لاندي کړ چی دوي به امپرياليزم باله، لکه کشـتمن، ميثاق، نور احمد نور، جنرال قادر، نبي عظيمي، خيال محمد کتوازي، عبدالرحيم هاتف، پکتين، سليمان لايق، صمد ازهر، وکيل، پنجشيري او نور.
سر ورکو او سنګر نه، شعار د ټولو هير شو.

## د پروليتاريا اصلي څيره

کورني کمونستان خپل جنايت نه مني پړ يو پر بل اچوي، حفيظ الله امين، کارمل سياسي مداري بولي، کارمل ملګري امين مير غضب او نجيب د کارمل پخواني باډيګارد، روبای مکار بولي، لايق کارمل درغګو او لاپوک بولي.
دا جنايات چی دوي ئي اشتباه بولي يو پر بل وراچوي. دا مکتب همدا ډول دي.
په ۱۹۵۳ ستالين نه وروسته لوي واکمن خورشچوف، ستالين پسله مرګه محاکمه کړ. او قبرئي د کريملين د ماڼي د ديواله ليري کړ، او د سـتالين د KGB مشـر (بريا) اعدام کړ. برژنيف په خپل ملګري خروشچوف سپينه کودتا وکړه، د واک نه ئي ليري کړ.
سـتالين د لنين د بهرنيو چارو وزير تورتسـيکي چی په مکسـيکو د تبعيد شـپی تيرولي، هلته د KGB مامور پواسطه په تبر ووژلی. زموږ وفادار شاګر (امين) خپل اموزګارنه په بالښت ساه وايستل.

نجيب پر کارمل سپينه کودتا وکړه. نجيب هم خپل هغه شعار چی (وطن يا کفن) هير کړ د تښـــتي لار ونيول خو د خپل د ســـنګر د ملګرو لخوايی مخ ډب او د طالب په لاس کي ولويد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال شـــهنواز تني پر نجيب راولتيدي حفيظ الله امين د ملی دفاع وزير جنرال قادر او سلطان علی کشتمند د انقلاب د خيانت په تور په اعدام محکوم کړل خو اعدام د روسانو په سپارش عملی نه شو.
روســـانو نجيب حمايه نکړ، و مجاهدينو ته پريښـــود ګرچه د نجيب محاکمه صحرائی خو بايد محاکمه شوي واي.

د خرس ملګري لنډه وي، ختيځ آلمان وروســـتی ولســـمشـــر هونيکر هم دولتي محاکمی ته پريښود چی (لويديځ) آلمان کي محاکمه شو. خاد او پوليګون به د چا هير نه شي، پوهاند عبدالشکور رشاد د پلځرخی په ياد وائي :

په ظلم د روس پالو شهيدان دلته پراته دي
ښخ شوي په ژوندون ستاسي دوستان دلته پراته دي

خلقيانو چی د امپرياليزم د مرګ چيغي به ئي وهلي اخر د امپرياليزم تر لمن سر لاندي کړ. څوک لندن، څوک واشـــنګتن او هالند کي ډېره وهلي ده خپل هيواد ئي په کنډواله واړاو.

د خپلی نـاکامي او جنايات يو پر بل وراچوي لکه د نور احمد نور د کلفورنيا کي د بهـار تلويزيون د احمد شـــاه راســـتـا ســـره مرکـه پـه youtube کي نيتـه ۳,۵,۲۰۲۱ د دي جناياتو مسول يوازي حفيظ الله امين وباله. وائي:
حفيظ اللـه امين د کمونيزم پلي کيـدو د پـاره يو ميليون پـه نوي ايـديولوژي چمتو کســان بســنده بلل خو پرچمي ملګروهم همدي پروژي ته دوام ورکړد حفيظ الله امين چی لومړي مرســـتيـال او د بهرنيو چـارو وزير ؤ. رفيق نور احمد نور د کورنيو چارو وزير او بيا په واشنګتن د سفارت وياړ په برخه وو.
ضمير ميهن پور د همدي تلويزيون سره په ۱۳,۶,۲۰۲۱ يو مرکه کي د سليمان لايق د منافقت، خيانت او درغلي ته ګوته نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولس نور د دي خلقي ادبياتو سره بلد دي کله چې نجيب د واقعيتو سره مخ شو. د ملګرو ملتو دفتر ته ننوت. لايق د نجيب د را ايستلو او محاکمي غوښتنه کوله چې اوس ورته شعرونه وائي، لايق ته بن سيوان وويل، چې هيندار دي کله مخ ته نيولي ده چې پخوا دي څه ويل او اوس څه غواړي.

د تميز رئيس جنرال الم د احمد شاه ارستا سره د بهار تلويزوني مرکه د حفيظ الله امين د ظلم ياد آوری کړي، چې وژل يې تر غوښتي و که دي ريښتيا ووائي چې د پرچمي رفيقانو په واکمني کي به ئي څو زر خپل وطنوال د اشـــرارو په نامه د اعدام پريکړه کړي وي، چې ده ته به ئي شمير معلوم نه وی.

فريد مزدک د داکتر نجيب مرسيال د افغانستان انترنشنل ويب سايت ۹,۱,۲۰۲۲ صـادق پرسـا د دي د سـوال په مقابل کي د غوائي د انقلاب ناکامي د نجيب قوم محوري بولي (افغانستان انترنشل ۹,۱,۲۰۲۲ خپله هغه خبره ئي هيره ده، چې ويل به ئي (سوسياليزم دومره حياتی دي، لکه مځکی ته لمر.

د ده ورور يار محمد خپل مشـــر فاروق يعقوبي د خاد رئيس ترور کړ همدا ؤ چې د نجيب زړه وخوت د تښتي لار ونيول . شوروي کی چې کمونيزم منحل او لغوه شو، هلته خود به قوم محوري نه ؤ. دا ايديولوژی غير علمي او غير عملي وه.

ګورباچوف نه يوازي يرغل اشتباه باله، بلکه د غوائي انقلاب همدا ډول اشتباه ؤ لکه د اکتوبر انقلاب .

ګورباچوف ګوند منحل، شوروي لغوه او بيرغ بدل کړ.

روسته هم خپلواکه شوه. کارمل ګورباچوف خائين وباله، نجيب ټول شورويان.

په وروســته کی کارمل په خپل وطن کی د پردي په شـــان پټ په حيرتان کي د مرګ په انتظار وو، د ذلت شـپی تيروي . چائي جنازه ونه ليدل. کورني ئي لکه د شاه شجاع پټ دی ځان نه معرفي کوي.

استاد حبيب الله رفيع وايی:

ښه رسوا شو حساب د کمونيزم

نه ابرو شته نه اب د کمونيزم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتم فصل
# اسلامی نظامونه

## د غوائي اتمه ۱۳۷۱

د جبهه نجات اسلامي افغانستان مشر حضرت صبغت الله مجددي د لاهورپنډي ګورنر هاوس په غونډه کي د پاکستان د مقاماتو او د سعودي د استخباراتو مشر ترکي الفيصل او رهبرانو به سلا د دوو مياشتو او استاد برهان الدين رباني د ۵ مياشـــتو د پاره به د لنډ مهالي اداري واک به ولري . او ټاکني به کيږي قانوني نظام او حکومت به رامنځ ته کيږي، او د کمونستانو نه دولت تسليم شي . چی دا کـار وشـــو. مجـاهدين د غوائي پر اتمـه کـال ۱۳۷۱ کـابل تـه ننوتل. د غوائي انقلابيان د تښتي لار ونيول.

مجددي صاحب ژر هر پلو ئي لاس او پښه ووهل، د غازي محمد اکبر خان هغه تفنګچه چی ميګناټن ئي په وژلي ؤ

ISI مشــر حميدګل ته ډالي کړ، مخ پر بلخ و خوځيد جنرال عبدالرشــيد دوســتم مشهور په ګلم جم ته د خالد بن وليد لقب ورکړ.

چا فرصت ورنکړ، تر فشار لاندي، دوه مياشتی په بی خوندي تيری کړي.

يو ځلی د پاکســتانه د د راســتنيدو په لارئي د آريانا پر الوتکه فير شــو، خو د شـهادت مقام ئي په نصيب کي نه وو. دائي د حکمتيار کار وباله. کله چی پيښور ته ورسيد، نظر يي وګرځيد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# استاد رباني

د پنډي د غونډي د تفاهم سره سم د استاد برهان الدين د جمعيت اسلامی مشر نوبت شو.
د ده د واکمني دور څوک ئي د ده په نامه ياد وی، څوک ئي د مجاهدينو وخت بولي او ځينی ئي تنظيمو پاچهی بولي.
استاد هم ژر لاس پکار شو، جنرال حميدګل خپل پوځي سلاکار وټاکي.

ګلم جم جنرال عبدالرشيد خپل (بچه خوانده) کړ. هغی خوا او دي خوا هلي ځلي وکړه. روسانو دي هم د جنبشي د پيسو په چاپولو خوشحاله، کړ. ايران ته لار د آريانا الوتکی ئي سوداکړه ولي الله ملکزي تانند ۸,۲,۲۰۱۹ د اردو ټول پوځی وسايل کباړ او پاکستان ته بار شول. بيا مخ پر پاکستان او ايران کړي د ايران او تاجکستان سره يو بيل ګډ تړون وشو.

خلقي جنګی جنايت کارانو د محاکمي لا څه د فرار زمينه برابره کړه. تاوان جنګ پر خوله را نه وړ. ممکن يوه معامله شوي ۋ، يو وخت به برملا شي کارمل چی روسانو راشړلي د حيرتان باډرکي پروت ۋ. د عدالت ميزته ونه دراوه.

استاد د پنځو مياشتو د تيريدو وروسته حاضر نه ۋ، چی واک پريږدي، د واک د دوران په غځيدو شو.
څه کسان ئي د شورای حل و عقد په نامه د ځان په ګټه راټول کړی د واک د دوام د پاره بيا د خپل ټاکل شوي قاضی القضات عبدالهادي شينواري فتوا واخيستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اساسي قانون او ټاکنو په پکر کي نه ؤ. جهاد او اسلام تري هير شو، پښه ئي د ستم خوا ته وروښوید . د ده بی انصافی ځان غوښتنه د تنظيمي جګړو سبب شو نظام ملوک الطوایفی، هر کومندان د خپلی سيمي پاچا ؤ.
پاټک سالاري او جنګ سالاري مسلط، د هيڅ چا سر او ناموس په امن کي نه ؤ، يوازي د کابل ښار کي تر ۷۰ زرو نه زيات خلک ووژل شو خو استاد ايله دادني نه ؤ.

شورای نظار د احمد شاه مسعود په مشري چی د جمعيت اسلامي د بطن نه رواتلي ؤ، د وحدت سره لاس په ګريوان شو.
اتحاد د سياف په مشری د وحدت اسلامی سره اخته شول. حکمتيار په چهار آسياب کي ځاي ونيوي ارګ او کابل تر راکټ لاندي کړ.
دي ترڅ کمونست جنرال په ګلم جم هم لکه نور تنظيمونه اسلام د خپل ګوند په پساوند کي ور زيات جنبش ملی اسلامي پيدا شو. جنبش، حزب اسلامی حکمتيار د حضرت مجددي تر مشرتابه لاندی د هم بستګی اتحاد جوړ کړ.
جنګونه دوام درلود، ملي بيرغ، ملي سرود نه وؤ.

غصب، چور اوج ته ورسيدل، د ميره ميرمني په نکاح شوي ډير سپيڅلي اينجونو د ناموس د ساتلو په خاطر د بامونو ځان را خطا کړ.

حزب اسلامی په چهارآسياب کي سنګر ونيوي، استاد ارګ پريښود په کاريزمير کي ميشته شوچی بيا ئي هم د ارګ بوی ورکاوه.
استاد خپل شعار ته وفادار پاته شو، چی (ارګ يا مرګ) د ميليونو د سر قرباني او د ميليونو مهاجرو کړاونو په بيه جهاد خاورو سره برابر شو. انارشی حاکمه وه چی نه قانون ؤ نه شريعت.

مجاهدينو حکومت چا په رسميت و نه پيژند. استاد ملی وحدت په ضد يو قومي رژيم چی ولسمشر تاجک او د دفاع وزير تاجک او لومړي وزير (استاد فريد)

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاجک جوړ کړي، حکمتيار ئي مخ ونيول او استاد فريد هم ورسره دا ونه منل، نه سر په امان ؤ نه مال.

د استاد د جهاد ستر مرستندويان امريکا، سعودي او پاکستان مرستي هيري شول د امريکا به مخالفت د روسيه سره د سعودي په ضد د ايران سره د پاکستان په ضد د هند ته مخه کړه ترڅو طالب پيدا شو.
طالب د استاد او شمالي ټلوالو د پاليسي زيږيده ده.
جنرال پرويز مشــرف هم په خپل کتاب (د اور په ليکه) کتاب ۲۰ څپرکي همدا مطلب راوړيدي. چې د طالب په رويکار کيدو کي د امريکا موافق نظر ؤ، پاکستان او سعودي طالباني رژيم ژر په رسميت وپيژندي. کورني شرايط مساعد ؤ، ولس د شر و فساد، توپک سالارۍ او پاټک سازي نه نور تر پوزي نه راغلي ؤ يو خوځښت ته سترګی په لار ؤ.
استاد ته هم روسانو جنبشي پيسي را رواني کړي.

د استاد په دوران کي نه قانون او نه شريعت . سپيڅلي مجاهدين په جنګ سالار او ټوپک سالار بدل شول د جهاد قرباني د شهيد ارمان د خاورو لاندي شو.
هر جهادي کومندان خو مختاره د پاچا بـه شـــان ؤ، عام ولس د غوائي اتمه د غوائي تر اومه بر وبلل جهاد في السبيل الله تر خاورو لاندي شو.
اســـتاد ځان ته کار وکړ شـــتمني په لاس ورغلل. چې صـــلاح الدين اوس ۱,۲ ميليياردو دالرو مالک دي. (NP ويب سايت يو ټويوب ۳,۹,۲۰۲۱ )
د استاد پنځه کاله پدي ډول تير شو خو پدي شپو او ورځو کي د يونيکال د کمپني له خوا د ټاپی د ګاز پايپ لاين خبرى راپورته شـــوي چې چاره ورته پکار وو، استاد رباني دي کارته عاجزه ؤ.
د جهاد په تاوده جګړوکي د جمعيت اسلامی مشرانو د روسانو سره د پټو اړيکو آوازي راپورته شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې احمد شاه مسعود د روسي يرغل وړاندي د روسانو سره پرتوکول درلود. چې روسي کاروانونه په به مزاحمت نکوي. کوم روسي عملیات چې د احمد شاه پر ضد د روسانو لخوا وشول، یوه ظاهری سناریو ؤ.

بروس ريچاردسن (Richardson Bruce) د احمد شاه د کال ۱۹۸۳ د روسانو سره د پټ پروتوکول په ۲۲,۵,۲۰۰۳ کال افشا چې داکتر میر عبدالرحیم عزیز ژباړه کړیدي، دا هم زیاتوي چې مسعود تراخیره پدي خدمت کي پاته شو.

زوسي فدیتوف (Fedetov) دا هم زیاتوي دوه تنه د شوروي کومندو ګان د اسلام الدين او اسام الدين په نومونود مسعود د شخصي محافظینو په توګه استخدام شول.

مسعود څو بُعدي شخصیت او خاص مهارت درلودا ده وکولاي شواي چې یو وخت کي د څو جاسوسی ادارو (KGB,MI6,CIA, ISI) زړه په لاس  کي ولري او د ملي قهرمان لقب هم د ځان کړي. داسی امتیان وروزل چې داسي وفا داران نه استاد رباني درلودل او نه استاد سیاف، د ده مرګ وروسته هم د ده د نامه نه ګټي اخلي.

او پدي باره کي داکتر میر محمد رحیم عزیز د نذیری کریمی سره په یوه مرکه کي ۵,۱۰,۲۰۲۰ afghan showe youtube که خپره شویده . د داکتر صاحب په نظر مسعود قهرمان نه بلکي د جهاد خائین بللی دي. روسي او امریکایي صاحب نظرانو کتابونو ته ګوته نیولي ده

چې په ۱۹۹۶ کي یو حرکت د طالبانو په نامه د (شر او فساد) سره د مبارزي په نیت او د پاټک او پاټک سالارانو ورکیدو په نیت راوخوځید.

استاد ځآن اعیار کړ، دائي یو (خود جوشه حرکت) وباله داکتر عزیزي دا هم زیاته کړه چي مسعود د شورویانو سره پرتوکول درلود چې پر دوي به د ترهګرو د بریدونه مخه نیسي چې هغه وخت کی نه القاعده ؤ، نه داعش د مطلب د حزب اسلامی د مجاهدینو دي عزیزي دا بیان د هند د سیار سفیر باند راکمار له خولي لیکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اســـتاد و طالبانو ته د کندهار د جمعيت کومندان ملا نقيب په واســـط يوه لاري جنبشــــي پيســــي ور وليږل خو ځای يي ونه نيوي، طالب مقابل کي چا مقاومت ونکړ.

کومندان څوک تر تورخم، څوک تر بولدک څوک تر اسلام کلاه ووايستل، ځينو به کولاک کی ځاي پر ځاي شو.

عبدالرشيد دوستم ترکيه ته ورسيد.

طالبان د سپين بولدک د نيول وروسته کندهار، بيا هرات او بلخ په وروسته کي د جلال آباد د لاري به ۱۹۹۶ کابل ته ننوتل. په لومړی ورځ د تلي په ۵ ملګرو ملتو د دفتر نه داکتر نجيب راويست او ځوړند کړ. د نجيب جرايم د خاد په وخت کي په زرو کسان ووژل او د قصاب په نامه ياد شو.

استاد معصوم هوتک وائي:

ما ليدلي دي په ژوند کي ډير سرونه ډير تنونه

چی خپل ظلم او ستم رسولي ترجګ داره

نجيب ګاو بلل کيدو د کارمل پر ځنګ د روســــي يرغل ملګري او هڅه وکړه. چی يرغل دوام وومومي ســـتر خيانت ئي دا ؤ چی د هيواد د تجزيي طرح درلوده چی د نذيري کريمی سره لومړي وزير داکتر حسن شرق په نيته ۲۴,۴,۲۰۲۲ دا واقعيت افشـــا کړ. چی ۹ شـــمالي ولياتو بيل او نجيب مســـير نومي د لومړي وزير په نامه ورته وټاکي . افغانســـتان تجزيه شـــي لکه، کوريا او آلمان، که ټول افغانســـتان ونشـــو، بيا به هم روســـانو ته يو برخه پاته شـــي او کمونســـتان به د مجاهدينو د سزا نه بچ، په شمال کي راټول کړي.

جميل قادري د ضـيأ مسـعود سـياسـي دوه مخي پاليسـي رابرسـيره کړي، چی ضيأمسعود د کرزي د دولت د هرم په سرکي نصب ؤ او هم د داکتر غني مګر بيائي هم دوي دواړه د امريکا لخوا نصب شوي بلل .

هر زموږ پنجشيري وطنوال لکه د هند غواوی واجب الاحترام ؤ. هر پنجشيري د (امر صـاحب) د دوست په نامه امتياز واخيست . حاجی رسا د (۶۰۰) ميلونو اختلاس ســره، د آمر صـــاحب د دوســـت په نامه عدلي تعقيب نه شـــو او خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



فيروزي د کابل بانک غله باندي هم د محاکمه پريکړه پوره تنفيذ نشوه. د ضيأ نه هم که د (مسعود) نوم ليری شي دي نور څه لري؟

يوه کړي په تقلبي ډول د جهاد او مقاومت وياړونه په احمد شـــاه پوري تپي . په داسي حال کی چی حقيقت بل ډول دي.

استاد رباني نه ټاکني وکړي او نه اساسـي قانون په فکر کي شو چی د ده ناوړه پاليسي د تنظيمو د جګړو سبب شو.

استاد ربانی برعلاوه چی کمونستان يی محاکمه نکړه د فرار زمينه ورته برابره کړه د يرغل د تاوان غوشـــتنه هم ونکړه، ملی قهرمان تش په نامه احمدشـــاه مســعود دشــورويانو ســره د نورو مجاهيدينو په ضــد پټي اړيکي او پروتوکول خپور او داکتر مير عبدالرحيم عزيزي ژباړلی دی د مســـعود ټينګي اړيکي د شورويانوسره جنرال خدايداد هم تائيدوي.

دا اړيکي يو مشهوره ژورناليست بورس ريچارد افشا کړيدي.

دا بی بندوباري بي قانوني، بي عدالتي، بي امنيتي، بي بازخواســتي، بي دادي د طالب د راتګ ســبب شــو. لرترلره يو بدلون شــو، امن راغي ســر او ناموس خوندي شو.

د طالب هم د شر او فساد سره مبارزه شعار ؤ. چی خلکو ورسره ومنل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طالب پيدايښت

طالب د ټولني خواره طبقه د امارت اسـلامي جنګی او اجرائيه ځواک دي تفنګ پـه لاس د جګړي ميدان، او کيبل پـه لاس پـه کوڅو کي ولاړ طـالب به د ښـــه راتلونکی په هيله مسجد غوره کړي چی ملا شـي . دي کسـان د خواري کورني ته دی مسجد خيرات، ډوډي ورته غليمت، چی ملا شي.
د هر دسـترخوان په سـرکي د ملا ځاي دي به غم او ښـادي کی حضـور لري. ســـپيني جامي اوغوړي اتو کړي څوني، اوږده ږيره، دين او دنيا يي په زړه او مرام ده
د سر کار په کار ئي کار نه وو، ذکات پر فرض نه ؤ.
د عسـکري د مکلفيت د خدمت نه معاف د ملا دم او تعويذ هم چليږي . د ځينو د پـاره د روزي دام ؤ لکـه ملا لنډي، د ارګ ملا لنډي نه مطلب ندي د فارياب ملا رسـول يادوم. د مولوي خمارو صـاحب د خداى وبخښـي کيسـه رایاد شـول چی کيسه کول.

ملا پام شـو چي د مسـجد د يو شـاګرد مور کونده ده، دا نه پوهيږم چی ځوانه به ؤ، که پخه خو د ملا کار په کيدي، هلک ته ويل چی مور ته د ووايه چی کله به ستا د لاسه پر سر اوبه واچوم.
معمولاً طالب يو بي هويته چی ډيرو به تذکره هم نه ؤ.
ISI د بديل په فکر کی شو مير سلطان په کرنيل امام مشهوره دنده واخيستل ۵۰ تنو پخواني مجاهدين او د مدرسو شاګردانولست جوړ کړ.
چی د پروژي تطبيق او عمليات د خپل کتاب ((افغانســتان د جهاد داســتان)) په ۵۱ مخ کي راوړي. على يوسفزي ژباړه کړيده د ۵۰ تنو نه ۳۵ تنه غوره کوي چی لومړي روزنه د ۱۹۸۵ د می پر اومه پيل شوه.
دوه پروګرام يو پوځي او چريکي روزنه بله د ذهنيت سازي د دينداري په نامه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دينداري کي قاچاق، برمته نيول، د افيون د کرهنی حمايه، انفجار او انتحار ته اماده کول.
طالبان چی معصوم او د ښه نيت لرونکی دي.
دي ناروواته ژر نه تسليميږي . ديني علما ورته قناعت ورکوي چی د خداي به لارکي هر ناروا (روا) دي . او عربي دا شعار ته د حديث او آيات په سترګه ګوري

دا ځوانان پر باور کوي پدی جمله کي، ملا محمد عمر، ملا جلال الدين حقاني، ملا هيبت الله، ملا اختر محمد منصور، ملا يار محمد، ملا عثماني، ملا عبدالرقيب، ملا رباني، ملا بورجان، مولوي عبدالصمد، علی بشر، مولوي سيد محمد، ملا عبداستار، ملا محمد، ملا عبيدالله، ملا خيرالله خير خواه، جګ ملامحمد، ملا عبدالرزاق، ملا نورالله، مولوی نورالدين ترابي، ملا عبدالغنی ملا برادر په نامه پيژندل کيږي او ملا دادالله هغه مشهوره طالب غوره کړه.
کرنيل دا هم زياتوي، چی د خپلو شخصي اړيکو پر بنا استاد برهان الدين ربانی نه مرسته وغوښتل هغه ملا نقيب الله ته هدايت ورکړ، د کندهار کل اردوئي ور تسليم کړه، يواز سرکاتب عطا محمد د حزب اسلامي کومندان چی مقاومت وکړ، هغه هم په اخير کي وتښتيد. او د پښي غره د وسلو ديپو هم استاد رباني طالبانو ته ورتسليم کړ.
خو بيائي هم په درد ونه خوړ.

په ټولنه کي طالب پيژندل شوی نوم دي.
او په فولکوريک کيسو او داستانو کي هم نوم راځي، د امير علي شيرنوائي وخت د ملا محمد جان د عشق تودي لمبي د عاشيه سره تراوسه ژوندي د سلما خوږ آواز او ښه کمپوز نور هم خوندور کړي. وائي:

بيا که برم به مزار ملا محمد جان
سيل ګل و لاله زار واي دلبرجان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګل بشـري او طالب جان د عشـق د لمبو داسـتان به هم ډيرو اوريدلي وي. ګل بشره پر طالب جان ږغ کوي:

طالبه خداي که به ملا شي
پر کتاب پروت ئي يادوي شنکي خالونه

طالب ږغ پرکوی:

ګل بشري راشه حال مې ګوره
زه خوار طالب له بل وطن راغلي يمه

بل وائي:

خوله د ملا د لور خوږه ده ملا خوږلي دي د ډيرو ذکاتونه

د طالب په اړوند مې څه په تفصـيل پدي خاطر وليکل چې د شـلمي او يوشـتمي پيړي زموږ په تاريخ کي بيل فصـل او باب جوړوي. عبدالرحيم د ملايانو د نفوذ او بي اتفاقي په هکله وائي:

دا فرقي، فرقي رنګين اسلام راته اور سوي
يو ملا مي وژني بل ملا مو جنازي کوي

پاکستان هلته طالع بور شوه، چې د جهاد وخت کي تر ۵ ميلونه زيات مجاهد او مهاجر د پاکستان لاس ته ولويدل. پاکستان ته امکانات په لاس ورغلل او ورسره اړيکي ټينګی کړي، د افغان ټولي اجتماعي، سـياسـي او پوځي اداره و ISI ته وسپارل شول.
او نړيوال مرسـتي هم د دي اداري د لاری اداره کيدي. دوي بـه مقامات بلل. اړيکوکي هم سکه او نا سکه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ISI چی د جاوسوسي يوه قوي اداره ؤ. د ډيرو ورسره ديد او واديد برعلاوه، چی عيب نه ؤ. يو ډول اعتبار بلل کيدو. دي اداري نړيوال مرستي پر افغانانو خپل احسان باله.
طالبان مولانا فضل الرحمن معنوي زامن او د نصيرالله بابر لښکر بلل کيدو.
ISI وکولاي شواي پخواني ګم نامه طالبان او مجاهدين، د ديني مدرسونه تازه را وتلي ځوانان چی د بيکاري مهاجرت ترخو ځپلي ځوانان سره راټول کړل، چی شر او فساد له منځه وړولو په نامه ترييننګ کړل. داسی ځوانان يکی ؤ چی په عمرئي افغانستان نه ؤ ليدلي. ISI لومړي سر کي ئي د نامه سره حيران ؤ. سلا پدي شوه، چی طالب ئي وبولي . ملا محمد عمر ئي په سرکي ورکښينوي.
دوي ټولو يو بل ته ملا وايه، ملا محمد عمر لوي ملا شو.
دافغانستان په لوری مرش شول، چی پاټکونه ليري او امنيت ټينګ کړي دا چي څنګه ISI مجاهدين په غيږ کي ونيول او ورزل، طالب څنګه وزيږيدي او په څه ډول واکمن شو. نامتو په کرنيل امام مشهوره په خپل کتاب د (افغانستان د جهاد داستان) په تفصيل سره واقعيت راڅرګنده کړيدي.
طالب د اطاعت روحيه قوي وو، غوځ دريځ درلود. او په ميړانه او د شهادت به روحيه جنګيدل، ژوند ساده د تقوا او اطاعت په روحيه، واسطه يکی نه چليدل. خويش خالګي يکی ځای نه درلود.
پاکستاني نصيرالله بابر د کورنيو چارو وزير د بينظري بوټو د صدارت وخت کي څو تنه بهرني سفيران، د چمن (پاکستان) ته په امن تر توري غونډي بوتلل. او خپل نفوذ ئي په ننداره کيښود.
طالبانو حکومت او دولت جوړ کړ، ملا محمد عمر په کندهار کي پاته شو.
کابينه په کابل کي کار پيل کړ، اسلامی امارت نوم ورکړ. پر افغان د شلمي پيړي يو بل بدلون راغي. طالب د ښاري ژوند نه ليري، د مدني ژوند د نزاکتو سره نا اشنا د علم او تخنيک نه بی خبره.
د حکومتداري په بی تجربګي مبتلا دي. د واقعيتونو نه ليری غواړي دين پر علم کنترول کړي.
مقابل پلو باندي ژر د کفر فتوا صادروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امارت اسلامي
# جمهوريت په امارت واوښت او ولسمشر اميرالمومنين شو

د شـــريعت د انفاذ اعلان شـــوو. د وخت کي د يونيکال پروژي خبري کيدي، د مجاهدينو تر منځ وحدت نظر او اتفاق نه وو، يو لاس تنظيم ته اړه وه. اســـتاد رباني نا توانه، د بلی خوا د واک پريښودوته زړه نکيده.
پرويز مشـرف کتاب د (اور په ليکه ۲۰ فصـل) عيني شـرايط کور د ننه برابر بلل، نا رضـايت عمومي ؤ . خلک د جنګ سـالار او ټوپک سـالار نه تر پوزي راغلل. کورني جګړي چی د تنظيمي جګړو به نامه ياديدي، کابل خراب کړ.
طالب ته ضرورت وو چی پيدا شو.

طالب بيله مقاومت د افغانستان ډيره برخه ونيول، د شريعت د انفاذ اعلان وکړ، امنيت ئي راوست. سر، مال او ناموس خوندي شو.
ملا محمد عمر تر دي وخت چا نه پيژندي، نه لوي مجاهد ؤ او نه لوي عالم، ژر لوي ملا شو ورپسي په نيټه ۱۹۹۶ کي امير المومنين شو.

اســـامه بن لادن بيعت ورکړ، مولانا فضـــل الرحمن او مولانا ســـميع الحق په تبريکي اکتفا وکړه. دا معلومه نه ؤ چی د څه وخت د پاره، به امير المومنين وي او چاته جوابګوي دي موږ نور اميران هم درلودل.
انجنير حکمتيار هم امير ؤ. او تورن محمد اســـمعيل خان ته هم امير ويل کيدل.
خو لوي ملا امير المومنين شو.
ملا رباني اخوند د لومړي وزير په توګه وټاکل شو.

ملا محمد غوث د بهرنيو چارو وزير، ملا اغا جان متعصـــم د ماليه وزير، ملا نور الدين ترابي د عدليي وزير او لوي څارنوال، ملا عبيدالله د دفاع وزير، ملا عبدالحی مطمئن وياند، ملا خيرالله خير خواه د کورنيو چارو وزير وروسته کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالوكيل متوكل د ملا محمد غوث په عوض او ياســـر د اطلاعات او كلتور وزير. بيا امير خان متقى اطلاعاتو ته لاړ. ملا عبدالسلام ضعيف اسلام آباد ته د سفير په توګه وليږي . ټوله دينى عالمان ؤ، داكتر او انجنير پکی ځاي نه ؤ.
د وسلو په ټولوئي پيل وکړ بازسازي، تعليم او تربيه، اقتصاد او کرهنى ته پام نه ؤ.
امارت هم خپل جنګيالي مجاهدين بلل، دا حکومت يا دا نظام د پاکستان، سعودي عرب او اماراتو په غير چا په رسميت و نه پيژندي. جمهوريت، امارت شو. ولسمشر مشر امير المومنين .

لومړي وزير، رئيس الوزرا شو، ملی دري رنګه بيرغ بدل کړ.
شمسي جنتري په قمري واوښتل، موسيقي او سينما منع شول، تخلصونه ټول عربي ؤ. معتصم، متوکل، ترابي، متقی، مطمئن، ضعيف، مجاهد، الحنفی، عمار بن ياسر او داسي نور. د جهاد د وخت د جهادي رهبرانو هم همد کار ؤ . سياف، ربانی، محمدی او خالص، رحماني، پدي مانا چی مســـلمان دي او عقيده ئي هم ټينګه چی د نامه سره (برابر ده ).
د افيونو کشـــت او قاچاق اوج ته ورســـيد، او د تمويل منبع ؤ . د هلمند حاجی (بشــر) پدي برخه کی تر نور مخ ته ؤ. چی امريکا وتوانيدي حاجي ونيســـي او امريکا ته ئي وليږدوي.

طالب ته خدای ورکړه . پخوا د محتاجی ژوند ؤ، د مجردي به هم رنج وړي، په هر چا کي به ئي سترګي وي.
يو چا کيســه کول چی ملا يو ميرمنی ته تعويذ ورکړ چی ماشــوم ئي پيدا شــي. پدي ترځ کي توصــيه وکړه، چی د خاوند ســره، ډيره ډيره په خلوت کي شـــي. ميرمني ورتـه وويل چی دا کـار هم تـه وکړه! ده په ډير بزرګواري وويل چی دا کار دي پرما واچاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوي واکمنان هم playboy را ووتل، د واک ته رسیدو سره سم نور حوصله د لاسه وکړل ترجیع ورکوي چی د پایتخت تعلیم یافته ته لاس واچوي، چی مرکز اینجوني هم په حمام بلدي، هم د میني په نزاکتو پوه دي. infor/yout.٣٠,١,٢٠٢٢

چا چي د لوړ ولور توان ئي نشته همدا تنکي ځوانان د جنت د حورو په هیله ځان وژنو ته لاس کړ، چی څوک ئي ورته انتحاري وائي او څوک استشهادي بولي د جنت بلبلان هم ورته وائي.

پر ممبر د قال الله او قال رسول، د زبیر، ابوالحریره او یا (ابو) او یا ابن فلانی خبري کیدی . دا د نړي نور علما او نوابغو، لکه افلاطون، سقراط، انشتاین، ارستو، ګاندي، البیروني او مولانا، خوشحال او رحمن بابا نه یاد وي.

هڅه وه هیواد د خلفای راشدینو د وخت شاته وټمبوي.

د اخرت غم ډیر وو، ښځي د کار او تعلیم نه را وګرځیدی، د نارینو د پاره ږیره او د ښځو د پاره حجاب کوم چی طالب ئي غواړي حتمي او فرض بلل کیدو.

پنځه وخته جماعت حتمي وو.

د دي احکامو د تطبیق د پاره د امر باالمعروف اداره جوړه شوه. چی د خاد ځاي ئي وینوي، هر چا تری کرکه کول، بیا کډي بار شوي.

د ښځو سره هم تر ټولو چلند خراب ؤ، پردي ښځي په عام محضر کی کیبل کاري کړي . د چا عزت پروا نه وه. ږیره او حجاب د فشار او اختناق وسیله شو. البته ږیره د اسلام نښانی ده، مګر د تقوا دلیل ندي. یهودي دینی علما او زموږ سکان هم ږیره لري.

البته ښځه هم انسان دي او هر انسان زړه لري.

زړه د میني ځای دي، مولوي صاحب خمارو کیسه کوي. ملا صاحب د شاګرده هیله وکړه چی ماندینه ئي زیارت ته یو سي.

زیارت لکه ګودر د عاشقانو د راز او نیاز ځاي دي. شاګرد ډډه وکړه، ملا چی په عیني وخت کي د ده استاد هم وو ورته وویل، زه پر تا باور لرم.

شاګرد لنډ ځواب ورکړ چی زه پدي باور نلرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کابل کي سرې کال (۲۰۲۲) د عاشقانو ورځ تجليل نه شوه.
افغاني مينانو ته چا تبريکي ونه ويل، پخوا دا د Valintin ورځ به داکتر فضلي په ارگ کی په لوړ هوس تجليلول.

د طالب په واکمني کي افغاني هندوان تر فشار لاندي او توهين شول پر تټر ئي علامه ور ووهل شول. چی د ليري وپيژندل شي.
کوم وخت يو ځوان هندو هلک مسلمان شو.
نورو هندوانو به ويل چی مورې پخوا هم دی پيژندی چی مسلمان به شي يوئي غلا کول او بل ئي دروغ ويل.
شريعت چی د طالب رهنما او د اداري او چال چلند وسيله وه، طالب ورور مي پوره په پوه نه ؤ.

د امير المومنين نه کوم وخت طالبانو تري هيله وکړه، چی د امير المومنين د مقام په توګه د دي اختر د لمانځه امامت وکړي، د مخه شو مګر د اختر لمونځ ئي بيله ۶ تکبيرو ادا کړ.
د سګريتو ځای نصوارو ونيوي د الکهول ځاي چرسو.
طالبانو د اردو د سربازانو چی د دندي د اجرا او د هيواد د دفاع په خاطر په شهيد شوي ؤ . جنازي د لمانځه د ادا کولو ممانعت کاوه، جنازي لمونځ پر ژوند فرض دي هر څوک چي وي.

دين د عدالت او د بشريت د تکامل د پاره دي.
چي د تقوا د لاري تکامل ته رسيږي او پاک خدای انسان پر مځکه خپل خليفه ګرځولي چی ملايکو ورته په سجده شوي. د انسان د پاره علم پکاردي. طالب کرامت انساني ته پام نه کاوه.
خلقيانو کي هم همدا کمبود وه چی رسواي عالم شول.
د هاشمي رفسنجاني دوهمه دوری په ختم په يوه تلويزيونی مرکه کي چی د وداع په ډول وويل، اي ايراني! ((هر جاي که استي ايراني باش)) ، د کسپين د بحيري

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه تر خليج پوري يو کانال د ايستلو چي د بريښنا، کرهني او کشتی راني د ترانسپورت د پاره مهم دی دا کار ډير ستونزمن دي خو ممکن دي.
د لوي ملا فرمان مي واوريدي چی د ښونځی شاګردان به خولي او استادان به لنګي تړي . طالب تر اصل په فرحه نښتي وو.
طالب په خپل حکومت داري تر ړيري او حجاب نه په غير په چانته کي څه نلري.
په دوهم دورکي خلک د مرګ او ژوند سره لاس او ګريوان دي، د ژوندي پاته کيدو د پاره د ځان غړی (ګردي) او خپلی نازولي ماشومان خرڅوي، طالب د ړيري په غم اخته دي.
طالبان په افراطيت پيژندل شوي دي.

خلقيانو په بی ديني کي افراط کاوه، او طالبان په دينداري کي. ملګرو کمونيزم وشرماوه او طالب اسلام سپک کړه. جنرال پرويز مشرف په خپل کتاب کی راوړي (چی طالب د نړي ستر دين سپک کړ)
د امارت اسلامی به دوران کي نه يوازي القاعده ؤ بلکه داعش هم ځآي نيولي ؤ . ابوبکر البغدادي په وزير اکبر خان کي اوسيده مازيګر، مازيګر به ئي امانيه ليسه کي فوتبال کاوه. او بن لادن په کندهار او توره بوره کي اوسيده.
د طالبانو د روغتيا وزير داکتر قلندر عباد د کراچی د جماعت اسلامی مشر ته په خطاب کی وائي ((کراچی د اسلامي امت زړه دي)) سوال دا دي مکه معظمه نو څه ده. ارغنديوال تانند ۱۳,۱۲,۲۰۲۱
د انګريز د وخت د کراچی فحشا خاني اوس هم فعالي دي. تانند د مارچ پر اتمه ۲۰۲۲ راوړي چی کراچی کي د هوس خړوبولو د پاره د ښځو بدلول دود شويدي . ايا د اسلام تيکيداران قاضی حسين احمد او مفتي محمود چيري دي نه يوازي او ناروا ده، بلکه بی ناموسي هم ده.
د لاهور هيرامندوي تراوسه فعاله ده.
طالب د قانون په پکر کي نه شو. اساسی قانون د انسانانو کار وباله، شريعت د خدايي قانون وباله. د کرامت انساني او د حقوق بشر او نورو قوانينو طالب جان نه پيژندو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اکوړه خټک کي د افغان تاريخ نه لوستل کيږي . ملګري خلقی هم خپل تاريخ د لنينيزم سره پيوند ورکړ. او که طالب ته د يما او کانشکا ياد وکړي، دي ئي لنډ ګزوي، وائي چی يما مسلمان ؤ او که کافر؟

د ځوانانو اوږده ويښـــتان لنډوي، تر نامه لاندي ويښـــتان هم ګوري او په پرتاګه لاس ورننباسي.
هدايت دي چی د افغان غرور مات شي. لوي ملا به هم ډير وخت سرتکاوه چی ((پښه ئي په خپله پايڅه کی بنده ده)) طالب پدي نه پوهيدي چی نه پوهيږي

طالبانو مړي د ګوره راويستلی، د احمد شـاه مسـعود او د عبدالعلی مزاري چی دواړي جهادي پيژندل شوي څيرو د مړو بي عزتي وکړه، شاه محمود ارزګان د يوی حوزي امنيتي افسر درو مياشتو مرګه وروسته قبر نه را وايست .
د هغه سـرباز په ګناه چی د مجبوريت له مخي د لسو زرو افغاني د پاره خدمت منلی ؤ د د پرځاي ميرمن او ماشوم زوي هم وژلی. طالب د دي پروا نکوي چی جرم يو شخصي عمل دي .
نيابتي جګړي ورځ تر بلی زور واخيست تر څو د اګست ۱۵ راورسيدل.
جمهوريت ړنګ او په ځاي ئي بيا امارت راغي، کدي بيا بار شـــوي ځيني د الوتکو سره ته پورته شول او پوري وځړيدل.
وطن د تعليم يافته نه پاک شـو. د طالب سـره څوک کار نه کوي، پنجابيان دعوه طلبه شول د طالب علم خوښ ندي ولي دي بی علمه وی.
داکتر حفيظ خوږلن خوږ شعر داسي وائي:

د تاريخ وياړه بابا څه شوي
د ملک لوي شاهنشاه څه شوي

د وخت اذر راته بتان جوړوي
ای بت شکنه احمدشاه څه شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبانو بنيادي خرابي کول د کابل د شمالی باغونه ئي وسوځل . دا وخت به تير شي، طالب به په افغاني ټولنه کي ځاي نه وی. لکه چی لايق وائي

هره تياره پاي لري پر خلکو ولسونو باندي
لمر د عدالت وخوت ستا پر سردرو باندي

افغان به هم يو وخت عدالت لاس ورسي.

## ديني عالمان

دين د پاک خداي او بنده تر منځ اړيکه ده . چی د تاريخ په اوږدو کي په يو ډول دا رابطه موجود ۆ، چا به بتان پرستش کاوه، چا د غرونو او دريابو ته، ځينو به د حيواناتو البته د آسمانی اديانو د نورو نه توپير ۆ . پر وحدانيت معتقد ۆ.
وروستي آسماني دين، د ديني علما ۆ لاربنونه کيده او د پيغمبر وارثين بلل کيدل.
عوامو به ورته ملا، مولوي او مولانا وايه او به احترام به يي ياد وه.
ملا څرنګه چی د سيمي يا د کلی يکه تازه ۆ غرور به تري کيدو او نفس به ئي چاغ وو.

په عيسويت هم کي روحاني شخصيتونه (کشيش) د جنت دروازه وان ۆ د جنت خريدو فروش کيدو.
اسلامی دين کي د ديني علماو سره مخالفت يا خداي نخواسته بي احترامي به په تکفير منجرکيدو. د ملا علم محدود په ديني چارو او د جنت په وعدو او د دوزخ پو هيدو.
هغه علم چی ملا درلود، د څو سوه کلونه را پدی خوا تکرار ۆ په دنيوي چارو ملا کار نه درلود او معلومات ئي هم نه ۆ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا دعلم موضوع او يا درس هدايه، مشکات شريف او څو نور کتابونه ؤ. چی په تکرار ډول د تدريس موضوع، مسواک او استنجا، ذکات، لمونځ، نکاح، حيض او نفاس، ميراث سرو کار وو، احاديث اکثراً اخلاقي جنبه لري.
د چاچي به ډير احاديث زده وو، شيخ الحديث بلل کيدو.

په نهی کي غلا، وژنه، زنا او شراب هم شامل ؤ او د دي د پاره قصاصی او حدود هم لوستل کيدو.

په اسلامی هيوادونو کي دين او دولت دواړه د ديني علماو په واک کي ؤ او تر ډير وخت پوري د صدر اسلام د وخت د خلافت دوام درلود. دين د واک منبع او افزار ؤ.

شلمي پيړي کي دين په ايديولوژي واوښت . چی نړي تر دي وړاندي دوه نوري ناکامي ايديولوژي، (مارکسيزم او د هيتلر ناسيونال سوسياليزم) تجربه کړی ؤ. په همدي پيړي کی اخوانيزم هم راپورته شو. ځينو هيوادو کي ښه سم پرمختګ وکړ.

مګر دا هم ناکامه شوه. په مصر او سوريه، لبنان، عراق کي وځپل شوه.
همدا ايديولوژي زموږ هيواد کي اوس د طالبانيزم مفکوره مسلط او واکمن شوه.
چی د مروجه حکومت داري د اصولوکي د (المان نازيانو ايديولوژي يا د شوروي مارکسيزم ) سره نژدي والي لري.
ولس ته د رعيت په سترګه ګوری او ځان ته حاکم وائي. يوازي اقتدار او واک په يوي ډلي په واک وي. ونورو اقشارو پرګنو ته دا حق نشته . مخالف دښمن بلل کيږي . دښمن بايد ووژل شي.
نور محمد تره کي هم مخالفين مباح الدم بلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالب خپل مخالفين د اسلام دښمنان بولي او د تکفير حکم ئي کوي. واجب القتل بولي ستالين خپل روسان وژل، هيتلر المانيان او المانی يهودان. تره کي افغانان وژل طالب مسلمانان وژني، په پټوسترګو انتحاري او انفجاري بريدونه تر سره کړل.

تره کي د انقلاب په زور راغلي، طالب پخپلو ملتو وطن فتح کړ.

يوسف ستالين KGB،هيتلر شتازي، کارمل خاد درلود او اميرالمومنين امر باالمعروف لري.

چی دا اداري د هيڅ ډول قانون، بشری حقوق ته جوابګويه ندي. طالب هغه عدالت بولي، چی دي ئي غواړي.

د جولای پر ۵/ ۲۰۲۲ امريکا کي يو قاتل ۵ تنه ووژل د ټول هيواد بيرغونه راکښته شول ولی چي ولسي نظام دي د افغانستان هيواد څو زره تنه د خوست په زلزله کي شهيدان شول، امير المومنين يو تش ياد هم ونکړ.

د طالبانو لومړي دور د ۲۰۰۱ کي ختم شو. دا ځلي به هم ډير دوام ونکړي.
افکار متحجرانه و فساد علماي دين بزرګترين عامل عقب ماندګی مسلمين است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملا او ښځه

ډير کونډي او ډيري بوري سوي

وائي ښــځه د نارينه د چپه پښــتي نه پيدا شــويده، همدا دليل دي چي د نارينه پر ځنک ئي ودريږي . په قران کريم کي د ډيرو ســـورتو به ســـرکی (يا ايهاالذين امنو) چی پردواړو دلالـت لري راغلي لمونځ، روژه، حج او ذکـات پردواړو مساوي فرض دي.
دا حديث (شرافت الانسان العلم و اداب لابالمال و و نسب ) ځکه پرداوړو دلالت لري. مساوي حق او مساوي مکلفيت لري.
ښـځه مور ده، ښـځه خور ده د ژوند ملګري، موږ ورته سـياسـره، عاجزه، کډه، کوروالـه، د هلکـانو مور وايو، نوم ئي نـه اخلو. د نړی نيم نفوس جوړه وی او نيمائي نور ئي زامن دي.
طالب ښـځه د فسـاد منبع او ناقص العقل بولـي . د کار او تعليم حق ئي سلبوي او هځـه ئي ده چي پـه څلور ديوالوکي بنـدي وســـاتي. کورتـه پـه ســـپين لباس کي راننوتل په سپين څادر (سپين کفن) کي وزي.
د ملا هم ښــخي خوښــی دي د ځان د پاره همدا ده چی څلور شــرعي نکاحوي د لاري سنت پرځاي کړي.
افراط په نکاح کي د قوی شـهوت مانا لري د جنت بلبلان (انتحاريان) چی به دي نړي کي ښځي نه وررسي د جنت د حورو په هيله ځان وژني کوي.
د زنا په مقام کي صــحرائي محکمه رجم اجراکوی پدی وسـيله طالب خپل زور او شدت عمل په ننداره ايښی دي.
که څه هم د زنا د ثبوت اسناد به برابر نه وی زاني او زانيه په عذاب بايد ووژل شـــي . د زنا ثبوت د پاره په شــريعت کی د احتياط نيولو حکم دي البته تعذيري جزا هم حکم شـته، خو طالب سـنګسـاری ته ترجيع ورکوي، چی په عذاب مړه شي. اوريدلی می دی چی کافران چی خنزيري حلالوي، لومړئي نشـه کړي چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



عذاب ونګوري زموږ ملا به هم ويل چې پسه په تيره چاړه بايد حلال شي. مثال په توګه
د تاتند په ۷,۵,۲۰۲۱ نېټه رخښانه د سنګساريدو خبر د نافع همت د محمديار يار د شعر په چوکات کي چې د غور ولايت کي واقع شوي ؤ رانقلوم.
د غور د جهان پهلوان د شعر په سبک:

((زه يم زمري پردي نړي له ما اتل نشته))

د لړم په شلمه د غور رخښانه شل کلنه پيغله د صحرايی محکمه کي سنګساره شوه يار وايي :

زه يم زمري بل سنګسار مانه اتل نشته
د غور په غيږ کي رخشاني ته بل اجل نشته
بل ئي نشته، له ما اتل نشته
زما د ترور تر توري لاندي دي هرات و تخار
کړم د کابل او سرپل پيغلتوبونه سنګسار
کوي ابليس افتخار، له ما اتل نشته، له ما اتل نشته

صاحب جان صاحبزاد په ذاکري مشهوره، د يو نفر د اهل تشيع سره نکاح زنا وبلل، د طلاق فتوا ورکړه. دی هم د کومندان عبدالرازق د کومندوګانو د خوا هم ترور شو.
په مجموع کي طالب د اسلام نه بی خبره او د انسانيت نه ليري دي. بل ملا پيدا نشو چي د ذاکري مخه ونيسي . د هرات مجيب الرحمن انصاري د فتوا و په صدورکي د ذاکري ځاي ناستي دي.

نارينه دي چی په ښځو پسی سترګی ګرځوي پدي نامه يی ښځي، ښځي دي. بايد د کار او تعليم نه بي برخي شي. عربو به هم لوښي ژوندي ښخولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۳۰۱ کال راپدي خوا په هر اساسـي قانون کي د ښـځو حقوق د نارینو سره مساوي صراحت ورکړه شویدي.
په تاریخ کي هم د هیواد اتلانو مندو رول ثبت دي.
د زرغوني انا، نازو انا، د میوند ملالي، ګوهر شاد بیګم، رابعه بلخي د تاریخ په زرینو پاڼوکي راغلي دي. دا منـدي وي چی اتلان ئي وروزل . د مرغومي د شـپږم یرغل کي د کابل د ښـونځیو اینجونو چی سـرکانوته راووتل د وړونو تر څنګ ودریدلي ځینو شهادت هم ومني.

د دوي د حقوقو د اداینې د پاره یوازي په شعري ادبیاتو کي لکه سري شونډي او نري ملا او خماري سترګو ستاینه کول بسنده ندي.
یا د شـهوت تنده به ما ته کړي او د نفوس د پاره د ماشین چوچه کشـي کار تري واخلي، حقوق ئي باید ورکړل شي.

ښـځي دي چیانبیا ئي روزلي هاجره د اسـمعیل ع او سـاهرا د اسحق ع مور د عیسـی ع مور مریم اوس هم په کلیسـا کي پرسـتش کیږي. د محمد ص مور بی بی آمنه هم د اسلام تاریخ کي ځآی لري.
نن ښـځي په طب، هنر، سـیاسـت، تجارت شـعر او ادب تجارت او صـنعت کي پیاوړي ځاي لري.

د امریکا برید پر عراق لومړي برید د یو میرمني پیلوټي لخوا وشو. پدي اوسني آلمـان کـابینـه (۲۰۲۲) کي د کورنیو چـارو وزارت، د بهرنیو چـارو وزارت د دفاع وزارت په سرکي ښځي دي. پخواني لومړي وزیره انجلا مارکل د اتحادیه اروپا مشره اورزلافون لاین، د امریکا اوسني د ولسمش مرستیاله (حارث کاملا) یوه میرمن ده، د ولسـي جرګی مشـره (نانسـي) هم ښـځه ده.پاکسـتان اسـلامی جمهوریت بی نظیر بوتو، حنا ربـاني کر د پـاکســـتـان هم میرمني دي. د ملکه الیزابته دوهمه په انګلسـتان کي مثال راوړل همدا علم او تربیه ده چی د ښـځو د بریا د پاره لار هواروي چی دا لار طالب ډب کړیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په موږ کي برعلاوه چی ښځي خرید و فروش کیږي، کونده د ورور یا د تربور په میراث رسیږي.

د ښځو حقوقو د اعلیحضرت امان الله خان د وخت د پیل نه تر ۱۳۴۳ کی هم پام ورته وشو. په حکومت او ملی شورا، او اداره او قضا کي بشپړ رول ورکړه شو.
د خلقیانو وخت کي د ښځو حقوقوته پام ؤ.
لیدل کیږي چی کرهني، اقتصاد، سیاست او اداره کي بري لري، موټر چلوي، بس، ترن، الوتکه چلوي.
مګر طالب ورور چی د کورني نه لیري په حجره کي لوي شویدي، په خپل حجر فکرکي ډوب دي. ملا عبدالوکیل متوکل راته بیان کاوه، د کانادایي یوي خیریي مرستندویه موسسي د سره صلیب یوه میرمن چی د مرستو د ویشلو د پاره کندهار ته د تلو اجازه غوښتل.
د کندهار والي ملا حسن اخوند اجازه ورنکړه چی شرعي محرم ورسره نه وو.
ښځي نه تجاوز ګري دي او نه ترهګري. انتحاریي هم خوښ ندي. فرشته کوهستانی د تلویزیون کارکونکي په جلال آباد کي د کندهار د پولیسو افسره او نور هغه د طالب ویشتل شویدي.
طالب، طالب دي، که لر وي او که بر، پاکستاني طالبان ؤ چی ملال یوسفزي ماشومه ۱۳ کلنه باندي توپک راواړوه، تپي خو د مرګه بچ او به کال ۲۰۱۴ د نوبل په جایزه وویاړل شوه.

طالب نه یوازي د ښځو مخالف دي، بلکه د علم او پرمختګ سره هم دښمني لري. عبدالباقی حقاني وائي چی د ده ته ترماستر او داکتر د مدرسي نه راوتلي طالب مهم دي (تانند ویب سایت ۲۰۲۱) نارینه د ښځړو وخت کي په ښکنځلو کي یو بل ته د ښځو سپکاوي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شعر په ژبه وطن دوست خپل دوست سيک ته پناه وروړي او د پنجاب نه د خپلې بيچارګۍ حال داسې وائي.

دسيکانو مشرلاس دي د مچو دي
صدقه دي سم يو تريخ غړپ دي په څو دي
چې يې غرور ته غروونه سلامي کړه
اوس په ما پوري زما دم په مسخرو دي
د نانک روي يې دروړي پناه ورکړه
پنجاب درته جوړ کړي غوبل د انديښنو دي.

د يو پيړي راپدي او د اعلحضرت امان الله خانه تر اوسه بل هم پاچا يا ولسمشر په غير د ملا عمره په يوه ميرمن قناعت کړي وو.

بل ځاى د عبدالباقى حقاني د بيانيه په ۷ ماده کي کابل پوهنتون فحشـــاخانه بلل دي زما د همدي پوهنتون مشران او د هيواد معماران را ياد شي، لکه داکتر علی احمد پوپل، داکتر صـــمد حامد، وفی الله ســـميعي، پوهاند اصـــغر خان، داکتر عبدالستار سيرت، محمد موسى شفيق، عبدالهادي ارغنديوال، وايى

کاسه چيني که صدا ميکند     خود صفت خويش ادا ميکند

(تاننـد ۷,۳,۲۰۲۲ د ۱۴۰۱ د پوهنتون د پيل په غونډه کی)

د حکومتداري علم او هنر او تجربو دي چی دا د طالب کمبود دي.
پرويز مشـــرف د کتاب د (اورپه ليکه) کتاب په ۲۰ فصـــل کي د طالبانو په پيدا کيدو او روزولو اعتراف کوي، اوبل ځاي د نصـــير الله بابر او بينظيري ته منســوبه وي، چی همدي وخت کي، دي ولســمشــر دي بل ځاي طالبان بد بولی وائي ستر دين ئي سپک کړ. يو پاکستاني ملا د ډير مقتديانو په وړاندي په پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسمونه خوري، چې مولانا فضل الرحمن د بابا آدم سره به تلفون کې خبري کړيدي دا مطلب په تکرار وائي د youtube او https:/vt.tiktok.com کې خپور شوي.
دا مې يو اخواني چې د حزب اسلامی د کدرو نه يو دي. په غوسه راته وويل پوه شوم چې د لنين دا خبره چې ((دين ترياق دي)) رېښتيا راووتل.

مشرف ملا عمر سرتنبه بولي او د باميانو د بتانو د تخريب بيان هم راوړيدي.
او کله چې ۲۰۰۱ د اکتوبر پر اومه امريکا پر طالبانو د بريد وکړ. دي په ډاګه وائي چې طالبان پدي نه ارزي چې پاکستان د دوي پر ځاي قرباني ورکړي د امريکا پلو ونيوي. زياتوي چې د بلوچستان سيمي او د سند د (يعقوب آباد ) ميدانو د عمليات د پاره د امريکا په اختيارکې ايږدي، چې طالب وټکوي کوم چې ده روزلی وو.

د ملا محمد عمر د مرګ په تلين کال کي په (۲۰۲۲) جنوري ۱۴ مه ملا عبدالجبار عمري کله چې لوی ملا ۱۳ کاله ساتلي ؤ، د بيان په اخيره کي دا هم زيات کړه چې ملا صاحب صبر او توکل ؤ چې (خداي به ئي وبخښي) . زموږ ملا به ويل چې خاتمه مستوره ده .

ملا د ميني منکر ندي خو پر خوله يي نه راوړي مينه طبعي غريزه ده، يو احساس، يو تمايل او يو هيجان دي . چې د وصلت، جماع او نژدي، يا ډيري نژدي جنسي اړيکو هيله وي چې سکس هم ورته وائي. مختلف نومونه ورته ورکړه شويده، عاطفه مينه او محبت او عشق دي، عشق هغه مرحله ده چې تنګاتنګ نژديوالي يی په سکس بدليږي.

د حضرت (لوط ع ) د وخت نه پيژندلي شوي چې خمجنس بازی يوازي انساني پديده ده چې دا عمل حيواناتوکي نسته خو پاکستان اسلامي جمهوريت د شريعت خلاف دا شنيع عمل قانوني کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني د خمارو ســترګي، نري شــونډو تور کاکل، مرواريد غاښــو نازو ادا په الفاظو کې راوړي څوک نري ملا، څوک ئي خندا زړه وړې وي.

شاعر وائي، د مذهب بنياد پرستو د انسان خون ريزي بنده کړه

لوي مذهب انسانيت دي دا محبت لويه سجده ده

په هغه کچه چې وصـــلت خوږ دي، فراق هم تريخ دي د وصـــلت په نيت په زيارتونو ګرځي د ملا تعويذ په غاړه کوي.

کـه ايجاب قبول پکي وي پاک مينه ئي بولي که د ملا خطبه پکې کمبود و نو زنا ده. زنا سزا لري او بد عواقب .

پښــتانه يي نا موســي بولي، طالب صــحرائی محکمه و ســنګســاري (رجم) ســزا ورته ټاکي، که څه شـــريعت پدي برخه کي محتاط دي، تعذيري ســـزا هم حکم شته. د قانون په څنګ کي کورني سزا هم شته چي شخص مجازات عملی کوي او دواړه وژني . هغه / ماشـــوم چی تر خطبي وړاندي پيدا شـــي، د دي ميني قرباني شي حرامي بولي.

بيګناه ماشوم بدو عواقبو سره مخ يا سقط جنين شي او يا د تولد سره سم ووژل شــي که دا ونه شــوه، په پټه بی ادرســه په مســجد کي ايږدي وروســته کي خلک مسجدي ورته وائي.

نور نړي ســاده کړي ده، جدي ئي نه نســي کله د آلمان يو ســتر شــخصــيت ويلي برانت پلار معلوم نه وو .

ده هم نه پټول . د بهرنيو چارو وزير، لومړي وزير او د لوی ګوند موســـس ؤ. نړي وال په کچه ئي تيوري درلودي د نوبل په جايزه وياړل شو.

توپير پدي کی دي، چی انســـانان دا غريزه پټه ســـاتي. خو حيوانات او پرندګان خپل وصلت د نورو نه هم نه پټوي.

افغـاني ټولنـه کي دا اړيکي پټي ســـاتي، څوک ئي نـه څرګندوي. اما واقعيت بل ډول وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۳۴۹ کي په کانتينتال هوټل کي د ولســـي جرګه يو غړي په يوه کوټه کي يو ځاي د يوي ميرمني ســـره ونيول شـــو. چی د حکومت او پارلمان تر منځ په يوه لانجه بدل شوه وکيل مصئونيت پارلماني پلمه راوړه. اعليحضرت باباي ملت په کي مداخله وکړه څو تنه وکيلان ئي حضور ته راوبلل.

د هغه جملي نه يو وکيل وړانديز وکړ چی دا قضيه دي هغه څارنوال او قاضـي بررسي کړي، چی په ريښتيايی خپله دا کار نوي کړي.

مينه د طبعيت يو خوږ احساس دي. انګيزه ده. و وصلت او سکس د پاره (زيګ موند فرويد Sigmund Freid) سکس لکه خوب او خوراک د ژوند ضرورت بولي. د مخالف جنس جذابيت او ښکلا ميني ته انګيزه ورکوي.
مينه وصلت او سکس ته رسي نتيجه ئي هغه اصلي هدف د نسل دوام او هم مثل توليـد دي، د ميني نـه پـه لاس راغلي نتيجـه هم خوږه وي همـدا ده چی خپـل ماشـــومان ګران وي او د ژوند هيلي په کی رانغښـــتلي وي. واړه او زاړه چي د مثل د توليد نه عاجز دي، هغه نه مين کيږي نو مينه د مثل د توليد د پاره انګيزه ده.
د فرويد تيوري تراوسه نده رد شوي.
د دي غريزي ځپل او سرکوبول ګټه نلري. خوکه سکس پر سمه لار سوق شي، که نه بلي لاري او انحراف راوړي، هم جنس ګرائي يا جنســـي تيري او جنســـي ازار باندي اوړي خود ارضائي او يا نور اخلاقي انحرافاتو ته مخه کوي.
لمسونکي حرکات ناز او ادا، نڅا ده چی سـکس ته انګيزه ورکوي . شـاعران په رومانتيک جملو، سندرغاړي په شيرين اواز کي همدا هدف نغښتي دي.
ځوک پر خمارو ســترګو مين وي، د چائي نري شــونډي يا مرواريد غاښــونه يا کاکل باندي مين وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد ظاهر ارمان درلود او په کمپوزکی ويل:

کي باشد و مي باشد و وي باشد

شاپيري (نغمه) دا خپل احساس داسي راوړي :

که مي په ژوند کي ميسر نشوي
په قيامت کي به درباندي واچوم لاسونه

لاس اچول هغه
د وصلت مقام دي موژ کي چي زوي او لور چی بلوغ ته ورسي پخپله یا مور او پلارئي د واده په پام کي وي.
دلته مينه او عشـــق مطرح نه وي، دواړو خوا يوبل ســـره نه وي ليدلي. بيا هم سکس مطرح دي که څه هم په خوله نه وائي.
پرندگانو خواندن عاشقانه جنبه لري، چی خپل معشوق پام ځان ته راوګرځوي او بيا يو ځاي ځاله جوړه او هګی کښيږدي.
عروج مهمند هم د زړه ســوز خپل احســـاس نه پټوي. په خوږ اواز کي د باران خواست کوي وائي:

نن لالي راغلي خدايه پوره مي کړي سوالونه
چی واپس رانه ولاړ نشي خدايه وکړي بارانونه

دا هغه شــعرونه دي، چی د زړه راولاړيږي او به زړه موښــلی. اوريدونکی هم خوند تری اخلي بريښنا اميل نوره په ډاګه وصلت په هيله وائي:
راشه چی غيږ کی دي ويده کړم
ډير به دي کړي وی تنها، تنها خوبونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غيږ نيول د وصلت اصلي هدف دي بيا هم بربنډ ټوله شپه د مين په مينه نده مړه شوي وايی:

د چرګ اذان دي د ملا خوندي
جانانه پاته شی سهار خوندي

د دي پر څنګ سکس فلمونه راوتلي، لایی جانان، ګران، مين، زړګی همغه نومونه دي، چی مين ته خطابيږي.

مين خپل مينه د ځان د پاره غواړي. او هر څه او هري قرباني ته ولاړ دي. او په وصلت ئي مړيده نشته.
د دي طبعي غريزي ځپل ګټه نه کوي، ځوانانو ته په ځينو هيوادونوکي موقع ورکړه شوي ده، چی سره خوښ کړي.
مينه کله د اختيار نه ووزي لکه په قران کريم کي د حضرت يوسف ع او زليخا د مينه کيسه او بيان په تفصيل راغلي. چی يو ځلي زليخا لاس ور واچوي، حضرت يوسف نبي ؤ د ګناه پاک، تري منډه کوي خو د شا تر لمن ئي نيسي چی هغه څيريږي.
د ناکامو عاشقو داستانو زموږ د کلتور يوه برخه ده لکه ښادي خان او بی بو شيرين او فرهاد، رابعه بلخي، ګل بشره او طالب جان، قيس (مجنون) او ليلي داستان به ټولو اوريدلي وي.

داهم وائي چی کوم وخت بخت مجنون ته ياري وکړه ورته برابره شول. چی ليلي د څو شپو د پاره د خپل ماما په کورکي د ځان سره ولري . په لويديځ کي د Romoe او Juliet د عشق د ناکامي او خودکشي داستان تراوسه ژوندی دي او کتاب پر ليکل شوي او فلم پر جوړ شويدي.
نړي د دي ضرورت ته پام شوي، د پوليسو او روغتيايی چارواکو تر کنترول لاندي خاص ځايونه جوړ کړيدي. چی پاک لمن تري خوندي کړي د انګريزانو وخت نه د پاکستان اسلامی جمهوريت کي داسي ځايونه لا تراوسه هم شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانانو ته دا کار نوي وو. کله، کله به ئي هلته چی د ښځو چاچی به نه غوښتل په تنده لهجه به ئي ورته ويل، ماته چی نه راځي، مورته دي ورشه.

د هيواد پټ پټ د کنترول نه ليري په لوي، لوي شارونو کي په خصوصي ډول اوريدل کيږي چی زندانونو کی ښــځی ليدل کيږي. چی تورني شــوي دي او دا خطرئي منلي دي د واتيکان د کليسا پټ سکسونه رسوائي ته را ووتل.

اهل تشـيع هم دا غريزه پيژندلي، د تدبير په منظر لنډ مهاله نکاح (صـيغه) جايز بللي.

## د سپتامبر يولسمه

پرويز مشرف : طالب پدي نه ارزيدل.

د ۲۰۰۱ کال د سـپتامر يولسـمه د نيويارک پر تجارتي مرکز د ۳ پروند الوتکو چی د بوسـتون (امريکا) د ښــاره ئي الوتنه وکړي انتحاري بريد په نړي کي بی پخواني عمل ؤ. ټوله شوکه شول.

تر ۳۰۰۰ تنو زيات پکی ووژل شول او دواړه تجارتي برجونه راولويدل.

تر دي وړاندي دوه ورځي د تخار د خواجه بهاوالدين په ولســـوالی کي پر احمد شاه مسعو ځان وژني بريد وشو

مسـعود پکی شـهيد شـو. د نيويارک په پيښــه کي د امير المومنين ملا عمر ميلمه لادن تورن شو . او پل افغانستان ته ودريد.

دواړي پيښـــو کي عربان تر اعتراض لاندي راغلل د شـــهيد مســـعود د پيښـــي انتحاريان عرب الاصل بلجيم نه د خبريال په پلمه راغلي وو.

يو مياشـت ئي په جبل السـراج کی انتظار وايسـت چی اسـتاد عبدالرب رسـول سياف د مسعود نه وخت ور واخيست . د انتحاري مبارزه د هغه نه پيل او بنسټ کيښــودل شــو. اســامه (د القاعدی) موســس د مبارزی تکتيک ونوميدي او ځان وژني نتيجه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسـامه چی د کندهار او توري بوري تر منځ ازادانه تګ او راتګ درلود، نورو همدا ډول پيښـو کی پخوا هم تر تور لاندي ؤ. امريکائي تسـليمي وغوښـتل امير المومنين د ميلمه پالنی په پلمه او د افغاني دود او دستور مخالف وباله . د تسليمي نه ډډه وکړه.

امريکايانو تر شـل ځلي ډير مراجعه وکړه، د امير المومنين جواب منفی ؤ. اخير د اسلام آباد سفير ملا عبدالسلام ضعيف ته مراجعه وشوه هغه هم نتيجه ورنکړه . د ملا عباس نه په شخصی مجلس کي چی عباس ستانکزي هم ورسره ؤ وويل چی موږ د امريکا سره د مجريمينو د استرداد پروتوکول نلرولو پلمه وکړه.

د سعودي شهزاده فيصل الترکي چی د افغان د جهاد خواخوږي ؤ هم لوی ملا ته مراجعـه ګټـه ونکړه، لوی ملا پـه ډيرو ســـپکو خبرو د رد ځواب ورکړ. او د شاهی کورنـي ئي خائين وبلل.

د پاکستان د بلوچستان د سيمي نه په همدي کال د اکتوبر پر اومه B52 په الوتو شوي.

طالب تر بريد لاندي راغي، بده ورځ ؤ، څوک د چا په داد نشواي رسيدلي.

اميرالمومنين د بانک نه څه دالر د ځان سره واخيستل پر هوندا موترسايکل پښه واړول، لويه لمن به ئي په هوا شول.

هغه ځاي ته ځان ورســـاوه چی تري راغلي ؤ. لوی ملا په مهمو تصــميم ګيري کي موضوع په خوب ته حواله کړه، ايا د دي ورځي خوب به ئي ليدلي ؤ که نه. چی پښـه په خپله پايڅه کي ښنګه بنده شـوه خو يو طالب وائي د زابل د سـيوري په ولسوالي کي وساتي.

قسـيم فهيم مجاهد د احمدشـاه مسـعود ځآی ناسـتی شـو، شـمالي ټالوال او جنرال دوستم د امريکائي قواو مځکنی سربازانو دنده واخيستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان نړيوال جبهه بدله د ترهګرو په ضد د نړيوالو څنګ ته ودريد. پرويز مشرف خپل کتاب (د اور په ليکو) کتاب کي راوړي چی طالب پدي نه ارزيدي چی د پاکستان ګټی په خطر کي واچوي.
طالب په کندز کي تسليم شو پاکستانی مليشه طالب په څنګ کي جنګيدل د جګړي د ميدانه پورته کړل طالب جنګيالي نور دوستم ته ور پاته شول.
طالب د بلخ کلا جنګی کي مقاومت وکړ. د هغو مقاومت هم مات شو جنرال دوستم په کانتينروکي بار کړل.
څوک چی ژوندي پاته ؤ د ليلي په دښتوکي د کاريزو څاګانو ته واچول . په BBC کي چليدلی مستند فلم د (کاروال مرګ په نامه) د رحمت دا ريا ژباړه دا تراژيدي حالت ښکاره کوي. دا جنګی اسيران ؤ بايد د جينوا د کنوانسيون جنګی اسيرانو معامله ورسره شوي واي . پدي کي ډير داسی کسان چی طالب په زور په کوڅه او بازار کی نيولي ؤ هم شامل ؤ. چی قتل عام شو.
د طالب څو تنه مشرانو لکه ملا اختر محمد منصور چی د جنرال مالک په لاس کي ؤ، هغه ژوندي و ازبکستان ته واړول.
طالبان څوک مړه، څوک بنديان ګوانتانامو (کوبيا) جزيري ته وليږدول شول. څوک په پاکستان کي پټ شول.
د امير المومنين او اسامه بن لادن پر سر جايزه کيښودل شول، چی دواړه پاکستان کي د مقاماتو تر نظر لاندي په امن ژوند کاوه.

ځيني پاکستان د (مبادا ورځی) د پاره وساتل، کوم کس چی د پاکستان خوښ نو وو امريکا ته تسليم و پيسي به ئي پري واخيستي. افغاني سفير په اسلام آباد کي عبدالسلام ضعيف د ديپلوماتيک مصئونيت سره په ډير بی عزتي الوتکي ته پورته شو.
ملا عبيدالله د دفاع وزير، ملا عبدالرقيب د مهاجرينو وزير ياسر د اطلاعاتو او کلتور وزير د بيا بريدونو د مخالفت په ګنا په زندان کي تر شکنجی لاند ووژل، ملا اختر محمد عثماني په کال ۲۰۰۷ ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(شبکه اطلاع رسانی د نيوزيک په حواله) د لوی ملا د دفتر مشر سيد طيب اغا د ډاره فرار وکړ. وړونه محمد يونس اغا او هغه بل زندان کي واچول شول.
ملا بور جان په سربي کي د کابل د بريد په لاري د شا د خوا وويشتل شو.

د ماليی وزير سيد آغا جان معتصم په کراچی کي تر بريد لاندي راغي، ولګيد د مرګه بچ، خو ښنه ئي تراوسه معيوب دي.
او اختر محمد منصـــور د لوي ملا ځای ناســـتی د ايران ته خپل ســـر د تګ په خاطر د (ډرون) الوتکي تر بريد لاندي راغي. شتمني ئي پاکستان ضبط کړه.
ملا عبدالغنی ۷ کاله بيله جرم او بيله محاکمي په زندان کي تير کړي.
دا دولتي تروررونـه لکـه د جهاد پـه وخـت کي دوام او د جنت بلبلان د کـابـل پـه لوري دا مارش کړل چی هيواد په خرابي او غم واړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لوي ملا د ژوند ورستي شيبې

## (طالب د نړي ستر دين سپک کړ(مشرف)

ملا کورني او دولت د امريکائي عملياتو سره سم هرڅه پرېښودل . ملاعبدالجبار عمري وائي چې سم لوی ملا مو د زابل سيوري ولسوالي ته ورساوه او هلته ۱۳ کاله په يوه کوټه کي اوسيدي.
نور د ملا واک ورک شو په ۱۳۹۷ لوی ملا د مرګ خبر خپور شو، چې دو کاله پخوا مړ ؤ.
د قبر نه ئي هم فرمان ئي چليدي. آن داکتر غني د اختر تبريکي وروليږل، ناروغي او جنازه ئي چا ونه ليدل، وائي د کراچی په يو روغتون کي د تبرکلوز د ناروغي له کبله په ۲۰۱۳ د اکتوبر ۲۳ ساه ورکړه . د ده پر سر هم جايزه پرته و، پاکستان ځان بی خبره بولي.

د بلی خوا په ډير منافقت د لوي ملا پټ ژوند د کندهار په جنوب کي بولي. ملا عبدالجبار عمری ادعا لري چی چی د زابل د سيوري په ولسوالی کی ده، ملا عمر ساتلي ؤ، چی بل چا نده تائيد کړي او په رد ئي دلايل هم نشته.
چی چرته دي او پرويز مشرف په خپل کتاب کي د ملا د څلورو ميرمنو، ډيرو لونو او زامنو بيان راوړي کله چی مل عمر پټ سو کوروالي نده کړي اونه يی ماشوم پيدا سوی، البته د کراچی د ژوند نه ئي هم پوره خبر وو. دی او بن لادن پټ په امن کی ساتلی وو. پدی مانا چی داشته کار آيد.

پاکستانيانو طالبان ښه پيژندل په رويکاريدو او ځپلو کي لوی لاس درلود د پرويز مشرف دا خبر د تأمل او ده چی وي ويل: ((طالب د نړي لوی دين بد نامه کړ)) ډير ژر د لوی ملا ځای ناستي ملا اختر منصور وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه لکه چې د مقاماتو خيال چندان نه ســـاتي د ايران نه بی اجازی تګ د راتلو په لار د بی پيلوټه الوتکی ښــکار شــو ګمان کيږي چې پدي کي به هم SII لاس ؤ . خو په پاکســتان کی شــتمني ضــبط شــول او په خای ئي ملا هيبت الله اخوندزاده وټاکل شو.

لوي ملا پري نه پوهيدي چې امريکا دمره زور لري اوســـني امير المومنين هم وائي چی د امريکا د اتم بم نـه، ډار نلري. لوی ملا ۱۳ کـالـه پـه ډير ډار پـه يوه کوټه کي ژوند تير کړ بيايی څلورو ميرمنو ياد ونکړ.

لوي ملا د لوړو پښـــتني خويونو خاوند، د افغانی ميلمه پالني له کبله خپل تاج او تخت پر لادن وواهه او دي ئي ونه سپاري احمد شـاه مسـعود د طالبانو سـره په وردګ ميدان کي په ليدنه کي کولاي شـواي چی وينسـي دا کار د افغاني اصـولو ليره باله ونکړ. اســفنديار د پاچاخان زوی وائي چی ملا نورالدين ترابی هم ماته وويل کله چی د افغان او پاکستان تر منځ د ښه ګاوند د پاره د ډيورند د کرښی د پيژندلو د پاره نصيرالله بابر وړانديز وکړ.
لوي ملا په غوځ دريځ د ډوډی د دسترخوانه ولاړ کړ د امريکائي بريد سره سم د دوستم ګلم جم ډله او شورای نظار د مارشال فهيم تر مشرتابه لاندي د مځکني ځواکونو په توګه د امريکا ســـره ودريدل. که څه هم بمباردمان شـــديد ؤ اســـتاد ربانی به نور هم درانده بمان هيله کول.
د طالبانو پسی پلټنه پيل او نيول شوه . پاکستان ورسره په مرسته کي شو او د هر تن طالب د نيولو پر سـر يي د امريکا نه پيسـي واخيسـتي . څه کسـانو چی کولای شوای پټ وساتل.
د دي د پاره چی اداره تشه پاته نشي . د المان د بن په ښار کي د ملګرو ملتو تر چتر لاندي بين الافغانی غونډه جوړه شوه.
د پرويز مشـــرف خبره د ملا عمر ســـرتنبه ګري چی هم ئي ځان تباه کړ او هم هيواد، دا تباهي دوام لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلادن د تسـليميدو نه د ملا محمد عمر ډډه، شـلو کلو وروسـته د ۱۱,۲,۲۰۲۲ جوبايدن د دي په مقابل کي ۸ ميليارد دالره (افغانی شتمني) د نيويارک د پيښي د قربانيانو ورثی د پاره ضبط او وګرځوي.
پداسـی حال کي چی ميليونونه افغاني ماشـومان د لوږي د مرګ تر تهديد لاندی دی، پدي تصميم به ملا عمر څوک و نه بخښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بن لادن

اسـامه بن لادن په نامه يو شـتمن عرب د شـلمي پيړي په وروسـتيو کي زموږ د هيواد د پيښي سره پيوند لري.
اســـامه پـه ظـاهره آرام او خـاموشــــه چی ۱۹۵۷ پـه ريـاض کي يمني پلار او فلسطيني مور نه زيږيدلي .
پلار ئی محمد بن لادن ابن اوادين لادن د تعميراتي يو کمپنی خاوند ؤ.
د سعودي د ملک عبدالعزيز د پوهنتون نه فارغ شوي. په وروستيو کي چی د ده د سياسي تګ لاري له کبله سعودي عربستان د ده تابعيت سلب کړ.
د ۱۹۹۴ راپدی خوا بی وطنه ؤ د اسلام په خاطر ډير زجرونه وګالل تر څو دي لارکي سرور کړ د ده پر سر امريکا ۵۰ ميليونه دالر جايزه ايښوه.

د شـوروي د يرغل سـره چی عبدالله اعزام فلسـطيني مهاجر مصـر د الاظهر د پوهنتون نه فارغ د امپرياليزم په مقابل کي عقده من د افغانســـتان د جهاد به نيت پيشاورته راغلي او د مجاهدينو څنګ ته ودريد.
د جهاد د پاره د شتمنو عربو مرستي راټولولی.
جهاد پر ټول عالم اســـلام فرض توجيه کول عربی ځوانان په جنګ لاس پوري کړ، اسامه بن لادن چی هم ځوان ؤ د اسلامي جذبي لاندي، د شيخ عبدالله اعزام د تريننګ په کمپ کی شامل شو.
خو اعزام (عبدالله) د خپل زوي سره په يو مرموز بريد کی په پيښـور کی شهيد شو.

اسامه په مستقل ډول د کفارو په ضد، او د کفارو د استعمار نه د اسلامی مځکو خلاصــــولو پـه هدف پـه ۱۹۸۸ د القاعده په نامه يو ســـــازمان جوړ کړ. د دي سـازمان مبارزه د مطبوعاتو، تبليغاتو، لاريونونو په ډول نه بلکه ترور په شـکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرح ريزی کړ. القاعده د بنسـټ پالي او افراطيت پر اصـولو کلک ولاړ ؤ مافيايی ډوله وو.
د کاپيسا وکيل حاجی قدير چی په پينور کي د ده د ډريوري وياړ درلود. د ده د تقوا او سمو اخلاقو بيان کوي. اسامه د جهاد په لارکي خپله شتمني نه سپمول.
اسامه په ۱۹۹۱ کي د سعودي نه وايستل شو. سودان ځاي ورکړ.
په ۱۹۹۳ کي د اسـامه په پلان د نيويارک د تجارتي مرکز په زيرخانو کي بمي چاودنه طرحه ورکړه. چی ۶ تنه پکی مړه شول دي وخت کي لا مشهور ندي.

اسامه خپلو عملياتو يو د بل پسی دوام ورکړ په کال ۱۹۹۸ د اګست مياشت کي به يوه ورځ په نايروبي او دارالاسـلام امريکائي سـفارتونو بريد وکړ. چی ۲۲۴ مړي وشو.
په ۲۰۰۴ کي پر مادريد بريد کي ۲۰۰ مړياو ۵۰۰ ټپيان .
پـه کـال ۲۰۰۵ پـه لندن کي بريد کي ۵۲ تنه مری په ۱۹۹۰ د يمن حمله، ورځ تربلي اسـامه په نړي کي شـهرت موندي، ډار هم تري کيږي. سـودان تر فشـار لانـدي راځي افغاني جهادي رهبران د اسـلامی ميني په روحيه او کوم پيژندنه چی د جهاد د وخت نه وه غيږ ورته خلاصـوي چی جلال آباد کي د الوتکی نه راکوز شو، چی تود هرکلی ئي وشو.
د اريانا هوائي شـرکت پخواني مشـر هارون شفق د رازق مامون سره به ۱۹۵ لمبر د جمهوريت ۵ ويب سـايت په برنامه کي بيان لري چی د اسـتاد رباني په واکمني کي کـال ۱۹۹۶ د مي ۲۲ د کابل نـه د اريانا په الوتکه کي پواسـطه د بسـځو او ماشـومانو سـره جمله ۸۰ تنه د خرطوم نه جلال آباد ته راوړل شـول چی د رهبرانو لخوا ئي تود هرکلی وشو.
د ننګرهار په فرقه کي ځاي پر ځاي شو د استاد سياف کومندان حضرت علي د امنيت د پاره دنده واخستيل، وروسته نور عرب هم د پاکستانه ورپسي واوښتل.

اسامه د يوي خوا د اسلامی اخوت پر بنا او بل خوا په لاس کي خلاص ؤ. وائي چی په کابل کي د ښار په فيمتي ځايونو کي ځو کورونه رانيول . د افغاني قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مخي د بهرني په نامه قباله نه کيدلی. د يو او دو رهبرانو په نامه قباله شـــوه، چی د ده مرګ سره البته هغو ته به پاته شوي وي.
کله چی طالب مسلط شو، دوي هم وساتي. د ننګرهار د توري بوري او کندهار پوري تګ او راتګ ازاد ؤ.
تريننــګ هم دوام درلود چی ډير عرب او بهرنيـان پکی ګـډون درلود . ده ۵ نکاحوي کړي.

امال الساده ۱۸ کلنه يمني اينجلي سره په کندهار کي واده وکړ چی امال د ژوند تر اخيره ورسره وو.
د امريکا د بوستون د ښار نه د سپتامبر پر يولسمه څلور الوتکو د نيويارک پر تجارتي مرکز انتحاري بريد کي اســامه تورن شــو چی اوس نو تر جدي تعقيب لاندي شو.
د امريکايی عملياتو په ترڅ کی حاجی زمان او حضرت علی د ننګرهار جهادي کومندانانو لومړي نورستان بيا پاکستان ته واړاوه. د اسلام آباد به ۵۰ کيلومتری ايبت آباد کي چی پوځي سيمه ؤ. ځاي پر ځاي شو.

همدا ډول چی ملا عمر هم د پاکستان تر نظر لاندي په امن کي ژوند کاوه. اسامه بن لادن هم همدا ډول په پاکســـتان کي د امن ژوند درلود. د اســـامه د خولي google راوړيدي. چی لادن د پښتورګو د ناروغي نه رنج وړي د داکترانو په مشـــوره جنرال پرويز مشـــرف د (Dialyse) د تداوي اله ورولیږل چی لادن تری مننه وکړه.
ځينو اسلامی هيوادونو کي لادن اوس هم محبوبيت لري.
ځينو پر نوي زوکړي ماشوم د (اسامه) نوم ايږدي مورئي په يوه مرکه کي اسامه مجاهد وباله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مي د مياشتي پر دوهمه کال ۲۰۱۱ د جلال آباد نه د ايبت آباد پرلوری د (دلتا) کومندو په دو هيلوکپترو کي په هوا شـــوي، د لادن پر کور بريد او ربرت دانيل دري مرمي پرسر ورخالي کړي مړی ئي راپورته کړ.

اوباما د خپل امنيتي ټيم ســــره عمليات د SKY د لاري تعقيبوي، مړي ئي په بحيره عرب کي وغورځاوه. عمليات له دي کبله بريالي ؤ چی باالاخره امريکا د پاکستان دوه مخه سياست ته پام شوي ؤ.
د افغان بخت پدي کي ؤ چی د عملياتو په ترخ کي يوه امريکائي هيلوکپتر تګر شوه، که نه پاکستان به پر لادن عمليات په افغانستان کي بللی واي.
د حقوقو له مخي خلا لري چي بايد محاکمه شوي واي.

پاکســـتان د دي عملياتو مخالف ؤ، شـــکيل افريدي چی پدي لارکي د امريکايانو سره د لادن په پيدا کيدوکي مرسته کړي وه محاکمه او زنداني کړ.
امريکا بيا هم د خپلو تر دري زري زيات اتباعو د وژنکي د شـــريک جرم پاکســتان ګرم نکړ. الظواهری د لادن مرســتيال مصــری داکتر د ده ځای ناسـتی شو او القاعده ختم نه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نـهم فصل
# دموکراسي په اصولو اسلامی جمهوریت
# حامد کرزی

جګړه لا دوام لري. د دســـمبر میاشـــت کال ۲۰۰۱ دآلمان د بن په ښـــارکي د ملګرو ملتونو چتر لاندی، بین الافغاني غونډه جوړه شوه. پیژندل شوي سیاسـي او د جهاد پیژنـدل شـــوي شـــخصـــیتونه، محمد یونس قانوني، داکتر عبدالله، عبدالســتار ســیرت، عزیزالله واصــفي او څه نور. د زلمي خلیلزاد د الجزایر پخواني د بهرنیو چارو وزیر لخدر ابراهیمی تر مشـــرتابه لاندي راغونډ، البته تصـمیم هم اسـانه نه ؤ، څو ورځي دوام وکړ د دي د پاره چی حکومت کی تشـه رانشـــي پر ۹,۱۲,۲۰۰۱ پر یو ځوان او جهاد پیژندل شــوي څیره حامد کرزي سـلا شـوه. چی ده څو ورځی وړاندي د مقاومت په منظور په موتر سـایکل روز ګان غرووتـه ځـان رســـولی ؤ. د غونـډي د برخوالو تر منځ پـه رایه ګیري کي عبدالستارسیرت رایه ډیري وي خو د ځینو ملحوظاتو له کبله د خلیلزاد او لخدر ابراهیمي په وســـاطت د ســـیرت نه هیله وشـــوه چی د کاندیدنه لاس واخلي نو کرزی ومنل شو.

طـالبـانو پر روزګـان هجوم یووړ چی د حـامـد کرزي ســـره هم هغه وضـــعیت وکړي، چی په آزره (لوګر) کی د کومندان عبدالحق سره وکړه.

د کرزي د پلویانو او طالبانو تر منځ لا جګړه دوام لري. طالب نور پوه شو، چی د تښتي او سولي لار سمه ده.
امیر المومنین کندهار نه امیر محمد اغا، ملاعبیدالله، ســید طیب اغا او ملانقیب اخونـد پـه واســـطـت د حـامد کرزی مقابل کی د جګړي لاس واخیســـت د امیر المومنین د تسلیمي لیک تسلیم کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او طالب د تيښتي لار ونيول، حامد کرزي ارګ ته محدوده ۶-۵ تنو سره ننوت، ارګ کي څه پاته نه ؤ. اعليحضرت محمد ظاهرخان هم دا تصميم تائيد کړ.
کومندانانو مارشال قسيم فهيم چی د احمدشاه مسعود ځای ناستي ؤ، ده ته په هوائي ميدان کي هرکلی وکړ.

جهادي ستر کومندانانو تورن اسمعيل خان، ملا شير محمد اخوند د هلمند، د نيمروز عبدالکريم براهوي، ملا نقيب الله د کندهار، قاری بابا د غزنی، حاجی پاچاخان ځدران انجنير غفار، انجنير ضرار احمد عثمانی، سلام راکتي، سيد حسين انوری، امان الله ګذر، ملاتاج محمد، انور جګدلک، ملا عزت، سرکاتب عطا محمد، عطا نور، جنرال عبدالرشيد دوستم، شير علم، عبدالروف ابراهيمي، محمد اکبر اکبري، محمد اکبر بارکزي، منشي مجيد، جنرال ګل آغا شيرزوي، وحيدالله سباون، حضرت علي د ننګرهار، کومندان بشير بغلاني، جمعه خان همدرد، عارف خان نورزی، داکتر مدبر، سرور دانش، بسم الله محمددي، حاجي الماس او نور، او نور، چی تولہ نور د جګړي نه ستومانه شوي ؤ.
او رهبرانو، ګيلاني، مجددي، محسني،سياف، محمدی صاحب، محقق، خليلي. دا د ملګرو ملتونو سياسي د حل لاراو دا سياسي پريکړه ومنل. بالاخره استاد رباني ئي هم موافقه وکړه او د ارګه نه ووت حکمتيار تر اخير رانغي د بن پريکړه ومنل. د هيواد خزانه تشه، ارګ چور شوي هيواد ړنګ شوي، اداره شړيدلي بيا هم ولس دا وښودله چی موږ موږ يو، ابر ځواک ته مو ماتي ورکړه خو ډير ګرانه تمامه شوه .

ډبليو بوش وويل چی افغانستان اجاره کيږي خو نه رانيولکيږي د حامد کرزي په مشري د موقت اداري د پاره په کال ۱۳۸۱ کی بيړني لويه جرګه او په کال ۱۳۸۲ د اساسی قانون لويه جرګه داير شوي. او په کال ۱۳۸۶ کي د امن لويه جرګه يی د پاکستان سره د ګډ امن به هکله يوي نتيجي ته ورسيږي، دي جرګی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتونخوا مشر محمودخان اڅکزي، افراسياب خټک د نشنل عوامي پارټۍ په استازيتوب او صدر جنرال پرويز هم ګډون درلود.
لويه جرګه په ۱۳۸۱ داير او په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۹ کې د ولسمشرۍ ټاکني ترسره شوي.
د کرزي په دور کي درې ځلې په ۲۰۰۴، ۲۰۰۹ په ۲۰۱۴ ټاکنې وشـــوي چې وروستۍ ټاکنو کې داکتر محمد اشرف غنی احمدزي کانديد وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کرزي اداره

نوي نظام لیري او نژدي هیوادونو په رسمیت وپیژند.
نظام خپل مشروعیت د لویه جرګي یا د آزادو او سراسري ټاکنو لخوا ترلاسه کړ.
د کرزي د لنډ مهالی دوري د تائید، د اساسی قانون و تصویب او بیا د امنیت د پاره جرګی راوغوښتل شوي. په نوي اداره او اصلاحاتو پیل وشو.
PRT د بازسازي د پاره DDR چی د کومندانانو نه وسلی راټولی کړي، IOM پخواني مامورین او تعلیم یافته چی د هیواد پریښودوته اړ شوی ؤ د بیا راستنیدو او په دولت کي د کار د پاره جذب شي او د تجربو نه ئي کار واخستیل شي. ۴۸ هیوادونو سربازان د امن د پاره هیواد ته د ملګرو ملتو تر چترلاندي را ورسیدل. د یوناما په نامه د ملګروملتو نمایندګي جوړه شو، چی د افغان او ملګرو ملتونه اړیکی وساتي. افغان د هر مرستي لایق وبلل شو.

دولت پالیسی وه چی د ټوپک ځاي قلم ونیسي د هیواد د دفاع او آبادي د پاره ټوپک نه، بلکه سیاست ته مخ کړي. د مهاجرینو راستیندل پیل شول، نوی لوټونه چاپ شول، بازسازي پیل شوه، روغتونونه، ښونځي اباد او فعال شول، تلویزون، پوهنتون او تلیفون فعال شوي.
په بهر کي افغاني دیپلوماتیکی اداري فعاله شوي، هیواد اساسی قانون وموند، بیا افغان دری رنګه بیرغ په رپیدو شو، په ملګرو ملتو کي د افغان کرسی زموږ شوه.
ملي سرود چی د ټولو افغاني قومونو یاد پکی راغلي، چی هر افغان پکی ځان وګوري، د اردو او پولیسو بنسټ کیښودل شو.
دوه ځلي د ولسی جرګي پر خپل قانوني وخت ټاکنی تر سره شوي.
متعدد قانونونه پاس شول. ستره محکمه تشکیل شوه، د ګاوندیانو او نړیوالو سره سیاسی اړیکی ټینګي شوي، د پاکستان پرویز مشرف، دبلیو بوش، او نواز

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـــريف، د ايران احمدی نژاد، د هند مشـــران رنداموډی، د المان لومړي وزير شرويډر، سرکوزی د فرانسـی ولسمشـر داسـی نور د نړي سياسـتوال راغلل او ولاړل ډبليو بوش، اوبـامـا دو ځلي کـابـل تـه راغلي. د امريکـا د بهرنيو چـارو وزيرانو هيلري کلينتن، جـان کيري هم د افغـانســـتـان نـه ليدنه وکړه. د المان او برطانيا د بهرنيو چارو وزيران اوشـــکافيشـــر او ډيويډ ميليبند کابل ته راغلل، ولسمشر هم بهرته سفرونه وکړل.

د هند لومړی وزير رندراموډي، کابل ته راغی، د هند د بهرنيو چارو وزيری د بی بی مهرو پر غونـډي د افغـان دري رنګـه بيرغ پورتـه کړ. د امريکـا بهرنيو چارو وزير جان کيري څو ځلی، او مرستيال جوبايډن هم راغي.
په هندکی د حامد کرزي په نامه يوه څلور لاري او په فرانســه کي د احمد شـــاه مسعود په نامه هم دا ډول وشوه.
روســـي هم هڅه وه چی د يرغل جنايات تلافی وکړي. حامد کرزي د ســـولي د نوبل جايزي ته کانديد شو.
ځوانان د لوړو زده کړو د پاره دوستو هيوادوته وليږل.

د آزادو ټاکنو په ترڅ کي مخالفين او موافقين يو ځای د هيواد په سرنوشت باندی راټول شول. استاد برهان الدين ربانی او استاد عبدالرب رسول سياف، حميدالله توخی او عطاوالله لودين او نور جهادي څيري او پاخه کمونستانو چی د شوروی د يرغل د دوام د پاره فعاليت او مبارزه کونکي
کبير رنجبر، سيد محمد ګلاب زوي او نور الحق علومی سره يو ځاي په ګډه تر يو چتر لاندي راټول شول.
خو په ملی شورا کي د مجاهدينو پله درنده وه.

د خلکو په نوبـــت او علاقه په ولاياتو کي بنـــارګوټي لکه هرات کي جبريل په نامه، عينو مينه کندهار، دحاجی نبی شـــهرک، د کابل په دارالامان کي، په مزار شـريف کي، جلال آباد د امان الله خان به نامه، کابل کی سليم کاروان، شـهرک

(c) ketabton.com: The Digital Library



طلائي، شــهرک آريا او نور، او نور د خلکو د ضــرورت د ليری کولو د پاره جوړ شول، وزارت شهرسازی بيا فعال شوه.
احمد شا بابا مينه او خير خانه ابادي شوي. شخصـي روغتونونه، او شـخصـي پوهنتونونه او شـخصـي ښـونځي هم د سـتونزو د ليري کولو د پاره لاس پکار شول.
خلکو سـرمايه گذاري وکړه، شـخصـي مځکني او هوايي شـرکتونه، آريانا، کام اير، صافی هوائي شرکت، پامير هوائي شرکتونه جوړ شول.
طلوع، آريـانـا، آينـه، ارزو، کـابـل نيوز، ملی، نور، خورشـــيـد، يـک، تمـدن تلويزونونه فعاله شو. همدا ډول راديوگان رامنځ ته شوي.
د بيان د آزادي تر عنوان لاندي ډير ورځپاڼي، ويسـا، ۸ صـبح، فرهنگ او نور چاپيدل. متعدد گوندونه ثبت شـول. د مدنی ټولني په نامه متعدد ډلي سـره راټولي او راجستر شول، هرپلو هيلي را وغوړيدلي.

په کرهنه او صنعت او تجارت کي خلکو پانگونه وکړل.
حـامـد کرزي څلور دوري حکومـت لنـډ مهـالـه، انتقـالي او دوه ځلي ټـاکنيزي ولسمشري په امن کي تير شو.
هر پلو هيلی راوغوړيدلی، دښـــمن دا پيرزونه نه درلوده، که څه هم د طالب نه کرکـه وه پـه کـال ۲۰۰۴ بيـا کلـه کلـه يو خوا او بلی خوا غلچيکی حملی اوريـدل کيدي.

لوي او جدي اعتراض دا ؤ چی د کرزي په اداره کي يو قوم ته خاص پام ؤ، او تر خپل حق زيات برخه ورکړه شوي ؤ. په ټولو دورو کي د ده لومړی مرستيال همدا قوم وو. لومړي مرستيال ضيأ مسعود، مارشال فهيم. او بيا يونس قانونی ؤ.
داکتر عبدالله د بهرنيو چارو وزير، د کورنيو چارو وزير يونس قانونـی، د دفاع وزير مارشـــال فهيم، محمود دقيق لوی څارنوال، فضـــل احمد معنوی د ســـتري محکمی مرســتيال، عارف ســروري د امنيت ملی رئيس او بيا وروســته امرالله صـــالح، بســـم الله محمدي وزير دفاع، بيا د کورنيو چارو وزير، جنرال کريم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګارد کومندان جنرال نورالله، د لسم ریاست رئیس، ظاهر اغبر د المپیک مشر، قره بیک د سره میاشت مشر او داسی نور او نور اکثراً دولتی مهم پوستونه د هم دغه یو تبر په لاس کي وو.

د اساسی قانون د تسوید کمیتي دنده واخیستل نوی اساسی قانون د ۱۳۸۲ لویه جرګی ته وړاندي، چی تصویب شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان اسلامی جمهوریت اساسی قانون
## ۱۳۸۲
### د استاد سیاف وړاندیز ؤ چي د جمهوریت سره (اسلامی) نوم هم ور زیات کړي

اساسی قانون د نامه نه څرګندیږي چی نظام جمهوري او اسلامی دي. په مقدمه کي جهاد، تاریخي مبارزو او فداکاري ته اشاره راغلي ده. دا قانون د دیموکراسی په اصولو برابر او بشری عدالت به پام کي نیول شوي او تفکیک قوا.
لویه جرګه په ۱۱۰ مادو کی د مشروعیت منبع بلل شوی وه .
ملی شورا ۸۱ مادو کی د ولس د ارادي ښکارندویه ده .
قانون اساسی د دولت واک محدودول او ولس ته بیله تبعیض په واک کی ګډون البته د ټاکنو د لاري ورکول دي.
د ۶۱ ماده د ولسمشر او د ۸۳ ماده ملی شورا ټاکل د ولس په نیغ په نیغ رایو او د وزیرانو او ستری محکمی، لوی څارنوال د غیر مستقیم رایو ۶۴ یو لسم او دولسم بند په حکم د ملی شورا د رایو د لاري دولت خپل مکلفیت د قانون د تنفیذ د لاري چی د تنفیذ وسیله ئي پولیس، څارنوال او محکمه ده.
۵۵ ماده د هیواد دفاع د ټول اتباعو وجیبه ده.
۱۲۹ ماده د محکمي د پریکړي واجب التفغیذ بلل د دولت یی په تطبیق باندي مکلفیت دي.
۵۹ د ولسمشر او ۱۰۲ د ملی شورا غړي او ۱۲۷ ماده د ستري محکمی د عدلی تعقیب لارښونه پکی راغلي . پدی مانا چی د مجازات نه هیڅ څوک معافیت نلري.
د دیموکراسی د بنسټ د ټینګیدو د پاره د څو خپلواک کمیسونو د ۱۵۶ د انتخاباتو کمیسون.
۵۸ ماده د حقوقو بشر کمیسون او په ۱۵۷ ماده د اساسی قانون د څار کمیسون د داډ وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبان چې دوهم ځل مسلط شول دا دري سره کميسونه ئي لغو کړل او وزارت روابط پارلماني ئي هم نور پکار نه ؤ.

۴ ماده کي افغان تشخيص شويدي.

د ۶۲ مادي دريم بند په حکم يوازي دو ځلي او د ستري محکمي غړي د ۱۱۷ په حکم د يو ځلی د پاره صراحت لري.

۱۴۳ ماده کي د څارنوالی خپلواکي او دنده راغلي.

د خپلواکي د ورځی او د غوائي اتمه ته خاص څرګندونه راغلی ؤ.

۲۲ ماده د تبعيض ضد ماده د نارينه او ښځو برابري .

۲۴ ماده کرامت انساني.

۲۹ ماده تعذيب و شکنجه ممانيعت.

۳۴ ماده د بيان آزادي.

۳۵ ماده د احزابو تعدد.

۵۰ ماده د دولتی ادارو د اجراآتو د خبريدو حق.

د ۶۲ مادي لومړي بند کی ولسمشر مسلمان او افغان مور او پلار نه زيږيدلی وی . چی د ۱۳۴۳، ۱۳۵۵، ۱۳۶۹ قانونو کی قانون ګذار د احتياط د مخي د ولسمشر ميرمن هم همدا شرايط راوړي ؤ. البته پاچا يا نو هم، د دي دود رعايت کاوه . د بهرنيانو په مقابل کی تل د احتياط نه کار اخيستل شوی .

قانون ګذار د احتياط د مخي ۶۱ ماده د ولسمشر د ټاکنو نيټه او د ولسی جرګی د ټاکنو ورځ هم په صراحت تغير ناپذيره ټاکلی ده چی عبارت د پنځم کال د چنګاښ لومړي نيټه د ولسی جرګی د ټاکنو ورځ ده.

۳ ماده هيڅ ماده د ديني مقدساتو خلاف راتلای نسي

پدي قانون کي د ديموکراسي اصول په عادلانه ډول په پام کي نيول شويدي. د بيان آزادي، ازاد ټاکني په کي راغلي دي او د ولسمشر واک را محدود کړيدي.

د ۶۴ مادي په حمکم د جګړي اعلان او سوله، اضطراري حالت اعلان د وزيرانو ټاکنه شورا چی د ملت د ارادي مظهر دي پکی تائيد ضرور بلل شويدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مجازات د معافيت نه مخنوي په خاطر ۶۹ ماده د ولسمشر، د وکيلانو د پاره ۱۰۲ ماده د ستر محکمي د شورا عالي د غړو د پاره ۱۲۶ او وزيرانو د پاره ۷۸ ماده پيشبيني شويده .

د ولسمشر د مخالفت سره، ولسي جرګه قانون پاسولاي او خپرولي شي.

## په اداره کي چالشونه

مجاهد د هيواد د مور د ناموس دفاع د قربانيو په منلو سره دفاع وکړه او حق ئی ادا کړ. اوس ځان مستحق بولي چي هيواد د دوی حق ورکړي، مجاهد حاضر نه وو د جهاد نه په لاس راوړي واک او امتياز په اساني د لاسه ورکړي.

د نوي نظام لومړي ولسمشر حامد کرزي هڅه ؤ د جهاد نه اوس قانوني او مدني ژوند ته راوبولي، د جهاد او ټوپک نه و قلم ته را واړوي او قانوني چوکات ته برابر کړ. ځوک وزير، ځوک والي، وکيل او سناتور کړل.

دوي حاضر نه وو چي واک د لاسه ورکړي پدي ډول د قدرت د جزيري تر ډيره پاته شوي البته جدي برخورد پر جهاد، د سترګو په پوټيدو په مانا واي مثال ئي مارشال فهيم، تورن اسماعيل خان، استاد عطا، حاجي قدير او رهبران دي.

همدا وو چي اساسي قانون د ټولو ښيګڼو سره د قانون ګذارانو، شورای ملی لخوا رعايت نه شو، پارلماني مصؤنيت په پارلمانی معافيت بدل شو.

مصؤنيت پارلماني غلط تعبير کړ، پارلمان د چورلمان نوم يوړل.

د اساس قانون د ۱۰۱ ــ ۱۰۲ نه ناوړه ګټه پورته شوه، د ملت استازو د شخصي غوښتنو په بنا ځان ته لوړ لوړ قراردادونه غوښتل په مقرري کي هم برخه غوښتل.

د وزيرانو د رايو اخيستل د عايداتو وخت ؤ. د وزير قانوني عذر به په نا غيري تعبيريدي. ژر به استجواب او استحضا ته ورغوښتل کيدو.

۲ - مطبوعاتي آزادي، ملی وحدت او تاريخي ارزښتونه د پامه واچول شول. د واقعيتونونه بيلاري شول. د شخصي حريم سرحد نه پيژندل کيده، شخصيتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبوتاژيدل، د بيان آزادي او مطبوعاتو خپل ارزښت يی هلته د لاسه ورکړ چی ريښتيا او دروغ سره ګډ وه.

د ناوړي ګټي د پاره فيسبوکونه راووتل، فيسبوک چلونکي پيدا شول، مظاهري او لاريون ايله جاري بی روز ګاره لنډغران به ســره راټول شــول. د مظاهرو قانون نه مرعات کيدو، د قانون خلاف اعمالو او خرابي مســول به يی معلوم نه ؤ.

مظاهري ټولي د پوليس په بي خبره خپل سر کوڅو ته را ووتل، لاريون حق دي چی بايد په دفتر کی ثبت ئي، د لاريون استقامت بايد پوليس ورکړي چی د نورو مانع نشي. دوي به چور کاوه او خرابي، د وړي ۹ او عاشورا همدا ډول وو.

۳ – د مدني ټولني فعالان هم به هغه مفهوم چی غوښــتنه وو. د اخلاقو رعايت ونکړ د مدني فعال تر نامه لاندي په هر څه ملی ضد خبري کولي .

دا څلور واړه چی د ديموکراســـی او عدالت بنســټ جوړ وی تري ناوړه ګټه واخيستل شو.

پدی ډول د کرزي دوهم دوره هم ختم شـــوه تاکنی پر خپل وخت په کال ۱۹۱۴ کي داکتر محمد اشرف غنی احمدزی وړونکی اعلان شو.

په تشريفاتو سره ارګ ته ننوت، چی د هيواد په تاريخ بی ساری ؤ.

۴ - د ځينو ګوندونو اهداف ملی نه ؤ. ۳۵ ماده چی تشــکيلات او مالي منبع ئي معلوم نشول. نه چادا پوښتنه وکړه.

۵ – د ځينو ګوندونو او مطبوعاتو د ملي روحيي ســـره ســـمون نـه درلود او وابستګي ئي چندان پټه نه ؤ. د حکومت ځيني په حکومت او هم به د اپوزيسيون موقف درلود.

زغم ضروري ؤ، که نه ضرر به ئي تر دي هم ډير واي. د کرزي دوهم ځلي د امريکا د مخالفتو سره چي څو تنه ئي و کانديدته ولمسول چي پدي ډول د کرزي رايه راکمي کړي، بياهم ده او داکتر عبدالله دو دواړو لوړي رايي راوړي، چی داکتر عبدالله د دوهم ځلي ټاکنو نه لاس پرسر پدي ډول که کرزي بيا ولسمشر شو. او خپله دوهمه دوره بشپړ کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داکتر محمد اشرف غنی احمدزی
## حساب غواړم حساب ورکوم

داکتر غنی احمدزی د مالیی پخواني وزیر د ۲۰۱۴ ټاکني، د کمیسون د مرسیتال د ضیا الحق امر خیل لاسوهنه له کبله د (کوسفندي ټاکنو) نوم واخیست. د دوو مخ کښ کاندیدانو تر منځ قناعت حاصـــل نه شـــوو، تر څو د امریکي د بهرنیو چارو وزیر جان کیري په وســـاطت ګډ حکومت د (وحدت ملی) په نامه منځ ته راغي او دولتي څانګو کي به د دواړه عکســـونه ځوړند شـــول، واک مســـاوي وويشل شو.
خو غني سرکومندان اعلی هم ؤ، چی داکتر عبدالله عبدالله نه ؤ.

هر یو مرستیالان، باډیګاردان او مصارف درلود. د همکاری پرځاي نانداري او د یو بل په تخریب کارکیدو . حکومت (دوه سره) په نامه یادیدي.
پـه دوهم ځل ټـاکنو ۲۰۱۹ کي عیني لانجـه ؤ. پـه عین ورځ یو تحلیف د ســـید یوسف حلیم قاضی القضات لخوا او پر داکتر عبدالله پخواني وکیل شهزاده شاهد اجرا کړه دواړو دکترانو د قانون په رعایت د خدای کلام وډباو.

خو بیا جوړ جاړي راغي د تحلیف نه په سبا د امریکي BSA امنیتي تړون چی حـامد کرزي تری ډډه کول د دواړو داکترانو په وړاندي د شـــورای امنیت ملی مشر محمد حنیف اتمر او د امریکا د وخت د سفیر سره لاس لیک کړ.
د غنی په لومړي ځلی کی د حقوق بشـــر ناقض جنرال دوســـتم د مرســـتیال او سـرور دانش دوهم مرستیال، په دوهم ځلي کي دوستم په امرالله صـالح عوض شو. دانش پر خپل ځاي پاته شو.

دوهم ځلي ټاکنو کي داکتر عبدالله د ســولي د شــورا د مشــرتابه په نامه د هغه پخواني امتیاز او تشکیلاتو سره قناعت وکړه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـولي کمیته نړي کی ۳ یا ۵ تنه وي د افغان پوره یوه رسـاله او پراخه تشـکیل سره هغه سوله چی سر کومندان اعلی پری عقیده نه درلوده، لکه کارمل چی نه غوښــتل انقلاب د ســولي قرباني کړ، همدا ډول ســرکومندان اعلی پدي پلمه نه غوښت چی جمهوریت د سولي قرباني شي.
د سولي خبرو سرکومندان اعلی حساسیت درلود.
داکتر غنی هم ملا حظـاتو بـه بنـا صــــلاح الدین د بهرنیو چارو وزیر او ضــــیأ مسعود د (ښـه حکومت داري) په نامه حکومت کي راوستل . که د صلاح الدین نه د رباني نوم لیري کړي په ده کي څه نه وو. او د احمد ضیا دا هم دا ډول چی دواړو په لړ قناعت نه درلود، وروسته کي په لانجی سره واوښتل.
د پخوا نه په موږ کي چوکي ته شخص نه بلکه شخص ته چوکي پیدا کیږي.
ښــــه حکومتداري هم په همدا مانا ؤ، رباني د انګریز تابعیت هم درلود، ولســـی جرګی هم د د خاطره سلب اعتماد کړ.

کله چی جنرال دوستم پر حاجی احمد ایشـچي جنسـي تیري تورن شـو، هیواد او دنده پریښوده، ترکیه کي میشته شو.
خو محاکمه نه شـو. دي چوکوي ته تر اخیره بیا څوک پیدا نشـو جنرال څو کاله په تبعید کي ژوند وکړ. کله چی جنرال دوسـتم ته بیا ضـرورت پیدا شـو د اعاده حیثیت په خاطر مارشـالي په رتبه وویاړل شو. او د یو لوي جشن په ترڅ کي دا رتبه د داکتر عبدالله لخوا د دوسـتم پر ټټر وټمبول شـوه. حاجی ایشـچی د جنرال صــاحب لومړي کس نه ؤ. د نورو ســره ئي هم دا عمل اجرا کړي چی چا د حیا له مخي شکایت و نه کوي.

د ولسمشري دوهم ځلي ټاکني د ۶۱ مادي او د ولسی جرګي ټاکني ۸۳ خلاف و ځنډیده.
د ټاکنو د کمیسون هیأت محمد یوسف نورستاني، عبدالستار سادات، سیر برمک او نور غړي برطرف شول. دا بل ځأی د تاکنو کمیسون ګل جان صیاد، اریائي، ملیحه حسن او نور غړي په فساد ککړ او محاکمه او په بند محکوم شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سـرکومندان اعلي د دوهم ځلي حريف کانديدان سـره جوړ جاړي وکړ (ديوانه در کـار خود هوشـــيـار) محمد حنيف اتمر د بهرنيو چارو وزارت، داکتر زلمي رسول د لندن په سفارت، شيدا محمد ابدالی د توکيو په سفارت، نورالحق علومي او محمد ابراهيم الکوزي د مشاور وزارت مقام قناعت وکړ.

فرامرز تمنا پر ځاي د ده ميرمن ارزو نورســـتانی په اداره امور کي د فضــــلي سره مقرر شوه.

د داکتر غني د کمپاين شعار ؤ چی (سـهامی شـرکت) نه جوړ وي، اړ شو کابينه پنجوس پنجوس سـلنه ؤ. د داکتر عبدالله د ســهم وزيران د داکتر غنی د اطاعت مکلفيت نه درلود .

وزيران په اوني کی دري ورځی کار کاوه، پنجشـــنبه، جمعه رخصـــتی وه، او اوني کی يوه ورځ کابينه او بل ورځ د مجلس وزرا په نامه د وقت ضياع ؤ. خو بيا هم داکتر غنی غوښـتل چی ولسـمشـر وي . په اداره کی د بی بی گل نقش هم نه بايد د پامه واچول شي.

د داکتر غني پله پدي خاطر درنده ؤ، چي سـرکومندان ؤ او PPS هم درلود که د داکتر عبدالله د سهم وزير بي اطاعتي کول PPS به سم کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غنی اداره

داکتر غنی په خپله اداري پاليسي په لومړيو کي اعلان دا وو چی حکومت به جوان سازي کړي خو عمر داود زي دا جوان سازي نه بلکه کودک سازي بولي.

سرکومندان اعلی وتوانيدي چی استاد اعطا محمد نور د چا په خبره د بلخ امپراتور او تادين د کومندان رازق ورور چی کندهار قومنداني ميراث ګرځيدلي ؤ په يوه معامله کي ليري کړ.

صلاح الدين رباني، ضيأ مسعود څه موده زړه ساتلی وو څه موده وروسته خو دواړه ليري کړل.

د امنيت ملی پخوانی مشر رحمت الله نبيل دولت د چار کلاه (متفکر دوم و بی بی ګله او محب او فضلی) په لاس کي بولي. د هيواد په ټولو قوانينو کي د پاچا او ولسمشر ميرمن افغاني حکم راغلي يوازي د ۱۳۸۲ کي د شرط ندي راغلي اخلاقاً دا د ملت مور ده، بايد افغاني وي.
د کورنيو چارو وزير مسعود اندرابي د خپل مرستيالی حسنا جليلي د فساد نه سرټکوي (youtube dariMidia)۱۰,۱۱,۲۰۲۱ او خالد پاينده د ماليی وزير د ننګرهار وايی ضياالحق امرخيل نه شکايت لري، چی د ده د ګمرک د مشر نه د مياشتي ۴۰ زره دالره غواړي. (youtube)۲۹,۹,۲۰۲۱ باز خواست نه ؤ. مډيا هم خپل اثر د لاسه ورکړ.
د ده نژدي نفر و هم اعتراض درلود، د ولسمشر د دفتر مشر متين بيګ د اګست پر ۱۵ کال ۲۰۲۱ د غنی احمدزی د عمل کرد د ده د تيښته سبب بولي.
ولسمشر به خپل تصميم ژر بدلاوه . لکه د پنځو شپږو کالو په موده کي، څو د دفاع او کورنيو چارو وزيران رد او بدل کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړي د دفاع وزير معصـوم سـتانکزی، بيا عبدالله حبيبي، وروسـي بهرام، بيا اسدالله خالد، وروسته داکتر ضيأ او په اخير بسم الله محمدي ؤ.
داکتر غني د کورنيو چارو وزير علی احمد جلالي اعتراض دا ؤ چی اســدالله خالد ئي څنګه د کندهار والي کړ.
کله چی ده ته نوبت ورسـيد هغه ئی د دفاع وزير کړ. داسـی معلوميږي چی نه هغه وخت اختيار درلود نه دا اوس .

عبدالجبار ثابت هم کال ۲۰۲۱ د کاکتوس سره په مرکه کی وويل:
امريکايانو زه غوښتلم او د ولسمشر کرزي کانديد محمد اسحق الکو ؤ، اخر زه لوي څارنوال شولم.

پـه کورنيو چـارو کي هم همـدا ډول نورالحق علومی، تـاج محمـد جـاهـد، ويس برمـک، مســعود اندرابی، حيات الله حيات، او بيا ميرزکوال د ماليی وزير هم اکليل حکيمی، همايون قيومي، عبدالهادی ارغنديوال، وروسـي خالد پاينده، اداره امور هم دا ډول ســلام رحيمی، وحيدالله قتابی، داود نورزي په وروســته کی مناسب سړي وموندي چی فضل محمود فضلي دي.
د اساسی قانون ۵۰ مادی په حکم ولس د حکومت د چارو خبر حق لري.
اکليل حکيمي او همايون قيومي، اکرم خپلواک، ضيا مسعود، معصوم ستانکزي او نور اما د برطرفی دليل څرګند نشو. البته بيرون به ډول ډول تبصري کيدي.

رياسـت مبارزه با فسـاد ئي لغوه کړه، د بهرنيانو د اعتراض سـره مخ شـوه، بله اداره په عين هدف يوازي نوم ئي ور ورواړه وه. بازرس ئي وبلل، دائي هم دوه دوه نيم کاله وروسته مبارزه با فساد ونومول.
سـيګار (امريکائي د تفتيش او بازرس اداره) باور پدی ؤ چی اوبه د سـره خړي دي. دوهم متفکر د مديا او د ملی شورا شکاياتو پروا نکوله.
چی نوره نړي کی د حکومت مشــر تر ټولو کار وړاندي ورځپاني مرور کړي، بيا د استخباراتو څانګو راپور لولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



متفکر ډير وخت به وړو موضوعاتو تيريدي. د زندانو رياست ئي جوړ کړي، دا پخوا د عدليی وزارت يو رياست ؤ وروسته د ښه امکاناتو په درلود سره کورنيو چارو وزارت پوري وتړي . متفکر دا مستقل رياست کړ. راشد طوطاخيل د ده د زندان مشر په فساد تورن شو او ممنوع الخروج ؤ ولي وکولاي شواي ترکيه ته وتښتي.
متفکر به پري هم پوه نه وي. چی (انترپول) هم شــته، چی را وی غواړي ملک ســتيز په شــبکه اطلاع رســاني افغانســتان په يو ياد داشــت کي داکتر غنی فاقد اوصاف رهبريت بللي دي.

دوهم متفکر دا فکر نه کاوه چی وخت نور تير دي، په ارگ کي د فوتبال د تيم ځوانانو سره په منډه کي پښه ماته کړه معصوم ستانکزی اوحنيف اتمر د لکړي سره عجبه صحنه جوړول.
د جنازي لمانځه کي ســـجدي ته تلي چيغی ئي عادت وی، په ولســـی جرگه کی چيغي وهل، او حضـــرت امام حســـين د خدای لمســـی بولي . پر پغمانيانو ټوکي وهلي، چی اســتاد ســياف په خپل تويتر کی وليکل: (يا خدايه د ليوني او جاهل د شر می وساتي).
د هند لومړی وزير مودي د پارلمان د ماڼي افتتاح مراسمو کي هم وويل په لوړو چيغو څه نکيږي، لوړ فکر په کار دي. د تحليف نه وروسته، ژر پاکستان ته لاړ او (د جاويد قمر باجوه) د دفتر ته هم سر وواهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولسمشر او ملی شورا اړيکي

د ارگ او ملي شـورا ترمنځ اړيکی په زړه پوري نه ؤ. د کلني بودجه، د قوانينو مسوده، د وزيرانو تائيد، هر ملحوظ چی ؤ اکثراً به ولسي جرگه ردکړل.
لکه د اجتماعتو او لاريون قانون. د افسرانو ذاتي قانون، ملی دسترخوان د مبائيل د کريدت کارت د ماليی زياتول ولسـی جرگی رد کړ خو په تقنيني فرمان به نافذ شو.
د ولســمشــر دا عمل د ۴۲،۷۵، ۹۰ مادي خلاف او د ملي شــورا په مقابل کي بغاوت ؤ.
ســناتور داکتر امينزی د عبدالهادی مســلميار په مقابل کی کانديد د ولســمشــر د ناخوشــی ســبب شـو. د ۱۰۱ مادي خلاف د پارلماني مصـؤنيت سـره د مشـرانو جرگی غړيتوب نه حذف کړ، که به چا مخالفت کاوه PPS تيار وو.
د قانون رعايت اخلاق دي او ماتول ئي جرم.
په ډيرو مواردو کي دوهم متفکر د قانون په مقابل د ۷۹ مادي نه په گټه د تقنيني فرمانونه گټه پورته کول پداسـي حال کي چی دا ماده يو خاص هدف او شـرايط لري.
د ولســی جرگی په ټاکنو کي د فضــلي او داود نورزی چی وزير اکبر خان کي دفتر خلاص کړي ؤ لاس وهنه څرگنده ؤ.
پيســـي ئي وبښـــندلي، کمپاين ئي وکړ چی خپل اعتماديان راولي او مخالفين ئي حذف کړلي. مريم سما په ۵۰ رايو پارلمان ته لار ومونده.

د لويـه جرگی د خيمي نـه د لوي جرگی پـه جريـان کي د فراه اســـتـازي بلقيس روشــــن تـه د ســـوال موقع ورنـگړه، د خيمي څخـه يی پـه بي عزتي د PPS سربازانو په واسطه زده زده وايستل.
د نړي د قوانينو د اردو، پوليسو افسـرانو د پاره د خدمت معياد ۶۵ په قانون کي ټاکل شويدي. په قانون کي تعديل ولسی جرگی رد کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر ولسمشر سرکومندان اعلی خپل غوښتنه د قانون خلاف عملي کړه.
آقای نذير احمد حنفي د هرات استازي د تقنيني د کميسون مشر به په لوړ اواز چيغه کړ(برادران ! قانون کي فرمان شد وزيران سرپرست، پس پارلمان چی معنی ) دا به ويل کيدل چی د اساسی قانون د ۲۱ مادي نه په غير نور يوه هم پاته نده.

د کابل استازي غلام حسين ناصري به ويل چی ولسمشر غنی يو امپراطور په شان عمل کوي.
د دي پاره چی استازي تر فشار لاندي راولي، هر وکيل چی بهرته سفر کوي لکه مامور د اداره امور فضلي نه موافقه بايد واخلي. سر کومندان اعلی په خپل تصميم کي جدي ؤ. کله چی داکتر نجيب مجددي د کمپاين په وخت کي د سر کومندان حريف اتمر د ليدو د پاره راغي ؤ. هغه د (حل منازعات) نه ليري کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو كيلي اي وزيران

(كه رايي يوسي او كه نه، كارته مو دوام وركړي) بي بي ګل
عام خلک هغه وزيران چې د ولسي جرګي د باور رايه ئي د ۶۴ مادي مطابق به نوي ترلاسه كړي يو كيلي وزيران بلل. اوه وزيران د ليندي په دوهمه ۱۳۹۵ كي ولسي جرګى رد كړل. د ماليه وزيرخالد پاينده، د عامي روغتيا وزير مجروح، صلاح الدين رباني د بهرنيو چارو وزير، فوايد عامي وزير، د پوهنى وزيره رنګينه حميدي، د ترانسپورت وزير، د لوړو زدكړو وزير، د اطلاعات او كلتور وزير محمد ظاهر زهير او د بانک مشر احمدى رد شول، دوى بيا هم خپل كار ته دوام وركړ.

بى بى ګلي په ډاګه وويل: ((اګر راي ببرد و يا نه، كار خود را ادامه بدهيد)) بى بى ګل چى په (بانو اول) هم ياديدل، يوازي تشريفاتي نقش نه بلكه په تصميم كي نقش درلود.
نوره نړي كي هم د پاچا يا ولسمشر ميرمن يوازي تشريفاتي رول لري. زموږ بانو دفتر درلود، سلا كاران او بودجه، دا څرګند نه وه چى ويزه ئي شته كه ختم شويده.
داكتر غنى وكولاى شواي د جوان سازي په نامه د اردو يولوي شمير جهادى كومندانانو، تقاعد ته و ودروي او په عين زمان كي د قدرت جزيري چى د جهاد د بركته د مال او منال خاوندان شوي، او ثروت او قدرت دواړه درلودل لكه د استاد برهان الدين رباني زوي صلاح الدين، استاد عطا نور، تاج محمد جاهد، حاجى محمد محقق، سيما ثمر، جمعه خان همدرد، امان الله ګذر، د احمد شاه مسعود وړونه ولي مسعود، ضيا مسعود، اديب فهيم د مارشال فهيم زوي، جنرال محمد اسمعيل خان، محمد يونس قانوني، جنرال بسم الله محمدي، محمد ظاهر قدير، حاجى دين محمد، ملا شير محمد هلمند، د رازق كومندان ورور تادين دواک نه وځندي ته كړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکتر عبدالله که څه هم د واک شریک ؤ، په یو محدوده که ئي وساتي، او واک د فضلي او محب په څنګ کي سلام رحیمی او کورني ئي، نادر نادري، هارون چغانسوري، قیوم رحیمي مخ ته وړي.

## غنی او قضا

قضا هم لکه ملی شورا خپلواکي تر پوښتني لاندي ؤ، قاضي القضات یوسف حلیم له دي کبله چی سر کومندان اعلی مقرر کړي ؤ، لکه یو عادي مامور په شان ورسره چلند کیدو. ۱۱۶ مادي ته نور پام نه ؤ.
ښاغلي حلیم چی د ۱۱۸ مادي ۳ بند خلاف قضائي تجربه نه وه، ګرچه وروسته کي په یو خصوصي پوهنتون کي کښیناست ماستري واخیستل چه په دردیي ونه خوړل. ده هم د طالب د راتګ سره فرار لار ونیول. که څه هم پخوا د طالب د مالیی د وزیر دفتر آمر او د وزیر تقسیم اوقات مسول ؤ، دا اړیکي هم په درد ونه خوړل.
د قضا د مقام سره سم په رسمی غونډو کي مناسب ځای معلوم نه ؤ.
د سر کومندان اعلی په بیانیو کي داسی د دواړه لاسونه پړه کول، چی اخلاص به د لیري تر څرګندیږي.
شوراي عالي د نصاب د کمبود سره مخ ؤ. د لومړنیو نه تراوسه دري غړي کمبود وو کله کله د عالی شورا غونډي نصاب کمبود وو.

کله چی ولسی جرګی به اکثریت سره څو تنه چارواکي د تعقیب عدلی د پاره څارنولي ته وروپیژندل، د ولسمشر د جدي مخالفت سره د څار خپلواک کمیسون د ولسی جرګی تصمیم تائید کړ، او د ولسی جرګی پریکړه ئي د اجراآتو جزائي قانون د ۵۶ - ۵۲ مادو مطابق وباله . دائي هم زیاته کړي ؤ، چی مامورین لاځه د ۶۹ مادی په حکم ان ولسمشر هم محاکمه کولاي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستري محكمی د قاض القضات سيد يوسف حليم تر مشري لاندي د څار د كميسون خلاف سياسي تصميم ونيوي. د قضا د دندي خلاف په اداري امورو كي هم تري كار واخيست.
يو ځلي چې به سركومندان اعلى لاس تنګ شو، د شوراي ملي د موافقي خلاف او بي قانونه د دولت بوديجي ته لاس واچاوه.
يو ځلی همدا ډول محمد سرور دانش دوهم مرستيال، سيد يوسف حليم او فريد حميدي لوي څارنوال پر چک لاس ليک وکړ، او اجرا شو چې د دوي صلاحيت نه ؤ، البته دلته د (د خان نوكري) ده.

## پټ تړون

دا چشم پټكان دي، د دي د پاره چې سركومندان په واک پاته شي هر كارته تن وركوي. د ISI سره د امنيتي قرارداد په نامه د ملی ګټو خلاف يو تړون پټ لاس ليک كړ.
د اساسی قانون ۹۵ ماده په حكم چې هر قرارداد د پاره د ولسي جرګي (تائيد) يا (رد) پكار دي.
دا ونه شوه ترڅو پخواني ولسمشر حامد كرزي په خبر شو. دا قرارداد يی ملی خيانت وباله، او افشايی كړ.
(د اطلاعات ورځپانه ۱۶،۳،۱۳۹۴) (د ويسا ورځپاڼه هم په همدي نيټه)
د قرارداد د افشا كيدو ګوته د امنيت ملي دوو مرستيالانو يما كرزی او جنرال حسام الدين ته ونيول شوه چې دواړه په هغه ورځ برطرفه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بمونو مور
## (اگر قاچاق را بند نکردم بچه خر باشم)

داکتر غنی ولسمشر د ۶۳ مادي په حکم د ملي حاکمیت د ساتني د پاره د پاک خداي په نامه لوړه کړیده. په ۲۷,۹,۱۳۹۸ د شینوارو د ولسوالي (اچین ) باندي د (بمب مور)، بم واچول شو چی پر افغاني حریم تیري دي.
ناروغي تري پیدا شوي سرکومندان عکس العمل ښکاره نکړ. کومندان کله ویل چی خبر یم او کله به ئي ویل چی خبر نه یم. (ویسا ورځپاڼه ۲۷,۹,۱۳۹۸) .

د امنیت ملي په چوکات کي یو پټه قطعه ده، کوروته د شپي ننوزي بیله مقاومت په بستـــرکي د کورني د غړو په وړاندي بیله تحقیق، چی ثبوت او بی محاکمي وژني کوي. یو څرگند بشـــري خیانت دي د (۲۷، ۲۴ او ۲۵ مادي خلاف عمل مثال د حامد کرزي د هوائي میدان یو افسر، نصیر عبدالرحمن د میوند او سبا د مطبعي مالک هم په همدي ډول په کال ۲۰۲۱ کي ووژل شول. داسی یوه پیښـه پـه میدان وردگو کي هم منځ تـه راغلل. د ولایت اهالیو مړي ولایت ته راوړل د کابل او کندهار لاري وتړل، مگر بازخواست و نه شو.

د وږی پر ۱۳ کـال ۱۳۹۸ پـه جلال آبـاد ښـــار د څلورمي حوزي څلور وړنـه قاضـــی قادر، بهادر زاخیلوال، جهان زیب او صـــبور په خپل کور په کوټوکي ووژل شول، دي ځوانانو مقاومت ندي کړي.
د ولسي جرگی شکایت ته چا غوږ و نه نیوي، دا معلومه نه شوه چی د کوم جرم مقابل کي او د چا په امر ووژل شول.

دا وژني لکه خلق انقلابي محکمه او د طالب صـــحرائي محکمه، د امنیت ملی مشر معصوم ستانکزي په مقابل کي د دندي نه استعفی وکړه، دا بسنده نده باید تحقیق وشي، که جرم ثابت وي باید افشا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولســـمشـــر په ظاهره په خبروکي جدي ؤ، لوړ آوازونه به يې وکړو لکه (اګر قاچاق مرمر را به ايران بند نکردم بچه خر باشم ) خو بند نشو.
(شبکه اطلاع رساني ابومسلم شيرزاد ۱۷,۱۱,۱۴۰۰ )

## داکتر غنی او ډيورند

د هيواد د خپلواکي، ملی حاکميت او د خاوري بشــپړتيا تراوســـه په وينو ســـاتل شويده. همدا ده چی د ۱۹۸۳ راپدي خوا تاريخ شاهد دي.
د ډيورند کربښـــی د لر او بر پښـــتنو و نه منل امير عبدالرحمن خان هم به هغه وخت کي تری منکر ؤ تګ او راتګ آزادانه ؤ تراوســه يو پاچا يو ولســمشــر او يو نظام په رسميت ونه پيژندي.
د ســرکومندان اعلی په واکمني کي پنجاب ته زمينه برابره شــوه اغزن ســيم تير کړ. په تورخم کي د دروازي د افتتاح په رسمي مراسموکي د سر کومندان اعلی به استازيتوب د ننګرهار والي شاه محمود مياخيل ګډون درلود.
(ويسا ورځپاڼه ۱۵,۹,۱۳۹۸) څرګند ډول د اساسي قانون د ۶۳ مادي سره ټکر دي . په ځينو محلو کي به ولسی ډول خلکو مقاومت وکړ. سرکومندان عالی چپ پاته شو. داکتر غني د ولس دا ذهنيت د پامه واچاوه چی ځينو سيمو کي ويش څو کيلو متره زموږ خواته راتير شــو. دا خبره هم خپره شــوه چی پاکســتان د خپل زروي ازموينو فضله مواد د سپين بلدک په سيمه کي را اړوي او پټ کړيدي.

د خيبر لار د تلو راتلو ده، په کابل او پيښور کي پښتون يو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غني سياسي تګ لاره

په ځواني کی چی محمد اشرف د پرچم ګوند ته تمايلات درلوده. د پرچم ورځپانه په لاس، بازار کي خرځول.

د نجيب په واکمني کي څو ځلي د امريکا نه د هند د لاري ليدوته ورغي. دي اړيکوته تراوسه وفاداره پاته دي.

حمدالله محب هدايت واخيست د ملي احساساتو خلاف د پخواني اخلاص او ارادي پر بنا په پکتيا کي د نجيب د قبر زيارت وکړ.

پروګرام ؤ چی د لوي جرګی په خيمه کي د تلی پر شيړمه د نجيب د اعدام د ياد ورځ ونيسي، چی د دولتی اجراآتو په مانا ده. د نجيب په لاس به د هغه وژل شوو شهيدانو سره لويه جفا واي چی د مجاهدينو مشرانو ګلبدين حکمتيار، او استاد سياف يي مخ ونيول.

سرکومندان اعل د خپلی وفاداري په بنا پخواني رفيقان خليل زمر د پرچم د مرکزي کميتي غړي په اداره امور کي او جنرال افضل لودين پوځی سلا کار وټاکل . او نور د ولسمشر په دوران کی د جنرال عظيمي او سليمان لايق د يرغل د ملګرو جنازي درنښت وشو.

د تره کي د اکسا مشر اسدالله سروري، د زرو انسانانو وژونکی هم عفوه کړي. د زندانه راخوشي کړ.

د خلکو ډيری خبری په يادکي پاته کيږي. کله چی په کابل کي د انګريز لښکرو ځپل شول او کيوناري په بالا حصارکی ووژل شو. پاتي انګريزي عسکر د وتلو د پاره توبه وکړه. تراوسه ياد دي چی داکتر برائيدن د کومي لاري همدا ډول د لوګر يواعزازي جنرال د امان الله خان په ضد د انګريز وسره پټي اړيکي هم د چانه پټي نه دي . او د امان الله خان هم د خپل مستوفي الممالک اړيکي د انګريزانو سره اسناد لاس ته راغلي وو.

متفکر به ويل چی د امان الله پاته پروژي به تکميل کړي خو څه ئي ونکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مالي فساد

فساد په هر ځای کی شته خو باز خواست هم شته او په هر وخت کی لږ او ډیر ؤ. خو د متفکر په دوران کي اوج ته رسیدلي ؤ. چی دلته دولت پکی لاس درلود . لکه د کابینې (۳) لمبر نیټه ۱,۸,۱۳۹۸ تصویب دولسمشر تائید چی د مالیی وزارت او اړوند اداري، او واحدونه، څارنوالي، د بازرس او بررســـي اداري، ملي امنیت ریاست، ۶۲ ریاست، د کورنیو چارو وزارت، د استخباراتو ریاست او نوري کشفي او امنیتي اداري، د تفتیش او ارزیابي صلاحیت نلري.
د پروفیسـور د مالي وزیر همایون قیومي په لاسـلیک تکثیر شـو. سـوال دا دي یعنی ولي ؟؟ (۸ صبح ورځپانه ۲۵,۹,۱۳۹۸)

دا مشوره په صراحت د اساسی قانون د ۱۴۳ مادي سره په ټکرکی ده. قیومي په یوه موسسه کي د متفکر شریک دي چی دوه ځایه معاش لري.
سـیګار او مک اداري او د امریکا سـفیر جان بس او د برطانیه سـفیر الیسـون بلبک د فساد نه سر تکاوه. موضوع د امریکا سنا ته رسیده. قیومي څارنوالي ته معرفی شو. ژر امریکا ته وتښتیدي سرکومندان اعلی ئي مخه و نه نیول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لبناني شرکت خطيب عالمي

د ۱۶۰ ميلونو دالرو قرارداد، د امريکائي ورځپانو په حواله د شـــبکه اطلاعات رساني تاريخ ۶,۷,۱۴۰۰ خپور شوي.
که واقعيت نلري، حکومت بايد رد کړيوي.
د پخوا نه په هره ټولنه کي فساد شته زموږ هيواد هم مستثني ندي. په شاهي او داود خان په دوران کي هم، قلمانه، شـــکرانه دود وه پدي کچه نه، د خلقيانو او طالبانو په دوران کي کمه وه.
د مجاهدينو په وخت کي ځرنګه چې پيسي نه وي، غصب په شدت دوام درلود. کله چې د کرزي او اشـرف غنی په دوران کي نړيوال مرسـتي راچالان شـوي. چاروکو لاس ورواچاوه او دريا نوشـــه ډول حملي جوړي شـــوي چی څه پټي ندي.

همـدا د کـابينـي ۳ لمبر تصـــويـب هير شـــو متفکر اوس اعتراف کوي چی د ګمراکاتو په سلو کي پنځوس عوايد حيف او ميل کيږي (۸ صبح ۲۵,۹,۱۳۹۸) د فرموت د (۲۸۰) ميلونو دالره بانو اول حســاب ســيګار تشــويش لري وايي: (روند مصـرف اين پول ها شفاف نبوده) دائي هم په ډير افسوس زياته کړه، چی دا پيسي د امريکا د ماليه دهندګانو وي.
((حساب غواړم، حساب ورکوم)) نور هير شو. (نيم رخ ورځپانه ۲,۱۲. ۱۳۹۹
د کورونا د مخنيوي او درملني مرستي سم مديريت نشوي، خلک پر مرګ پراته وو.
مامورينو د کورونا د پيسونه ووهل:
لکه يو شاعر داسي وايی:
راغله کورنا پر وطن، بل شو هرخوا اور.
ډير پکي خانان شول، ځوک لاړل هديرو په لور.
تحقيق او بررسي ونشول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رويا رحماني د واشنګټن سفيره اختلاس رسانه ايي شو، د بهرنيو چارو وزارت تفتيش تائيد کړه چايي غم ونه خوړل اخير يي پناهندګی ورکړه.

د ماليی بل وزير اکليل حکيمی د (۱۹۹۶۰۰) دالره منظوري (۲۰۷۸) حکم نيټه ۲۳,۶,۱۳۹۶، د افغاني کلتور او فرهنګ د ترويج د پاره تر لاســـه کړه. حکم قاطع ؤ چی نه اسناد پکار وي نه صورت حساب.

سـوال دا دي، چی کوم فرهنګ پر توشـک کښـيناسـتل، لونګی تړل، چرمه دار واسـکټ اغوسـتل، په ګوتو او چنګالو ډوډي خوړل او نصـوار اچول دغه اصـل افغاني فرهنګ دي.

حکيمي او قيومي ژر هيواد پريښـــود . خداي په اماني ونکړه. دا څوک نه وايي چی ولي ولاړه او څنګه ولاړه.
د ۵۰ مادي په حکم ولس حق لري، چی د دولتي اداراتو د اجرااتو، خبر شـي او حقيقت واوري.
ای افغانه خداي دي په داد ورسيږي، لکه د تجارت وزير په وړانديز د ولسمشر (۲۵۲۸) لمبر حکم نيټه ۲۱ـ۸ـ۱۳۹۶ په اساس (داکتر برسالا) سلاکار د مياشتي معاش (۴۱۲۵۰) دالره حواله شوه. د کوم کار او کوم ارزش په مقابل کي ؟ آيا د نن په انترنت کي هر څه معلوميدي شي وکوري چی د دونالد ترمپ معاش څونه دي.
د ۱۲۹ مادي په حکم د محکمي حکم واجب التنفيذ دي د کابل بانک د فســاد اتل خليل فيروزی د هوشـمند شـرکت د تاسـيس په پلمه د زندانه راووت د بهرنيانو غالمغال پورته شو. شرکت لغوه وشو، اما وعده، وعده ؤ، د ولسمشر په امر پدي پلمه چی بند دوره په کورکي تير کړی. ايا د بل زنداني سـره هم دا رويه وشـوه (ارمان ملی ورځپاڼه ۳۰ـ۸ـ۱۳۹۴ ) اطلاعات روز ۳۰ـ۸ـ۱۳۹۴ رسوايی فساد عنوان ۸ صبح فعاليت بازرګاني آقای فيروزي ۱۷ـــ۸ـــ۱۳۹۴، ويسا ورځپاڼه عنوان مبتزل (ګڼه ۲۵۶۷ کال ۱۳۹۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکتر امین فرهنګ د تجارت وزیر یو نیم کاله حبس او ۷ لکه دالره جریمه د نفت ګاز رئیس ولید تمیم ۳ کاله بند یونیم میلون دالر جریمه، څنګه په تښـــتیده بریالي شو.
انترپول د څه د پاره دي. د فساد غټه چینه د ملی امنیت خاصه بودجه د اوپراتیفي پیسو مصرف وو. چی به پدي شلو کالو کي چا نه کنترول کړه او نه چا د لاس راوړني پوښتنه وکړ.

پدي پیسو د شورای امنیت ملی اداره چی د استخباراتو او اطلاعاتو سره هیڅ کار نلري بیا هم پکی لاس په خلاص ؤ . چی اوس ئي بویان راپورته شول.
د شورای امنیت د مشر محب د خیانت په هکله ښاغلی محسن رزمجو په تفصیل او څرګند ډول راپور جوړ کړي.
[/https://www.facbook.com](https://www.facbook.com/)
که د ماهی په شان خوله د اوبو ډکه نه وي پورتني مطلب رد او دفاع وکړي. د کارتونیک د IT د متخصص د امنیت او سیاست سره څه کار؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۸ ډوله غوښني

وائي: (دزد باش با انصاف باش)
د ۱۴۰۰ کال بودجه کی اداره امور ته ۱۸ ډولو غوښــو او ۳۰ میلونو دالرو کاهو، بادرنګ او رومي ترکاري منظوري غوښتي.
عدالت دي، ځيني کورني د خواري له مخي ماشـــومان خرڅوي او د ځان (ګوردي).

په ۹۵ -۹۱ کودونو د ولسمشر لاس خلاص دي د ماليي وزيرانو ته د دي غير قانوني میلونه پیسي چی د ملی شورا منظوري نه لري. د تعديل هدايت ورکوي .
دا کود نه حساب لري نه کتاب ولسي جرګی اعتراضونو ځای ونه نيوي.
په مجموع کي هر راپور، اطلاع شکايت او اعتراض بالاستثني که تيلفون وي، که تلګراف، تلويزيون وی که راديو، که شفاهي وی که تحريري، که فکس وي، که فیسبوک که کتاب او که ورځپانه، پسټ او که څرګنده، او اشاره که مستقيم وي او که غير مستقيم د اطلاع حيثيت لري.
د مربوط څانګو پولیس، امنيت ملی او څارنوالي د مســوليت او دندي پيل دي. موضــوع بررسي او تحقيق شــی، چی واقعيت او غير واقعيت تر بيل شــی او د شخصيتونو د ترور مخنوی هم وشي مګر اوبه د سره خړي وي.
د حکومت دا بي تفاوتي ان د مطبوعاتو اعتبار ته تاوان ورساوه. ستر تاوان دلته ؤ چی دولت په فساد تورن شو، نړيوال مرستي د پوښتني لاندي راغلل. خلک یوازي دا وائي : غنی خانه زوي دی ومره، پدي زوي.

هیواد په فقر، فســاد او خوا بدي کي د نړي په لومړي کتار کي پيژندل شــوي ؤ. دلته د نموني په ډول د نړي په پيژندل شوو، ادارو کي دوه لسته دي.
ځاي يی بولم چی دلته هم راوړل شـي چی د جمهوری نظام د سـقوط سـبب ئي بولي. youtube ۳,۹,۲۰۲۱ NP

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ميلياردرانو شتمني خپره شويده:

1. استاد عطا نور ۱,۲ ميليارد دالر.
2. عبدالكريم خليلى ۷۳۰ ميليون دالر.
3. حاجى محمد محقق ۷۱۵ ميليون دالر.
4. امرالله صالح ۵۹۸ ميليون دالر
5. محمود كرزي ۸۴۵ ميليون دالر.
6. قانوني محمد يونس ۲۹۰ ميليون دالر.
7. بصير سالنگى ۶۰ ميليون دالر.
8. ظاهر اغبر ۱۸ ميليون دالر.
9. قسيم فهيم ۱,۵ ميليارد دالر.
10. ايوب سالنگى ۵۵ ميليون دالر.
11. استاد ربانى ۱,۵ ميليارد دالر.
12. صبغت الله مجددي ۶۴۰ ميليون دالر.
13. سيد احمد گيلاني ۵۳۰ ميليون دالر.
14. احمد شاه مسعود ۱,۱ ميليارد دالر.
15. گل آغا شيرزي ۸۱۰ ميليون دالر.
16. داكتر عبدالله ۷۸۰ ميليون دالر.
17. استاد سياف ۷۰۰ ميليون دالر.
18. اسمعيل خان ۷۲۰ ميليون دالر.
19. جنرال رشيد دوستم ۸۱۰ ميليون دالر.
20. حاجى قدير ۸۳۰ ميليون دالر.
21. داكتر احدي ۸۷۱ ميليون دالر.
22. بسم الله محمدى ۳۰۴ ميليون دالر.
23. جنرال رحيم وردگ ۴۴۰ ميليون دالر.
24. سيد حسين انوري ۳۰۰ ميليون دالر.
25. فاروق وردگ ۳۲۰ ميليون دالر.
26. صديق چكرى ۳۵ ميليون دالر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



27. عبدالهادی مسلمیار ۱۸۰ میلیون دالر.
28. عمر داود زی ۱۴۰ میلیون دالر.
29. الله گل مجاهد ۱۵ میلیون دالر.
30. ملا تره خیل ۱۸ میلیون دالر.
31. شیخ آصف محسني ۵۰ میلیون دالر.
32. امان الله گذر ۲۶۰ میلیون دالر .
33. حسین فهیم ۵۰ میلیون دالر.
34. شیر خان فرنود ۲۰۰ میلیون دالر.
35. خیلیل فیروزي ۱۷۵ میلیون دالر.

تر ټولو ستر شتمن استاد برهان الدین رباني او ظاهر اغبر په ۱۸ میلیون تر ټولو غریب معلومیږي.
دوهم لست د میلیون نرانو لست چې په ۲۰۲۱ جون میاشت کی په (وال ستریت ژورنال) کي شماري از مقامات حکومت اشرف غني احمدزی پرده برداشته است.

1 - اکلیل حکیمی وزیر مالیه سابقه چندین خانه در امریکا خریده است و کرایه داده است.
2 - عمر زاخیلوال وزیر مالیه سابق یک بلند منزل مرکز داد وستد در تورنتو کانادا خریده است.
3 - همایون قیومي وزیر مالیه سابق در شهر لاس انجلس امریکا ویلاي ۷ میلیوني خریده است.
4 - وزیر مالیه چهارم خالد پاینده سرپرست سابق وزارت مالیه ۲ خانه لوکس ویلاي در واشنگتن خریده به ظاهر تکسی رانی میکند.
5 - اجمل احمدي رئیس سابق د افغانستان بانک یا بانک مرکزي د شهر لاس انجلس امریکا یک هوتل ۵ ستاره برای مهمانان ویژه هالیود خریده است

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هزینه خریدن نزدیک به ۱۰۰ میلیون دالر می شود. تبصره ((اجمل احمدی افغان نیست لبناني و برادر زاده بی بی گل می شود.))

6 - سلام رحیمي رئیس دفتر اشرف غنی در برج خلیفه دوبی خان رهایشي خریده.

7 - فضل محمود فضلي رئیس اداره امور به مبلغ ۹ میلیون یورو د کشور سویدن جدیداً یک ویلا رهایشي خریده است.

8 - حمدالله محب مشاور اشرف غنی بنام مادر زنش یک باب خانه رهایشي لوکس به ارزش ۱۲ میلیون دالر در امریکا (نیویارک) خریده است.

9 - داود نورزی رئیس برشنا، سهام یک شرکت ترانسپورتي در مسکو به ارزش ۲۵ میلیون دالر خریده .

10 - داکتر مصطفی مستور معین سابقه وزارت مالیه یک باب بلند منزل ۱۴ طبقه اي رهایشي در شهر دوبي خریده و در حال حاضر، بلند منزل را به کرایه داده و خودش در ترکیه زندگی میکند.

11 - استاد عطا محمد نور در جزیره مصنوعي دوبی آپارتمان رهایشي لوکس vip به ارزش ۱۰ میلیون دالر خریده.

12 - حیات الله حیات وزیر داخله پیشین به مبلغ ۴ میلیون دالر خانه رهایشي درقبرس خریده و سند شهروندي قبرس برای خود و فامیل را بدست آورده.

13 - حنیف اتمر وزیر خارجه سابق یک باب ویلایي ساحلی در کشور ایتالیا خریده.

14 - ویس برمک وزیر داخله سابقه یک باب ویلای رهایشي در شهر استانبول ترکیه خریده.

در مورد تعقب کسان فوق ژورنالیستان تپ و تلاش کردند، مانند اکلیل حکیمی هیچ کدام آن حاضر به انتریو نشدند.

مستند سازي آن ساده است و یا از انترپول و سیگار کمک بخواهند. دا هغه کسان دي چي د کرزي د توجه خلاف چي هغه ویل (اگر رشوت میگیرید در داخل سرمایه گذاري کنید) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخلاقي فساد
## د مالي فساد په څنګ کي اخلاقي فساد هم وده وکړه

ارګ د واک او وياړ سمبول، ملی وحدت مرکز، چې موږ به ارګ مبارک باله، دلته اخير ارګ سکس په مرکز بدل شو.
داکتر فضلي سلاکار، بيا د اداره امور مشر د ملالنډي نوم يوړ.
د قراردادو او مقرريو په څنګ کي د وکالت او د ښځو په مقرري کي په برخه کي فضل محمود فضلی، محب او اجمل غنی سکسي فعاليت څه پټه خبره نه ؤ.
حاجی محمد محقق به فضلي ته (فضلو) وايه.
د معدن وزيره نرګس نهان د افغانستان انترنشنال کی بيان کړي چې د دي فساد په هکله ئي ولسمشر ته شکايت کړي.
youtube۱۷,۱,۲۰۲۲ چې ميرمنی د مجبوريت له مخي او د خپل حيثيت او حيا په خاطر شکايت او عرض داد هم نشي کولاي.
(اوربند مجله ۲۵,۳,۱۳۹۸) ارګ د معمرالقزافی حرم سراي بولي.

مريم وردګ کانديد ولسی جرګی ته اما په ارګ کي د دوی نه تقاضا وشوه. ذکيه وردګ نه د مقرری په خاطر تقاضا تری شوي. د مثال راوړم په همدي اوني کي د انګلستان د ملکي دوهم زوي Andrew په امريکا کی په همدا ډول جنسي قضيه تورن شو، چې ملکي د خپل زوی نه پوځي رتبه واخيستل او د شاهي کورني امتياز نه محروم کړ. (نړيوال خبرونه ۱۳,۱,۲۰۲۰ ) ولی فضلي دومره ورته ګران ؤ ورځ تر بلي به لوړيدي.
اوازي تر رسوائي ورسيدي وائي مريم سما د فضلي په برکت د ۵۰ رايو ولسی جرګي ته لار وموندل.
ثريا پوپل او د اينجونو فوت بال تيم د اولمپيک مشر څارنوال اکرام باندي جنسي تيري تور ولګيدي بازخواست ونشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ولسمشر نژدي سلاکار جنرال حبيب الله احمدزي خپل د سترګو ليدلي حالت د ارګ د ملالنډي کړني رسانه ايي کړي.
(د ماندګار ورځپاڼه ۴،۳،۱۳۹۸) او (۸ صـــبح ورځپاڼه ۱،۴،۱۳۹۸)، مريم وردګ چې په ارګ کي ماموريت درلود، دا اعمال د هندي تلويزيون (wion) په مرکه کي تائيد کړي.

د ولســمشــر پخواني ســلا کار داکتر عبدالعلی محمدي هم د جنرال احمدزي پر صـداقت خپل باور څرګند کړ. خو د دي ټول سـره بازخواسـت ونه شـو. جنرال احمدزی د ريښتيا ويلو په تور څارنوالي ته ور وپيژندل شو.
د حاجی ايشچی بازخواست هم ونشو.
نيلوفر يوسفی په youtube نيټه ۲۱،۷،۲۰۲۱ تر عنوان لاندی چی در ادارات چی ميګذرد ليکي: په ارګ کي او نور و ادارات کي کار د جنســـي اړيکو په مقابل کی ورکول کيدو. هيڅ چا باز خواست ونکړ ان د هيواد د ناموس د دفاع د شـــهيد د ميرمنو نه د معاش د اجرا په مقابل کي د بی ناموســـي غوښـــتني کيدي.
هغو د خپل حيا او د کورني د پت په خاطر خوله پټه کړيوي، Gulp Media په ۱۰،۵،۲۰۲۰ .

چا چي لار نيول لکه د ډيوي پتنګ د ۷۰۰۰ دالر معاش او ۱۵۰۰ دالره د کور د کرايی په نامه او د دي د ورور پامير ۱۰۰۰۰ دالره او د محب د ميرمنی ۱۷۰۰۰ دالر معاش خپور کړيدي.

ويسا ويب پاڼه ليکي: هر ځای چی (زيبا روی) وي د فضـلي لاس به پکی وی. زه دلته د (زيبا روی) ســـره کار نلرم . مګر معمول دا دي چی معاش د کار د اجرا په مقابل کي وي، د دي دو تنو لاس ته راوړنه به څه وی.
دلته يوه مقايسه راوړم، چی د شوروی د وخت د ګورباچوف د خبريال د معاش پوښتني په مقابل کي د خپل معاش څلور زره دالره ووايه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه پوښـــتنه وکړه، چې دا لږ دي، ده وویل چې کورمي مفت، تیل مـی مفت، او تیلفون مـی مفت دي، څومره تفاوت دي فضـلـي په پیښـور کي هم داســی د قتل یو قضیه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لسم فصل
# د دوحي کنفرانس

نيابتي جګړه د پخوا په شان په شدت کي ده. امنيتي وضع خرابه، طالبان سيمي يو د بل پسې نيسي، حکومت دا تکتيکي شاتګ بولي . کله لا دا هم وائي چې فلاني ځاي مو بيرته ونيوي قطعات به محاصره کي راشي. پر وخت او زمان مرسته نه ور رسيږي. د مرميو او غذا د کمبود سره مخ دي، د جګړي د ميدانه شهيدان ژر نه راتوليږي. د جنګ روحيه سړه او انګيزه نشته . سربازان د سترو ستونزو سره مخ وو.
دي وخت کي د دوحي موضوع راتوده شوه، امريکايانو دا جګړه بی ګټي وبلل د تلو په فکر شول.

د امريکا يا د ناتو د وتلو د پاره په ظاهره د سولي په پلمه طالب چې تر پرون پوری ترهګر بلل کيدل پر يو ميز سره راټول شو. د موضوع اصل لوبغاړی بل څوک ډي نه طالب.
افغان دولت ته چانس چا ورنکړ. په هرات کي محمد اسمعيل خان، عبدالرحمن د کورنيو چارو وزارت مرستيال وايي د طالبانو لخوا محاصره او اسير شول. چې د يو تفاهم له مخي خوشي شول. خو پر عمومي روحيه يی ډير اغيز وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دوحی تړون

نه غواړم جمهوریت د سولی قرباني کړم

د ځو میاشتو تګ او راتګ او چنه او چنه بازي د جنوري پر ۲۹ کال ۲۰۲۱ د امریکا په استازیتوب داکتر زلمي خلیلزاد او د طالبانو په استازیتوب ملا عبدالغنی برادر تر منځ تړون په یو لوي مراسموکی چی د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هم حضور درلود لاس لیک شو، د تړون نه داکتر غنی حکومت د باندي پاته ؤ. تړون د طالب او امریکا تر منځ ؤ. سرکومندان په سوله باور نه ؤ خو امریکا خپله لار ونیول.
د غنی او خلیل زاد تر منځ ناندري وي، غنی نو خلیلزاد پدي تورن کړ چی ولسمشري ته کاندید دي او خلیلزاد په یو تویتر کي ورته لیکلي ؤ چی (ستا د پاره استراحت پکار دي).

طالب ۵۴۰۰ بندیان د تړون مطابق په خلاصون داکتر غنی مکلف شو.
دا طالبان د جګړي لیکو ته بیا ودانګل، یو شمیر جنایي بندیان او غټ قاچاقبران هم آزاد شول. طبعی ده چی پیسو هم به پکي رول درلود.

طالب په سیاسی او پوځي لحاظ برلاسي شو، د تړون د موادو نه لکه د شورویانو وتل یو هم دا ؤ چی بین الافغاني غونډي به کیږي، چی سوله راشي. امریکایانو په وتولو پیل وکړ طالب چه خپل زور مغروره ؤ، د حکومت لخوا بیا هم ناغیړي وي، داکتر غنی به یو ځلي خپله دوره پوره کول غوښتل . ویل زه ولس ټاکلی یم، طالبه ته ځوک یی او کله به یي سراسري ټاکنو وړاندیزي وړاندي کړ.
داکتر عبدالله د سولي د عالی شورا (چی عالی نه وه) هیڅ کاره ؤ. داکتر غنی سوله غوښتل په خپله مدیریت کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوحي د تړون يوه ماده د بين الافغانی غونډه پکی راغلي ؤ. ولسمشر ۱۵۰ کسيزه هيئت وټاکي چی ډير خپل اعتماديان پکی ځاي کړي ؤ . طالب رد کړه، چی (۱۵۰ تنه دا خو شيرينی خوري نده).

ولسمشر لار ورکه کړي ؤ نه پخپله پوهيدي او نه يی د بل اوريدل، کله کله به يی پخواني ولسمشر او استاد سياف راوغوښتل، عکسونه به يی ژر رسانه ايی شول.

سر کومندان غوښتل چی بيا هم هر څه په خپل لاس کي ونيسي چی سر کومندان اعلی پر سوله هيڅ باور نه ؤ. وخت تيروي، بياهم جرګی ته خپل کسان لکه نادر نادري، سلام رحيمي متين بيک، معصوم ستانکزي ور د ننه کړه.
د ذهنيتونو تر منځ واټن ډير ؤ د موضـــوع بل اړخ ولس په بلا تکليفي کي ژوند تيروي.
فقر او بيچاره ګی ورځ تر بلي د ولس ستوني ته فشار ورکوي.

د دي ټولو سره سرکومندان اعلی شعار دي، چی نه غواړي لکه (کارمل چی نه غوښتل انقلاب د سولي قرباني کړي) داکتر غنی هم نه غوښتل چی جمهوريت د سولی قربانی شي.
په خپل توصيف خوښ ؤ، نادر نادري د اعليحضرت امان الله خان ځای ناستي وباله.
وروسته د سرکومندان عقل کار وکړ، چی حالت نګران کونکی دي نور پخواني مجرب کسان په دولتي چاروکی د ځآن سره شريک کړي. بسم الله محمدی د دفاع وزير، ميرزاکوال د کورنيو چارو وزير پخواني پوليس عبدالرحمن رحمان د کورنيو چارو امنيتي مرستيال، وټاکي او جنرال دوستم ته مارشالی په مقام ووياړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخير حامد کرزي او داکتر عبدالله په غونډو کي د طالبانو سره د سولي په هکله د پريکړي واک ورکړه شو چی د اګست پر ١٢ مه دوحی ته لاړ شي چی د اګست ١٥ مه پر راغلل، هر څه د منځه لاړل.

وروستي ورځ سرکومندان اعلی بسم الله محمدي ته دنده ورسپارلی د دفاع په وزارت کي د ده د بيانيه د پاره تياري ونيسي هغه هلته مصروف ساتي نژدي کسان لکه د کورنيو چارو وزير د امنيت ملی مشر د دفتر مشر تري خبرندي. پر خپلو اعتماديانو هم اعتماد نلري . وزير خارجه محمد حنيف اتمر هم خبر نه. بی بی ګله ئی د محب په لاس ورکړه چی دوبی ته ورسوي دا هم ونه شول . خورشيد طوطاخيل د کابل د امنيي کومندان تر ټولو وړاندي د تيښتي لار نيولي ؤ.
ارګ ورځ نارمل نه ښکاري، مامورين ووتل امرالله صالح يوه ورځ وړاندي پنجشير ته ځان رسولي . دوهم مرستيال سرور دانش غوښتل چی د حامد کرزی هوايی ميدان ته د ارګ نه به هيلوکپټر کی ځان ورسوي، چا مرسته ورسره ونکړه .
دري پروند الوتکی چه د پرون نه دسترګو نه ليري د دل کشا د ماني په پارک کي حرکت ته چمتوي . په بيړه بی بی ګله تر لاس نيولي دوه پرکتان محب او فضلي په پسی الوتکی ته پورته شوه پر نا معلومی خوا

متين بيک او وحيد عمر چی تصادفی و ليدوته راغلي وو هم د سفر ملګري شول. سرکومندان اعلی کومندانی پريښوده د چانه ئی خدای په امانی ونکړه . د دوشنبي هوائی ميدان کی د الوتکو کوزيده اجازه ورنکړه.
مخ پر تاشکند حرکت، هلته دي بی بی ګله، محب او فضلی و ښارته يوړل شول، نورو د اګست د مياشتي په ډيره توده هوا کي بيله تشنابه او غذا ٣١ ساعته ميدان کي پاتی شول، الوتکي د کنترول او تفتيش لاندي ونيول شول تر څو د اماراتو الوتکه راورسيدل.
د سرکومندان نه د دي ورځی بيان د اوريدو دي، دي وائي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ارگ ديوالونه خلک را نژدي شـــوي ؤ، چی په بله ژبه ئي خبري کولي، د وارخطائي نه په چپلکو کي الوتکي ته پورته شو خو ۱۶۹ ميلونه دالره کوم چي سيگار وائي ياد ونکړ.
پداسی حال کي چی طالبانو د کابل ننوتلوته تياري نه درلود کله چی حامد کرزی د دي نه خبر شـو. چی ارگ کي څوک پاته ندي د گډوډي د مخ نيوي په خاطر طالب ملا عبدالسلام ضعيف ته تليفون وکړ، چی طالبان ژر د کابل اداره په لاس کي ونيسی .

غني بل ځای وائي: چی د دفاع وزارت کي ئي په کارتينرکي د ســـربازانو د جبهي شـهيدان وليدل نه غوښتل چی ويني توئي شي يا د ده هغه د ياد وتلي، چی ويل به ئي (چی زما به جنازه به د ارگ نه وزي ) خو د محب او قهار کوچی (PPS) مشـر خبره ئي ومنل وتښـتيد. په وروسـته مرکو کي د دفتر مشـر متين بيک او ســلاکار وزير وحيد عمر په تلويزونی وروســتي مرکو کي د دي ورځ حال بيان کړي.
متين بيک په داگه د ولسمشـر تيښـته او ډار د ده دا عمل کرد نه بولي، لار تري ورکه ده، کله يو څه وائي کله بل څه .
ناتو ځواکونو هم لکه نور يرغلگر گناهکار او بي گناه ووژل. تروريستان اصلاً بل ځاي وو خو دوي به د افغان کوڅو کي پلټل. بي مســـوليته هيواد پريښـــود، څوک يی يرغلگر بولي ځينو به د نجات ځواکونه بلل.

خو محمد اکرم انديشـمند هغه خپور سـوي تحليل منلو ته نژدي دي چی (اشـرف غنی) په خپله تيښته وکولاي شواي د سولي وروستي فعالان، حامد کرزی، داکتر عبداللـه، داکتر زلمی خليلزاد، ملا عبدالغني برادر، جوبـايدن، د قطر حکومت ناکامه کړي. دا ټوله د يو انجام شـــده کار ســـره مخامخ کړي او ســـوله ناکامه.
(شبکه ... اطلاعات افغاني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر دا څرګنده ده چې الوتکي يوه ورځ وړاندي د دل کشـــا د ماڼی پارک کي پارک شوي وي.
فيسـبوک چلونکي ئي په دوامداره توګه ليکي چې بيرته راځي پوښـتنه دا ده چې ولی تلي، چې بيرته راځي . فضـــلی، محب او بی بی ګله هم ترلاړه. دي يوازي پاته دي.
هڅه کوي چې خپله تيښـته توجيهه کړي کله ځان د اعليحضـرت امان الله سـر پرتله کوي چې څوک ئي نه مني.
خلک د دي اوس د اوکراين د ولسمشـر ديمتری زيلنسـکي ميړانه ته ګوري او د ده تيښتي ته .
د انار کلي هنرياري سناتوري خبره چي دي ځآن ته افغان هم وائي.

د جګړي د ميدان نه د کومندان تيښته د عسکري جزا په قانون کي ورته مجازات ټاکل شويدي.
ســـرکومندان د ۱۶۹ ميليونـه دالرو د وړولو تر تور لانـدي چی د ســـيګـار تر بررسي لاندي ده.
ملګرو ملتونو هم ســـرکومندان اعلی بی بی ګل (رولا غنی) او د بهرنيو چارو وزير محمد حنيف اتمر د خپل لست نه وايستل (outube y۲۲,۲,۲۰۲۲) . د ده تيښتي سره سم طالب واک په لاس کي ونيوي.
داکتر محمد اشرف غني احمدزي هغه کسان دي چی د ته ډيرو رايه ورکړي او د ده په کومنده قرباني ته ولاړه ده، پرډاک پريښودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدو بدو شـو غني وتشـتيد پخوانی ولسـمشـر حامد کرزی د دفاع وزير بسـم الله محمدی تـه تليفون وکړ چی د جمهوريت د دفاع په خاطر او د ګډوډی د مخنيوی د پاره پوځي حکومت اعلان او زه هم درسره ارګ ته ننوزم.
دا مطلب لوی درستيز هيبت الله عليزی هم په يوه مرکه کي تاييد کړ خو محمدي خپله دفاع ورسپارل شوی دنده پر ځای نکړه.
ان خپل زوی عنايت الله او ياور ميرزا نومی پر ميدان پريښـــودل او په خپله په بيړه د اماراتو الوتکي ته پورته شو.
داسی حال پر نورو هيوادونو کله کله راغلی يو د دفاع وزير نه تشتي مرګ منی يو قاضی القضات زمونږ سيد يوسف حليم هم وتشتيد.

## د اګست پنځلسمه ۲۰۲۱
## ((د ارګ تر هغو نه وزم تر څو جنازه مي ونه ايستل شي ))

د غني د انتقال الوتکي د افغان دولت او د ولس مال دي نه د غني، تراوســه ندی چا ســپارلی، جنرال حفيظ فيروز افشــا کړه چي د طالبانو د لومړي راتګ ســره جنرال دوستم ۱۳ باله ان ۳۲ الوتکي پر ازبکستان خرځي کړي.

د هيواد په تاريخ ډير پاچهان لکه شاه شجاع، امير حبيب الله، سردار محمد نادر خان او حبيب الله سقاو ووژل شول، همدا ډول ولس مشران سردار محمد داود، تره کي، حفيظ الله امين، نجيب او اســتاد ربانی هم ووژل شــوه. يوازي غني او ملا عمر د تيښـــتي لار غوره وبللـه. طـالب ارګ ته ننوت، دا فتح بولي چی چا مقاومت ونکړ.
طالبانو حکومت د شريعت په نامه اعلان کړ چي نوم ئي امارت اسلامي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلامي امارت

طالب حاکم شـــو، مولوي محمد ندیم د کابل والي شـــعار او اعلان کړي، چې

(د نظام مخالفین واجب القتل دي) خو نور تره کي (مخالفین مباح الدم بلل) .
ملا شیخ هیبت الله امیر المومنین شو، په کندهار کي پاته شو. پټ مخ ګرځي تر اوســه چا لیدلي ندي خو یوازي پر قدرت او فرمانو یی پیژنو. ملا محمد حســن رئیس الوزرا خبري نکوي خلـک وائي چی ګنګي دي. د حقاني ډلـه هم مخ پـټ ګرځي.
ملا عبدالغنني برادر او عبدالسلام حنفی د لومړي وزیر مرستیالان شول. د ملا محمد عمر زوي ملا یعقوب د دفاع وزیر، امیر خان متقی د بهرنیو چارو وزیر او خلیفه سراج الدین حقاني د کورنیو چارو وزیر.
همدا ډول د مرکز او ولایاتو چوکی ملا، مولوي او شیخ تر منځ وویشل شوي، د حقاني د شبکي برخه درنده ده.

باقی حقاني، خلیل حقانی او انس حقاني ته د دوي په خوښه مقامونه رسیدلي دي. پهلوان شـمس الدین شـریعتي لوي څارنوال، لوي شــمیر لوړ پوړي چارواکي د حقاني د مدرسي د فراغت ویاړ لري عبدالحکیم حقاني قاضي القضات شو.

باقی حقانی د لوړو زده کړو وزیر پوهنتون فحشـــاخـانـه بولي، زما د پوهنتون مشران لکه داکتر علی احمد پوپل، داکتر صمد حامد، پوهاند اصغر خان، داکتر عبدالستار سیرت، وفی الله سمیعي، او موسی شفیق د هیواد معماران را یاد شي. ملا عبدالحق حماد د تانند په ویب ســـایت کي نیټه ۱۹٫۳٫۲۰۲۲ په کابل کي د ۴۰۰ فحشـــاخانو بیان وکړ، زه وایم نه ۴۰۰ یوازي پوره نه وي څه کمي طالب چی روغتون، مسجد، ښونځي او پوهنتون کي انتحار کاوه ولي په فحشاخانوکي دا کار ونکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني طالبان د چوکي ويش عادلانه نه بولي کومه پريکړه د دوي په بيان چی د حاجی عطا محمد او داکتر ميرويس په کور کي شوي وه هغه ميلمه چی ورغلي، موضوع بل ډول شوه. پوه نه يم چی د ميلمه نه ئي مطلب د ISI د کوم مشر نه دي.

طالب د نوروز او عاشورا د ورځو رخصتي د جنتري ووهل، پدي ډول ئي د کلتور او دين سره يو ځلي بيا دښمني څرګنده کړه.

د خلکو د هيلو خلاف په طالبانو کي بدلون نه ؤ راغلي.او ځان ئی فاتح بللی. جمهوريت په امارت بدل کړ، ملی بيرغ د منځه يوړ، ملی شورا، اساسي قانون، د اساسي قانون د څار کميسون، شورای ملی صلح، شورای امنيت ملی، د پارلماني اړيکو وزارت د ديموکراسي بنسټيزي موسسي او نوري اداره ټغر ټول شو. مړي د قبرونو راويستل شوه. ګوندونه لغوه، د مطبوعاتو او بيان ازادي له منځه لاړل.

طالب به چانته کي څه نه لري، اوږده ږيره او حجاب د اختناق او رواني شکنجه په وسيله کار اخلي، هدف دي چی افغاني غرور مات شي شريعت يوه پلمه چی دي پخپله هم نه په پوهيږي.

عبدالرحيم روغاني وائي.

فضا د نن چی روماني وليده
ايله چی ژوند کي اساني وليده

کافره! شکر به په کفر وکړي
که دي د نن مسلماني وليده

افراطيت په شدت څرګند دي، ملا فاضل مظلوم په امر د هر عدالت نه بيل د تلاشي په پلمه طالبان د خلکو په کورو ورننوزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کورو کي اينجوني خوښــوي، ســبا جرګه ورليږي، د کور تلاشـــي نه روس وکړه او نه امريکا.
د هيواد نه تعليم يافته فرار شـدت وموومي، څوک د کورني، څوک مجرد د تښـتي لار غوره کړه.
نيول او وژني کله کله دلته، کله هلته اوريدل کيدي.
طالبان مړي د قبرو را وايستل، احمدشـاه مسعود او عبدالعلي مزاري قبر ويران شـو کورونه اشـغال پيل شـو. د محمدی کور، د سـالنګي کور، د امرالله صـالح کور، د جنرال دوستم او نور کورنه قبضه شول. د غنی په کورکي متقی واړول، په ارګ ملا برادر، ملا حسن او د حقانيانو هم ونيوي.

ځان وژنه د نفس قتل دي، په قانون او شـريعيت کي سـزا تاکل شـويده او اخيرت کي دوزخ.
امير المومنين هيبت الله د خپل زوی خالد چه پدی اندازه پکی اسـلام پمپ شـوي ؤ، چی اخير کي انتحاري وکړه، (هلمند) د خپل زوی قبر ته ورغلي.

وائي نيت مى يو وخت په مولوي صـــاحب پســـى تړي ؤ، د وروســـتي قاعدي په اخير کي مولوي سجده سـهوه وکړه د لمانځه وروسـته يوه سـړي تپوس وکړ چی مولوي صـاحب په لمانځه کي دي کومه اشـتباه وکړه، ده جواب ورکړ هير مي ؤ اودس مي نه درلود.

د ولس د بدلون هيلی په نا هيلي واوښـتي، صحرايی محکمی د پخوا په شان دوام پيدا کړ، د ولس هغـه هم پـه يـاد دي چی پـه تـاکنو کي د خپل حق د کارو په ګناه رنـګ شوي ګوته غوڅول.

شـيخ خالد وائي چی خلک د امر باالمعروف سـره حسـاسـيت لري، حسـاسـيت نه نفرت لري، ولس تر يو دوامداره رواونـي شکنجي لاندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استـــتاد ســـیاف په یو طنز د طالبان وغوبښـــتل چی اوس هم د انتحاري روزنځاي فعال دي که وتړل شو. (تانند ۱۵,۱,۲۰۲۲)

طالب خدماتو ته پام نشـــته، خلک ګردي (پښـــتورګی) او ماشـــومان خرڅوي. د لوږي مري، طالب د چا پروا نه لري خپلی پروژي مخ ته وړي.

تلاشی وخت کي که کورکي څوک نه ؤ دروازي او الماري ماتوي، مطلب طالب خپل زور په نمایش ایښـــــی، دلایل او عرض داد په مقابل کي د امریکائي ټاپه وربانديي وهي.

طالب پدي اندازه جدي او بي پروا دي، چی ان د اغا جان معتصـــم، د ملا محمد عمر د مالیی وزیر د کوره هم د هغه شخصـــي موټر تري یوړو. ملا محمد حسن هم لکه لوی ملا خوبونه ګوري چی پیغمبر ص په خوب کي ورته د ملا برادر د شخصي ګټو نه سر ټکولی وو. (تانند ارغندیوال ۲۸,۱۲,۲۰۲۱)

د ملا محمد حســن هم پښــه به هم خپله پایڅه کي بنده وي، طالب ورور او خلقي ملګري کورني مشروعیت ئي کمبود دي د غصب د لاري واک ته رسیدلي وو. نړیوالو هم دواړه رژیمونـه پـه رســــمیت و نـه پیژنـدل، طـالـب خپل هر عمل ته شـرعي پرتوګ وراغوسـتي خو د ولس تعریف بل دي. دعلم بی خبره، د نزاکت نه لیري، د ښـاري ژوند سـره نابلده، اهلي ندي پر افغان ولس مسـلط شـول چی وائي :

د نړیوال بشري حقوق د څار سازمان په حواله د طالبانو په دي لنډ موده کي ۱۳ زره تنه ماشومان د خوار څواکي او لوږي نه مړه شول.

د حقاني شـبکي په نامه یاد ډله چی د نیابتي جګړي لویه برخه دي شـبکي مخ ته وړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا جلال الدين حقاني د هغي مدرســـي د فراغت وياړ درلود چې ملی او بين المللی ذهنيت کي د ترهګرو روزنځای بولي
د دي شبکي طالب پر غم او ښادي بريد کاوه.

د کنړ يو تنکي ځوان سليمان نومي د خپل ورور د واده په خاطر پر موتر سايکل د تايپ موزيک اوريدي طالب ووژي، چې دا به هم د باالمعروف د وزير شـــيخ خالد امر ؤ.
ايا موسـيقي دومره دروند جرم دي، چې مجازات ئي اعدام دي، سـزا بايد د جرم په تناسب وي آيا د شيخ پر مور به سندري نه وي بلل شوي. (تانند ۳,۳,۲۰۲۲ ) ويب سايت
امرباالمعروف يوه طالبانی اختراع ده، که مطلب د ديني لارښـوونو نه وي، دا د وزارت حج او ارشـــاد دنده او د مســـجد د امام، که د جرمي اعمالو د مخنوي او عدلی تعقيب نه وي، څارنوالي او قضا ده .
د هيواد د نيم نفوس د علم او زده کړي سره
۱ـ تر ټولو اميرالمومنين هيبت الله اخوندزاده.
۲ـ ملا محمد حسن اخوند رئيس الوزرا.
۳ـ مولوي عبدالحکيم حقاني قاضي القضات.
۴ـ نور محمد ثاقب د حج وزير.
۵ـ فريدالدين محمود د علومو د اکادمي مشر مخالفت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طالبانی شريعيت

طالب شريعيت، شريعيت يادوي نړي ورته حيرانه ده. د مصري شيخ محمد عبده د سـيد جمال الدين افغاني شـاگرد نظر ورکړي چی هر فتوا د پاره د تمدن و پرمختگ او موجوده مخ کي پرتي ستونزي اجتهاد ورته اړين دي.
دا هم زياتوي چی شريعيت د انسانانو د مصالحو د پاره دي.

شا ولي الله دهلوي بيا وائی :
چی د احکامو ظاهروته کتل نه بلکه هدف په پام کی ونيول شي.

نور علما هم دا وائی چی شـريعيت د قانون سـره شـباهت لري خو قانون ندي، ولي چی جهاني وجيبه ئي کمه ده .
(د افغان په شبکه رساني ۸,۸,۱۴۰۰)

د تانند ويب سـايت د ۲۷,۱۰,۲۰۲۱ نيتي (انا لله و انا اليه راجعون) تر عنوان لاندي مضمون هغه مطلب راوړم چی په اخير کي ليکلی ؤ.
**((که ئي څوک منی یا نه د طالب لمسـيان يا کوديان به د خپل نيکه قبر پيدا او پري ميتازي به کړي))**، طالب زړه سوي نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پاک د ستراتيژۍ عمق

د روسي يرغل سره افغان د بل ليوه خولي ته ولويد. د هيواد اقتصاد، امنيت او سياست د ګاونډي سره پيوند لري دو نيم زره کيلو متر ګډ سرحد، ۵-۶ ميليونو مهاجر د جهاد او مقاومت مرکز او د ۵۰ ميليونو پښتانه په پاکستان کي د پيوند مهم ټکي دي.

پاکستان کله د زغم سياست او کله تعرضي سياست غوره کړي، د افغانستان پلوي د پښتنو او بلوڅو د حقوق په هکله د پاکستان دښمني را پاروي، کله کله حرص هم راپورته شي د ګټو په پام کي شي، منځني آسيا ته ترانزيت غواړي. هغه چې وائی (زه پور غواړم ته نوري غواړي) زموږ تر اټک دعوا لرو، پنجاب د کنړ د رود حقابه غواړي.
د هند سره د افغان تاريخي او کلتوري ښه اړيکو ديده نلری. هڅه کوي چی د کشمير په لانجه کي افغان هم طرف کړي.
د کراچي د ديمرج له افغانان په ميليونو خساري متحمل شويدي.
د افغان د حاصلاتو وخت کي د تازه ميو پر مخ تورخم او سپين بلدک وتړي. په هر ډول پټه او لوڅه دښمني لاس وهي.

افغان يو نا اعلان شوي اقتصادي محاصره کي راوستي او د اوسني حالت په بنا تخريب او نا اعلان شوی جګړو د سياسي جګړه په ډول پيل کړيده.

شف شف لري په کنايه او رمز کي به ډيره بی حيايی د (عمق ستراتيژي) هدف تر خولي ځيني ووزي.
ستراتيژي غټه مانا لري، کله د کانفدريشن بحث وکړي، يا لکه د بهرنيو چارو وزير قريشي د افغانستان د معضلی حل د کشمير د شخړي سره پيوند ورکړي.
کله د کليدي ادارو د مشرانو په ټاکلو کي خپله سلا ضروري بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالب لکه د قطعو (توس) په لاس کي لري. د هيواد د حالت په حساسيت په پام کي نيولو سره په اصطلاح تر خوړ ګوته نيولي. هڅه لري چی د امير عبدالرحمن خان اشتباه د نورو مشرانو هم تائيد واخلي.

چی دا امير المومنين ملا محمد عمر و نصير الله بابر ته د رد ځواب ورکړ. ډيورند لر و بر دواړه خواته د منلو نده.
پاکستان افغان مجاهدينو ته غيږ پرانيستی ؤ، جنرال ضياالحق پاکستان د افغانانو دوهم کور وباله خو دا بسنده ندي اوس تفاهم، متقابله احترام د اعتماد په فضا کډو ګټو په پام کي نيول پکار دي.

## نيابتي جګړه

(کابل بايد اورکي وسوځل شي) د ISI مشر اختر عبدالرحمن، ګاونډی د خپل شومو اهدافو د پاره نيابتي جګړه جاري ساتلي دا ټولو بشري، نړيوالو موازينو او د ګاونډيتوب د اصولو خلاف، او اسلامي ورورګلوي په ضد نا اعلان شوي جګړه د شلو کالو راپدي خوا پر افغان ولس وتپله.

عرب، چيچينان، اويغوری مبارزين، پاکستاني اوريکزي، القاعده، داعش، حزب تحرير، جيش محمد او دين پرسته جاهل طالب تنظيم کړي د افغان د نا آرامي د پاره راوليږل. دا شومه ناولي جګړي اهداف د چانه پټ ندي. روزنکي ئي معلوم دي.
پنجابي شعار دي (کابل بايد وسوځل شي).
ISI دنده لري ترهګر راټول، تريننګ، مجهز او نقشه او هدف ورکړي.
امريکائي ....... ke MullenMi د حقاني شبکه د ISI اجنسي بولي
https://www.bbc.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي جګړه کي هغه کسان وژل کيږي چی يو بل نه پيژني هغه يو بل چی سره پيژني هغه نه وژني . دا کسان که څه هم افغان دي بی غيرته د ځان وژني د پاره د ښځو کالي په واغوندي.
په تانند کي د اپريل کال ۲۰۲۲ د خليفه سراج الدين حقاني بيانيه او اقرار خپور شوي. (چی د جنوری ۲۰ مه کال ۲۰۱۸ پر کانتيننتال هوتل بريد مشري د رسول الله تر نظر لاندي بولي چی ۴۲ تنه ملکيان پکی شهيدان شول.
په حقيقت کي عمليات د ISI د اداره پر غاړه ؤ، نه د حضرت پيغمبر په غاړه .

ISI هغه اداره ده چی په کال ۱۹۴۸ د يو استراليائي انګليس جنرال رابرت لخوا جوړه او لس کاله ئی په سر کي ؤ. خليفه دا هم زياتوي چی رسول د خداي د هوتل مخامخ کي ناست ؤ د جنت خطونه ئي ويشل. دي پردي لا پوه ندي چی د خداي رسول سواد نه درلود.
په همدي شپه د امريکا نه راغلي د عبدالمجيد زابلی ثريا يوه سياسره په الماري کي پټه تر اور لاندي کړه . د امربالمعروف وزير خالد الحنفی د ۱۵۰۰ انتحاري وياړ اعتراف وکړ او دا عمل اشتهاد بولي (تانند ۲۱،۲،۲۲)

د طالب په واکمني کي د بشري حقوق د څار سازمان په حواله تراوسه ۳ زره تنه ماشومان د خوار خواکی او لوږي له کبله مړه شويدي.
او دا هم زياتوي چی د ورځي ۱۷۰ تنه د همدي تکليف نه مړه کيږي.
او د ۲۳ ميليونو نفوس د همدي ستونزي سره مخامخ بولي.
دا احصائيه او راپور له مخي طالباني رژيم ناکامه دي. امير المومنين هيبت الله د خدماتو به فکر کی نه دي؟
دا نيابتي جګړه نوره د چانه پټه نده چی د اکوړه ختک د حقاني د مدرسي پيدا وار او توليدات دي.
دوهم واکمني کي هم ۸ وزيران د همدي مدرسي نه دي. د حقاني شبکه په ترهګري کی غټ شهرت لري او د هند د ديوبند د مدرسي کوپی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وائي چی د حقاني مدرســـي د ISI يوه څانګه ده، چی د تروريزم د پاره پکی شاګردان روزل کيږي د دي مدرسـي مشر سمع الحق دي، چی په ۲۰۱۸ کي ترور شـو. اوس ئي زوي حامد الحق حقاني د دي مدرســي مشــر شــو(تانند ۳۰,۷,۲۰۲۱ ) مولانا سمع الحق د پاکستان د مشرانو جرګی غړيتوب درلود.

د ځان وژولو په څنګ کي دي سـياسـی جګړي نور جنګي تکتيکو نه لکه، انفجار، د بندو، پلونو او لارو خرابول، خلک برمته نيول، صـحرائی محکمه په نامه وژل، اور اچول، تهديد، ښـونځي تړل، جزيه غوښـتل، د طالب په پکر دا ټوله جنايت جهاد بلل دي.

د اروپا د اتحادي مشره (اورزلا) د جهاد د هيواد د خرابي په هدف بولي، د وژلو او ترور سريال دوام درلود .
طالب د ولس د ذهنيت خلاف حرکت کی دي . دا هم وائي چی طالب د پنجاب بل نوم دي. طالب وژنو ته دوام ورکړ او ولس تر رواني شـکنجي لاندي وخواري ژوند تيروي.

او دا سـريال دوام لري . داکتر اياز نيازي د وزير اکبرخان مسـجد امام جنرال داود داود، وحيد مژده، يما سياوش، ملک زرين ، نعمت الله روان، دواخان مينه پال احمدولی کرزي، حشـمت کرزي، اسـتاد عزيز احمد پنجشـيري، فرشـته کوهستاني، يوسف رشيد، ارسلا رحماني سناتور، جنرال داود داود، حاجی قدير د فوايد عامي وزير، حاجی زمان د ننګرهار کومندان، کومندان سـيد خيلي، کومندان اکرام خاکريزوال، کومندان خان محمد مجاهد، حيدر حميدي، جنرال داود صـالحي، کومندان رازق اڅکزي، کومندان مطيع الله، انجنير عمر د کندز والی، قاري بابا، د غزني جهادي کومندان جان محمد د روزګان والي هاشـم وطنوال وکيل د لوګر والي، عبدالله خان وردګ، شـيرولی وردګ، د امرالله صـالح او بسم الله محمدی پرکورونو بريدونه، اسدالله خالد د امنيت ملی مشـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



برید جاپاني داکتر (تيڅو ناکامورا) د خلکو د احساساتو خلاف داکتر په جلال آباد کی د ۴,۱۲,۲۰۱۹ وژل شو.
دا یوه نمونه او یو مثال دي.

څومره انسانیت کي توپير دي يو څوک د خپل ښکلي هيواد او لوړ مدنيت او سوکاله ژوند نه تيري د بل محتاج اړين ژوند د پاره په کړاوکي شپي تیروي د بشري خدمت په ګنا ترورېږي.

آصف بهاند خپل احساسات په تانند کي د عطائي ملا رانقل شوي شعر رانقل کړم.
(داکتر نا کومارا ) په افغانانو کاکا مراد باله.

اکا مراد، دي ژوندي وي - روح دي ښاد کور دي رضوان وي.

تا کنږ څه له ایسار کړ - دا خو باج د تور لینګو ؤ

باید د کاکا مراد په نامه د يو ځاي ونومول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلقی او طالب لنډه مقایسه

استعمار، تور او سور یو دي.

| | |
|---|---|
| د خلقی بریتونه خوښ ؤ | طالب اوږده ږیره |
| خلقي په شمالی ګاونډ وابسته | طالب په جنوبي ګاونډي |
| شمالی ګاونډي جنوب خواته زور ؤ. | جنوب د شمال خواته زور وهي |
| خلقي نظام چا په رسمیت ونه پیژند | طالب هم په انزوا کي دي |
| طالب په دینداري کی افراط | خلقي په بی دیني کی افراط |
| خلقي برقي دنده درلوده | طالب کیبل |
| خلقي د مځکي پر سر جنت جوړاوه | طالب د مځکي پر سر دوزخ |
| خلقي اداره په لاس کي | طالب د ISI رسمی څانګه ؤ |
| خلقی خاد درلود | طالب امر باالمعروف |
| خلقي انقلابی محکمه درلوده | طالب صحرایی محکمه |
| خلقي کرامت انساني رعایت نه کاوه | طالب حقوق بشر نه پیژني |
| خلقي د کمونیزم په جهان بیني کي ډوب ؤ | طالب اســلامي جهان بیني پیرو دي |
| خلقي ښنګ ته روسی سلا کاران ناست وو | طالب ته پنجابي |
| خلقي ته جنبشي پیسی چاپیدي | طالب ته پاکســتان نوی پیســی راباسي |
| د خلقي دفاع شوروي کول | د طالب په دفاع پنجاب ولاړ دي |

طالب مي یوه سترګه او خلقي مي بله سترګه چی افغان وي.

خلقیانو د BBC, VOA رادیو اوریدل جرم باله امربالمعروف هم همدا امر وکړ.

تانند ۲۷,۳,۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالغفور ليوال وائی :

دا ته څوک يی چی د ښامار سره جنګيږي
لکه تندر راپريوتي پر نهنګ يي

د ميرويس او ستر احمد سره دي څه دي
چی لوي قام دي بيا په شور دي را ايستلي

خامخا دي له خوشحال سره خپلوي شته
بايزيد غوندی دي روح کي روښنائي شته

کابل جنوری کال ۲۰۲۲

د پيښـــو او کســـانو د تاريخ قضـــاوت دي پرځاي وي، د خلکو ياددښـــتونه او غوښتني بسنده ندي.
د عبرت د پاره د مسؤلو کسانو محکمي ميزته دريدل اصل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**